

(ناول)

# مدهوش

لیکواله: آزیتا هاشمی زاده

ژباڕنه: دسکوت هینداره

- ناول : مدهوش
- لیکواله : آزیتا هاشمي زاده
- ژباړنه : دسکوت هېنداره
- ژبه : پښتو
- کال : 2026

[بِسْمِ اللَّـهِ الرَّحْمَـٰنِ الرَّحِيمِ]

"مدهوش" یوه فارسي کلمه ده چې له عربي کلمې د "دهش" څخه اخیستل شوې ده، او معنا یې؛ حیران، مبهوت له ځانه بې خبره او د شدید احساس تر اغېز لاندې کس ته ویل کېږي.

***

د پسرلی په ورځو کې واوره ورېدله، او ټاکل شوې وه چې د یوې ساده انجلۍ د کوژدې مراسم ترسره شي.

اوس کېدای شی ووایي: پسرلی او واوره؟! دا څنګه کېدای شي.

باید ووایم چې هو، امکان لري. کله چې د پسرلی نرم نسیم هغو ونو سره ولګېږي چې غوټۍ یې کړې وي، پابه غوټیو ته پرواز ورکوي او د پسرلی واوره جوړوي.

-ژُخشانې د خپلې کوژدې وروستي او د اړتیا وړ شیان په خپله غېږه کې راټول کړل او خپلې مور پسې له کوره ووته.

د انګړ دروازه یې خلاصه کړه، د سپین ګلپوش سره مخامخ شوه کوم چې یې مخې ته ولاړ و، خو حتی دې موټر هم داسې څه ونه کړل چې ژُخشانه دې کوم ځانګړی احساس پیدا کړي.

د کوژدې مراسم یې د یو عادي محفل پشان په ښکاربدل، او لامل نه کېده چې د هغه محفل د حضور لپاره دې کوم خاص تدابیر ونیسي.

د لومړي ځل لپاره یې په خپل ذهن کې د جشن او خوشحالۍ په اړه هېڅ څه هم نه لرل، کېدای شي ځکه چې د خپلې  کوژدې مراسم یې وو.

د خپلې څېرې انعکاس د موټر په شیشه کې وکوت او ویې ویل: چا به فکر کاوه چې زه به د خپلې کوژدې په ورځ دومره بې احساس اوسم!؟

که نور څه نه وي ټاکل شوې ده زما د کوژدې مراسم ترسره شي؛ نه استرس، نه وېره او نه زره هومره خوښي...

-لاس مې وړاندې کړ او د موټر دستګیر مې خپلې خواته راکش کړ، ترڅو د شاته سیټ دروازه خلاصه کړم.

خپله چپه پښه مې پورته کړه او په موټر کې مې کېښوده، سر مې پورته کړ او وحید سره سترګې په سترګې شوم.

د شالید له هېنداري څخه یې ماته راکتل، نیوهېږم ولې خو په زړه کې مې د کمۍ احساس وکړ، او له شرم څخه سر ښکته کړ او په ټیټ غږ مې وویل: سلام...

په ځواب کې یې وویل: علیکم السلام، ښه یې؟

غوښتل مې پوښتنې ته یې ځواب ووایم، او د خپل نه چندان ښه حالت په اړه ورته یو څه ووایم؛ خو همدا چې خوله مې خبرو ته جوړوله نو مور مې زما څنګ ته کښېناسته او ما هم د سکوت مهر په خپلو شونډو کېښوده.

هېڅکله مې دا جرئت نه دی کړی چې د مور په مخ کې خبرې وکړم، یا د کوم څه باره کې خپل شخصی نظر ورکړم.

کېدای شي احترام یا وېرې له امله؛ کوم چې هېڅکله یې دا اجازه نه راکوله آزادې خبرې وکړم.

د وحید خور زما مخامخ څوکۍ کې ناسته وه او ویې ویل: که مورې هم د خپلو خبرو لایق ګڼئ نو باید ووایم چې سلام! زه هم په موټر کې شتون لرم.

سر مې پورته کړ او ومې ویل : نه ګرانې، ته ولې داسي فکر کوي؟ زما بښخي تاسو ته پام نشو، او دا چې تاسو داسي احساس کړی چې زه تاسو ته بې احترامي کوم، نو زه بښنه غواړم.

د سترګو په څرخولو او د خولې په کږولو سره یې وویل: توبه یعنی خپل کوژدن دې ولېده او زه دې ونه لېدم؟ هیله کوم ما دومره هم احمقه مه ګڼه.

وحید وویل: نه رشمه جانې! زما پام و. سر یې بښخي پورته نه کړ، ترڅو تاته یې پام شي. غوره به دا وي چې نور دې بحث ته لمن مه وهئ؛ لاړ به شو، ترڅو په وخت محفل ته ورسېږو.

-ژُخشانې په خپل زړه کې به ځان سره 99 فیصده خبرې درلودې، او سخت یې کولای شول چې خپلې اندرور سره مقابله وکړي. خو... د تل پشان یې خپل سر د اوږو په منځ پټ کړ او د ځان د دفاع لپاره یې هېڅ ونه ویل.

-د موټر په حرکت سره مې نیم نظر خپلې مور خواته واچاوه، خو د غوټه شویو وریځو څخه یې معلومه وه، چې ټاکل شوې نه ده چې دا بحث په همدې ساده ګۍ سره ختم شی؛  یا شاید زړه یې له کوم بل ځای څخه ډک وي، څه پوه شم هغې هېڅکله له ماسره خبرې نه کولې ترڅو په درد یې پوه شم.

اوس ولې باید دا سلام دومره اړین وي؟ که په ټول عمر کې یو ځل د هغه څه خلاف فکر وکړي چې ویني، اسمان خو پر ځمکه نه راپرېوځي.

له څو دقیقو وروسته، چې نیوهېږم څنګه تېرې ورسېدو هغه ځای ته چې ټاکلې شوې وه زه د محفل

لپاره پکې جوړه شم.

نیوهېږم چې ولې، د آریشګاه په لېدو سره مې مسکا په شونډو کښېناسته او په خوشحالۍ سره مې ځای په ځای قدمونه واخېسته.

ننوتلو سره یوه ښځه د هرکلي لپاره راغله او ویې ویل : ښه راغلاست! که څه هم ناوخته، خو خوشحاله شوم پخیر راغلي. ناوې څوک ده؟

مور مې په لاس زما لوري ته اشاره وکړه او ویې ویل: لور مې، رُخشانه ناوې ده. یو ډېر ساده آرایش مو په کار دی، داسي نه چې ښېخي ونه پېژاندل شي.

آرایشګرۍ په لوړ آواز وخندل او ویې ویل:  ترور جانې!   دومره هم مهارت نه لرم چې د چا څېره په پوره توګه بدله کړم! بیا هم موږ موډولونه لرو چې کولای شئ انتخاب یې کړئ. البته باید څو ورځې مخکې راغلي وئ او ټاکلي مو وای، خو اوس هم کومه

خبره نه ده؛ زه هر وخت چمتو یم. که څه هم ستاسو لور ښکلې ده او آرایش ته ضرورت نه لري خو زه به مې خپله هڅه وکړم.

-د هغو کلیوالو انجونو پشان چې تازه ښار ته راغلې وي، دیوالونه او عکسونه مې د نظر لاندې نیولي وو، زما پام د هغې ښځې په وروستیو کلماتو ته جلب شو "ستاسو لور ښکلې ده."

د هغې ښځې په ستاینه، کومه چې ما هېڅکله نه وه لېدلې دومره خوشحاله شوم چې د یوې شېبې لپاره مې فکر وکړ چې په هوا کې یم.

یوه لویه هېنداره مې تر څنګ وه. تاو شوم او خپل ځان مې په هېندارې کې اندازه کړ، یوه ژوره مسکا مې خپلې څېرې ته وکړه او ومې ویل: عجیبه ده، نو اینجانب ښکلې وه او زه بې خبره...!

-ژُخشانې چې تر ننه پورې د خپلې ستاینې په اړه څه نه وو اورېدلي، نو د ناپېژانده ښځې په څو توصیف آمیزه خبرو باندې دومره خوشحاله شوه چې تا به ویل دا مسکا یې د زړه له تله راوتلې.

د ټولنېزو خلکو سره ګډېدونکې  او ساده انجلۍ وه؛ کولای دې شول چې په یو دوو جانانه تعریفونو سره یې د تاثیر لاندې راولې.

فکر کوم قانون د ژُخشانې په څېر کسانو د ساتنې لپاره جوړ شوی، ترڅو کوم څوک یې د ساده والي او پاکو احساساتو څخه ناسمه ګټه وانخلي.

-د رشمې د لاس په اشارې سره د هغې خواته ورغلم. یو کریمي بلوز یې راته راوړی و. یو ساده بلوز چې اوږده لستوڼي ګرده او اوږده غاړه یې درلوده.

رشمې وویل:  باید کالي دي بدل کړئ. اول دا واغونده، څکه ستا د کوزدې د کالیو غاړه ډېره لویه ده نه غواړم

چې بدن دې ولېدل شي.

بلوز مې را واخیسته او د میز په سر مې کېښوده. آریشګاه تشه وه، ما هم خپله لمن له دوارو خواو څخه په داسي حالت کې ونیوله لکه غوارم چې خپل ځان په غېږ کې ونیسم. لمن مې ونیوله او پورته خواته مې کش کړه، ترڅو بلوز واغوندم.

د هغې څوکۍ په سر کښېناستم کومه چې آرایشګرې راته ښودلې وه او خپل ځان مې په پورته توګه هغې ته وسپاره، ترڅو وګورم چې له مانه څه جوړوي.

د آرایش کولو لومړۍ تجربه مې وه او احساس مې کاوه لکه وینه چې مې په رګونو کې نڅا کوي. یوه شېبه مې هم آرام او قرار نه درلوده.

د میکپ وهل یې زما پر مخ شروع کړل، او نشم کولای د خاربښت او سوځېدو کیسه بیان کړم... تر اوسه مې د

میکپ له سامان څخه ګټه نه وه اخیستي همدا وو چې زه يې د جنون تر مرزه رسولم.

او د قضیې ترټولو بده برخه دا وه چې نه مې شول کولای مخ مې وګروم، یا يې د سوخت د آرامه کولو لپاره کوم کار وکړم.

زه په آرایش نپوهېدم. د لاینر او مصنوعی باڼوګانو په کېښودو سره تازه پوه شوم چې تر کومې اندازې شوې چې عذاب وباسم. اوس د مخ د سوځېدو سره سره، مې سترګو هم په سوځېدو پیل وکړ.

له آرایش د بشپړلو وروسته، البته چې زما عمر يې نیمایي ته رسولی و؛ سترګې مې خلاصې کړې د خپلې څېرې په لېدو سره مې وحشت وکړ.

څو ځلې مې سترګې بندې او خلاصې کړې، ترڅو په هېنداري کې ولاړ کس په واضح توګه ووینم.

دا ریښتیا هم زه یم؟

آرایشګرۍ په مسخرې سره وویل: نه دا زه یم...

ومې ویل: نه نه ګوره، نشم کولای چې په دې څېرې سره په محفل کې حضور پیدا کړم. خیر دی دا پاک کړئ هیله کوم!

دا انسان ځوک دی اوس زه...

رشمه د خپلو ویښتانو په رمنځولو په حال کې، زما خواته راغله او ویې ویل: ښه، نو څه ستونزه لري؟

ومې ویل: نه، ښه نه دی. زما سترګو ته وګوره؛ د آفتاب پرست ګل پشان شوې. دا مصنوعی باڼوګان اضافه دي.

مور مې وویل: بس کړه انجلۍ! کله چې رشمه ستا له آرایش څخه راضې ده، نو سم دی. مګم ته په آرایش باندي پوهېږي؟

-هماغه دوه لنډې وېښتې بس وې چې ږخشانه ځان راټول کړي او د ارایشګاه د څوکۍ په منځ کې یې پټه کړي. مخ یې له شرمه سور شوی و او ګوتې یې په خپل لاس کې کلکې راټولې کړې وې.

خو هغې هېڅکله د خپلې مور پر وړاندې بې ادبي نه وه کړې، چې د کوم شي په اړه اعتراض وکړي.

له ځان سره یې وویل: اړینه نه ده چې د کوم د پوهېدو لپاره یې علم ولري؛ خپله پوهېږم چې دا آرایش زما لپاره مناسب نه دی.

رشمې وویل: پورته شه، ترڅو د کالیو په اغوستلو کې درسره مرسته وکړم.

-د څوکۍ له لاستو څخه مې ونیول او ښکته ترې شوم. طلایي رنګه کالي یې راته راوړي و چې په اغوستلو سره په منځ کې یې ورکه شوم. دا کالي زما دوه برابره کس لپاره جوړ شوي و.

ځانته مې د هستۍ تر ټولو احمقه انسان فکر کاوه. آخر څوک داسې کالي اغوندي؟

کالي مې د ملا د دوارو خواو څخه  ونیول او ومې ویل: وګوره، زما دې بلې خواته بل کس هم ځای کېږي؛ دا کالي ډېر غټ دي...

رشمې وویل: کومه خبره نه ده، فایف پکې نیسو.  ما له ځان سره تار او ستنه راوړې ده.

د ګونډو ښځو پشان مې ځانته کتل، او رشمه د کالیو په تنګولو بوخته وه.

د کالیو د تنګولو وروسته یې زما په سر سپین پوښي واچاوه، له لاس څخه یې ونیولم او د خروجی دروازې په لورې یې روانه کړم.

-د رُخشانې ظاهري حالت تر ډېره د صحرایي خیمو په شان و، نه د ناوې. د کالیو لمنه د رُخشانې له قد څخه

لس ثانتي اوږده وه او د هر قدم په کېښودو سره يې
بايد لمن په خپلو لاسونو کې نيولې وای.

-خدای خدای، مې کول چې اوس ددې کاليو سره
سجده ونه کړم.

کله چې د ارايشګاه له لومړۍ زينې راکښته شوم، په
دويمه زينه کې مې پښه په يوه شي ونښته او تعادل
مې له لاسه ورکړ. د مخې هېڅ شی مې نه شو ليدلی.
د لوېدو په وروستۍ شېبه کې مې وويل:
له دې نه ښه کېدای نه شول، د نامزادۍ جامې مې هم
بدرګه شوې.

چې د کوم چا لاس مې د خپلې ملا په شاوخوا کې
احساس کړ، زه د خپل ځان خواته کش کړم او ويې
ويل: اوس څه جبر و چې ددې کاليو سره مو دا پوڼې
هم پرې اچولی او هغه هم دومره غټ؟

د وحید د غږ په اورېدو سره مې په بدن باندې لړزه راغله. نېوهېږم دا څه احساس و، خو د شرم پرته یو بل احساس مې هم درلوده چې په پوره توګه راته ناآشنا و.

د نانځکې په څېر یې زه له زینو څخه راښکته کړم، موټر ته نږدې په ځمکه کېښودم او د دروازې یې راته خلاصه کړه.

په دوارو لاسونو مې لمنه ونیوله او پورته مې کړه، ترڅو موټر ته پورته شم؛ خو لمن دومره لویه وه چې نه کېده.

وحید وویل: زما خواته را تاو شه.

تاو شوم او د پوښې له کوچنیو بافتونو څخه مې د هغه مخ ته کتل، او په تمه وم چې غوارې څه وکړې.

هېڅکله مې وحید دومره نړېدې ځانته نه و لېدلی. اوس دومره نړېدې و چې ساګانې یې زما په مخ لګېدې او په بدن مې لړزه راتله.

له ملا څخه یې ونیولم او په موټر کې یې تقریباً کېښودم او د لمنې په ټولو سره یې وویل: لږ هاخوا لاړه شه، ترڅو دروازه بنده کړم.

د دروازې په بندېدو سره مې مسکا وکړه او ومې ویل: نو خاوند یعنی دا...؟ عجیبه ده.

د مور او رشمې په راتګ سره مو د هغه تالار په لورې حرکت وکړ چې ټاګل شوې وه زموږ د کوژدې مراسم پکې ترسره شي.

رشمې د موټر راډیو روښانه کړه او د آریانا سعید غږ مې تر غوږونو ورسېده.

په نرمۍ سره مې خپلې اوږې خوځولې چې کوم چا راته پام نشي خو که کوم میدان وای پرته له شکه چې نخل مې.

په همدې حالت کې مې مور وویل: څه کوئ؟ موزیک بند کړئ... له څلورو خواو څخه مور ته راګوري. ټول مور ته راګوري، له خدای څخه وویریږئ.

وحید وویل: سمه ده د تره ښځې اوس یې بندوم.

په نا اُمیدۍ سره مې د مور خواته وکتل او په زړه کې مې وویل: یو څو دقیقې به دې نور هم صبر کړی و، مګم یوه سندره څومره وخت نیسي؟

تالار ته د رسېدو پورې مو هېڅ خبرې ونه کړې. حتی که کړې مو هم اوسي بې نتېجې وې.

له موټر څخه ښکته شوم، وحید مې لاس ونیوه او ویې ویل : پوهېږم چې نن غوارې د غورځېدو ترټولو

لورِ رکورد ثبت کړې، نو لاس مې کلک ونیسه.

پټه مسکا مې وکړه او د هغه لاس مې کلک ونیوه، څومره عجیبه ده، که څه هم وحید زما د تره زوی دی او له کوچنیوالي څخه یوځای غټ شوي یو، خو تر اوسه نپوهېدم چې دومره غټ لاسونه لری.

زما لاس د هغه په لاس کې د نوی پیدا شوی ماشوم پشان و، اوس پرېږده یې زه هم د لنډ قد لرونکو انجونو له جملې څخه یم.

رشمې زما له سر څخه پوښې لری کړ او د "آهسته برو" په غږ سره محفل ته ننوتو.

د ننوتلو سره وحید خپل سر ټیټ کړ او زما لمن یې ونیوله، ترڅو بغیر له کومې ستونزې قدم ووهم.

خو کله یې چې خپل سر پورته کاوه، سترګې یې زما په مخ کې قلف شوې او په حیرت سره یې وویل: اوس

دې ښول آرايش ته څه اړتيا وه؟

خپلې اوربې مې د څه پوه شم په نښان پورته واچولې او ومې ويل: د رشمه جانې کار دی وبښئ چې د يوې شپې لپاره ستاسو ديد خراب شو.

وحيد يوه معنا داره مسکا وکړه او ويې ويل : خو ماشاءاللّٰه...

د دې خبرې په اورېدو ډېر خوشحاله شوم، لکه بيزو ته چې مميزې ورکړل شوې وي.

زمورږ په ننوتلو سره ډېر له حسرت څخه ډک نظرونه په مورږ پريوتل. داسې يې راکتل لکه فکر چې کوي وحيد زما په کولو سره خپل ځان بدبخت کړی دی.

هېڅا نځا ته زړه نه کېده، د رشمې پرته چې پښه يې پښو کې پاتې نشوه، د وحيد په تلو سره زه يوازې پاتې

شوم او سترګې مې پاتې وې چې کوم څوک د محفل د ګرمولو لپاره نڅا وکړي.

خو امان د یو کس څخه...

زموږ په قوم عیب دی چې په پردی واده کې نڅا وکړې، او که کوم څوک نڅا وکړي، نو دا معنا لري چې خپل ځان ښيي او د ریبار په لټه کې ده.

-ژخشانې چې بله خور نه درلوده، نو د هغې مجلس د ژمی د شپو پشان سوړ او له سکوت څخه ډک و. هېڅوک حاظر نه و چې د محفل په ګرمولو کې ونډه واخلی.

د چلې اغوستلو له مراسمو وروسته، د مېز په سر د ښکلی کیک یوه ټوټه بیله کړه او د وحید د خولې خواته مې ویوړه.

خو کیک د پنچې له سر څخه غورځېده، ژر مې په لاس هغه ونیوه.

وحید وخندل او ویې ویل: یو ځل بیا یې وازمایه، ګورم چې دا ځل مې په نصیب کېږي کنه؟!

ومې ویل: ښښنه غوارم.

له تلوار سره مې بله ټوټه واخېسته او د هغه په خولې کې مې کېښوده. لاسونه مې خوله شوي وو او دومره کسانو د تأثیر لاندې راغلې وم.

فکر مې کاوه چې دا ټول په تمه دي چې کومه غلطې رانه وشي او دوي مې مسخره کړي.

وحید اشاره وکړه چې د جوس پیاله را واخلم.

د هغه سترګو ته مې وکتل او ومې ویل : ستا مطلب څه دی؟

وحید وویل: له کیک وروسته د جوس وار دی، هېر دې شول؟

د جوس د پیالې خواته مې نظر واچاوه. هو، رایاد شول...

ومې ویل: اه، وبښئ.

پیاله مې را واخیسته او په داسي حالت کې چې شرمېدم د خولې خواته مې ور نږدې کړ.

وحید وویل: که خپله هم لږ نږدې راشئ، فکر کوم غوره به وي.

زموږ تر منځ فاصلې ته مې وکتل، دقیقاً دوه قدم ترې لرې وم.

دا ځل نه کېدل چې له شرم څخه مې سر پورته کړم. یو قدم مخکې لاړم او ومې ویل: ښښنه غواړم، نن په خپل حال نه یم.

وحید وویل: پوهېږم چې سخته ده؛ که زما په ځای وای څه به دې کول؟ په خپل ټول عمر کې ددومره ښځو په منځ کې نه یم درېدلی. هغه هم داسې ښځې چې سترګې یې ما باندې ګنډلې او زما حرکات یې له نظر لاندې نیولي.

ومې خندل او جوس مې هغه ته ورکړ، هغه ریښتیا ویل؛ که غواړم هغه درک کړم، صرف لازمه ده چې خپل ځای د سرېانو په محفل کې تصور کړم. هاهاها.

د رشمې په اسرار سره له خپل ځای څخه پورته چې د وحید سره نڅا وکړم. په ټول مجلس کې مې داسې فکر کاوه چې موږ د سینما لوبغاړې یو او ټاکل شوې ده چې دلته فلمی شوټینګ دې ترسره شي.

حتی که موږ د سینما لوبغاړې وای، له هماغو بې تجربې او نویو لوبغاړو څخه به وو.

زمونږ حرکات او چلند له هر څه سره ورته والی درلود، پرته له ناوې او زوم څخه.
هغه د کاکا زوی و، چې له نن ورځې څخه مخکې مې حتی یوه خبره هم ورسره نه وه کړې، خو اوس ټاکل شوې وه چې زما راتلونکی مېړه شي. هره دقیقه به چې د هغه د ګوتو یا اوږو له لمس سره مخ کېدم او یا به ورسره اوږه پر اوږه کښېناستم، د ګناه احساس به مې کاوه.

کېدای شي ځکه چې ټول عمر یې مونږ ته همداسې ویلي وو. اوس له کلونو وروسته کوم کار چې ګناه وه د مور او پلار په اجازې سره یې اوس د ثواب رنګ خپل کړی و.

د وحید د څېرې له حالت څخه داسې معلومېدل چې له ما څخه ښه حالت نه لري.

تازه مې حالت ته پام شو، چې د ځرخېدو او نځېدو په حال کې یو. د څه نڅا؟!

فکر وکړئ په ټول عمر کې مو دوه ځله نڅا کړې وي او ربیم ځل مو د خپلې کوژدې مراسم وي. د لاسونو مړوندونو د خوځېدو او حرکت کولو پرته زما له نڅا څخه بل څه نه تر لاسه کېده، هغه هم په داسي حال کې چې یخې خولې زما په تندی کور جوړ کړی و.

زما په نظر څومره دا کړنې بېځایه او احمقانه دي، خو د قضیې تر ټولو جالبه برخه دا وه چې دا ټول کارونه مخکې له مخکې پلان شوي وو.

دې ته وایي د متعصبو او سخت دریځو افغانانو د اصولو له مخې ژوند کول...

فکر وکړه، ټول عمر دې د بېلابېلو دلیلونو له امله د نڅا اجازه ونه لرې، خو ناڅاپه دې د خپلې کوژدې په مراسمو کې مجبوره کړي چې د سلګونو هغو سترګو مخې ته ونڅېږې چې ټولې درته رااړول شوې وي!
په یوه کلمه کې یې درته وایم؛ وحشتناک و.

ټول يوازې د دې لپاره راغلي وو چې هر څه ويني او سبا پرې غيبتونه پيل کړي، البته همداسې هم وشول. زه د ټولو د خبرو موضوع شوې وم؛ له دې نيولې چې زما د کوژدې په محفل کې مې سر لوڅ و، پوښي مې نه درلود او تر هغو لړو سرو زرو پورې چې راته اخيستل شوي وو. د خوړو په برخه کې تر اسراف او ځان ښودنې پورې، او زر نورې خبرې او اوازې.

خو په دې ټولو خبرو کې يوه خبره ډېره خوله په خوله کېده هغه چې رښتيا هم شرمېږم دلته يې بيان کړم.
دوی فکر کاوه، ځکه چې هغه زما د کاکا زوی دی، نو ما هغه دوکه او په خپل دام کې مې راګير کړی دی.
خدای دې د دوی پر بدونو او ټيټو فکرونو رحم وکړي.
آخر له دې دومره وچې او مذهبي کورنۍ سره چې زه يې لرم، څنګه به دا امکان ولري چې ما د کاکا زوی په خپل دام کې اچولی وي؟
که وغواړم چې يوه ورځ د وحيد څېره بيان کړم، نه پوهېږم له کومه ځايه به يې پيل کړم. زه ان تر دې

حده هم د خپل راتلونکي مېرڼه په اړه له پوهېدو عاجزه وم.
کله ناکله د نورو خلکو حماقت په رښتیا هم سخت عذاب راکوي.
او زما له وسه هېڅ هم نه کېدل چې د هغوی خولې وتړم. نو د خلکو خبرې مې د زهرجن جام د یو غړپ په څېر تېرې کړې او چوپ پاتې شوم.

زما د نیا جانې خبره، نه زه د دسترخوان په سر د خوړو په څېر اړینه وم او نه په اوړي کې د یخو اوبو په څېر؛ نو دومره مهمه نه وم.

زما د کوژدې او غیبتونو څخه یوه اونۍ تېره شوې وه او باید مې دې غیرحاظرۍ خاتمه ورکړې وای.

د مکتب وروستی کال، چې چندان خوندور هم نه و، خو په تېرېدو و او د شهادت نامې په اخیستو سره مې باید خپلې کورنۍ ته دا ویاړ وربښلی وای.

کله چې د مکتب په لورې مې د تلو نیت وکړ، مور مې زما د کوژدې ګوتمۍ زما له لاس وباسله او ویې ویل: هم ناپوهه یې هم جاهله. کېدای شي ګوتمۍ درنه ورکه شي. غوره به دا وي چې په کور کې یې پرېږدئ.

د مور د نورو ټولو ترخو او دردناکو خبرو پشان مې دا خبره هم په یوه غوږ واورېده او په بل غوږ مې وایسته.

په مکتب کې ټولې ملګرې مې زما په کوژدې خوشحاله وې، یا شاید ما داسې فکر کاوه.

خو د جغرافیې استادې داسې خبره وکړه چې زه په فکرمنده کړم. د هغې په نظر زه اوس د واده په یو قدمۍ کې وم او باید د خپل ځان او کوژدن ترمنځ پېښو په اړه خپلو ملګرو ته هېڅ ونه وایم.

ځکه امکان یې درلوده ګمراه کړم یا  په اصطلاح، هغوي سپین سترګې کړم.

پوهېږئ، چې د نصیحت ترټولو جالبه برخه کومه وه؟ هغه دا چې دوي زموږ د کورنۍ له حاله خبر نه وو. زموږ په کورنۍ کې کوژده شوې انجلۍ دا حق نه لري چې تر واده پورې له خپل کوژدن سره ووېني یا ورسره خبرې وکړي.

نو زه د څه په اړه باید خبرې ونه کړم؟

مګم د کوژدې دوران څه دی چې نور یې په اوربدو سره ګمراه شي؟

ما داسې احساس کاوه چې د وحید سره د خبرو نه کولو له امله یو ډېر اړین څه له لاسه ورکوم.

د تفریح په ساعت کې مې انجونو ته د کوژدې او د محفل د پېښو په اړه خبرې کولې... بلخصوص هغه برخه چې لړ پاتې و وغوځېږم او وحید ونیولم..

یو وار انجونو هاااا او هوووی شروع کړل یوې پکې
وویل :  څومره رومانټیکه.

ومې ویل: څه؟ کوم ځای یې رومانټیکه دی؟

یوې انجلۍ وویل: ولې، رومانټیکه ده. د عشق ممنوعه
ډرامه دې لېدلې په فلانۍ برخه کې هلک له انجلۍ...

په کنجکاوۍ سره مې د هغوي خواته کتل او حيرانه
وم چې د څه شي په اړه خبرې کوي.

خو د خوشحالۍ ځخه ډکې سترګې او هغه شونډې
چې هره شېبه به یې چیچلې، هغه لاسونه چې د
ډرامې د ښه بیان لپاره په نڅا راتلل نو پوه شوم چې
ژوند ددې انجونو له لیدلوري ډېر توپیر لري.
یعني دوي دا ټوله خوشحالي یوازې د یوې برخې په
لېدو تر لاسه کړې وه؟

ډرامه څه؟

موږ په کور کې تلویزیون نه لرو چې ډرامه پکې وګورو.

اوس چې فکر کوم، داسې ښکاري چې ما ډېر څه له لاسه ورکړي او د ځو پوهان تر منځ یوه احمقه یم.

زما خواته یې راوکتل او ویې ویل: رُخشانې پوه شوې چې کومه برخه یادو؟

ومې ویل: هو، هو پوه شوم.

نه مې غوښتل چې چاته کمه راشم او دورغ مې وویل. ریښتیا هم جالبه صحنه وه.

خو خدای پوهېږي چې څومره دروغ وایم.

کله چې درس ختم شو او له مکتبه رخصت شوم، د کور په لورې روانه شوم.

په لاره کې يوې ملګرې مې زما مخې ته آيسکريم ونيوه او يې ويل: دا هم ستا د کوژدې ډالۍ، که څه هم تا موږ ته شيريني نه ده راوړې.

د آيسکريم سپينوالی زما د سترګو مخې ته د يخ غره په څېر ولاړ و، د شونډو کونجونه مې کش شول او په لويې مسکا سره مې وويل: ډېره زياته مننه، باور وکړه هېر مې شول. سبا يې حتماً له ځان سره راوړم.

د آيسکريم په اخيستو سره مې د يو آشنا کس څېرې ته مې پام شو. يو ځوان د سړک هغې غاړې ته په يو سپين موټر کې ناست و او ماته يې راکتل.

ارتيا نه وه چې ډېره ورته ځير شم؛ په لومړي نظر پوه شوم چې وحيد دی.

ژبه مې د آيسکريم ترخنګ هماغسې پاتې شوه ژر مې ژبه ټوله کړه او ځان مې برابر کړ ناڅاپه يو نا اشنا شرم زما وجود محاصره کړ.

د وحید کوچنی وراره له موټر څخه راکوز شو، یوه پلاستکي کڅوړه یې په لاس کې وه او زما خواته را روان شو. دوارو خواو ته مې وکتل چې څوک مو ونه ویني، هلک کڅوړه زما په لاس کې راکړه او ویې ویل: راشه د تره ښځې، دا ډالۍ مې د کاکا جان لخوا ده.

د ډالۍ په اورېدو سره مې سترګې ګردې شوې او ومې ویل: نه نه، زه دا نشم اخیستلای.

هلک یو لیک زما په لاس کې راکړ او ویې ویل: که یې وانه خلئ، کاکا مې راته آیسکریم نه اخلي. هیله کوم.

د هلک د زاریو څخه ډکو سترګو ته په کتلو مې ډالۍ ومنله، بې خبره له دې چې په کڅوړه کې څه دي.

وحید خپل لاس راته وخوځاوه ما هم په ځواب کې ورته خپل لاس وخوځاوه او په تلوار سره د کور په لوري روانه شوم.

یو سپین او کلک بکس  شي په کڅوړه کې و. هغه مې د کتابونو لاندې کېښوده او کور ته ننوتم.

لیک مې تاو را تاو کړ او په جیب کې مې کېښوده، ترڅو څوک پرې خبر نه شي.

د کور د غړو سره له سلام کلام وروسته مې مخ او لاسونه مینځل او  دیخو اوبو یو پیاله مې په یوه ساه وڅښله.

کله مې چې ولیدل هر څه عادي او نورمال په نظر راځي، د بام خواته مې منډه کړه ترڅو د لیک د منځپانګې څخه خبره شم.

لیک ښه بوی درلوده، خو ډېر  راته آشنا و، نېوهېږم چېرته مې مخکې دا بوی احساس کړی و، تر دې چې را په یاد شول؛ دا د وحید عطر و.

د کوژدې په ورځ مې دا بوی څو څو ځله حس کړی و.

لیک مې په ځانکړی شوق سره پرانیسته.

واو، څه ښکلی خط یې درلوده، لا مې لیک لوستلی او درک کړي نه و چې څه یې راته لیکلي، خو د هغه په خط کې دومره بوبه شوم چې هر څه یې رانه هېر کړل.

کاشکي هر ورځ راته ولیکي.

سترګې مې تنګې کړې تر څو د کلماتو ټوټې له یو بل سره ونښلوم او پوه شم چې د د تره زوی جان مې راته څه لیکلي دي.

" سلام! هیله لرم چې ددې لیک په ترلاسه کولو حیرت ونه کړئ، پوهېږم چې زموږ د کورنیو له نظره چې د دوه کوژدن شویو کسانو خبرې کول ښه نه ګڼل کېږي.

خو موږ په یوویشتمه پیړۍ چې ژوند کو او دا ناسم کار نه دی. دا کار نه د دین له نظره ناسم دی او نه د

ټولنې له نظره. څکه ټاکل شوې ده چې يو عمر يو ځای ژوند وکړو. زه نه غواړم چې په ناڅاپې توګه د يو دايي چا ژوند ته دننه شم چې هغه هېڅ نه پېژنم.

په پلاستيکي کڅوړه کې مې درته يو موبايل درلېږلی، هر وخت چڅ اوزګاره وي له بل سره به خبرې کوو.

غواړم پوه شم چې راتلونکې ښځه مې څوک ده او ټاکل شوې ده چې له چاسره يو عمر ژوند وکړم.

هيله لرم چې د ليک د تر لاسه کولو وروسته ته هه زما په فکر وکړې او وغواړې چې ما وپېژني.

په درنښت، وحيد."

سپين ليک مې بند کړ او هغه خوله چې د غار په اندازه خلاصه پاتې وه، بېرته مې ټوله کړه.

په داسي غږ سره لکه د څاه له تل څخه چې راوځي ومې وويل: زه او موبايل؟

به تلوار سره بېرته ښکته راغلم او د خپلې کوټۍ آلمارۍ ته مې ځان ورساوه. د مکتب له بکس څخه مې توره کڅوړه را وایسته.

د موبایل په لېدو سره مې باور نه کېده چې ویښه یم که ویده...

دوه څپړې مې مخ ته ورکړې، که ویده اوسم، نو راویښه به شم؛ خو هغه ښه احساس چې د موبایل په ترلاسه کولو مې درلوده، نه مې شو پېټولای. که څه هم وېرې زما وجود پوښلی و، خو زړه مې غوښتل چې هماغه ځای او هماغې شېبه کې ځان بندي کړم.

د موبایل کارتن مې په غېږ کې ونیوه او فشار مې ورکړ. زه خو د موبایل له دوه قدمۍ څخه هم نه وم تېره شوې، خو اوس مې خپل موبایل درلوده.

خدایا دا ښه احساس له ما مه اخله...!

یو ځلېدونکې پلاستیک د موبایل کارتن پوښلی و. د نوک مې هڅه وکړه چې پلاستیک خلاص کړم. کارتن عجیبه و، کله مې چې له څنډې ونیوه او پورته مې کړ، یو شی له لاندې څخه په ځمکه ولوېده.

ما... ما د خپلو سترګو په دید باور نه کېده.

دا موبایل زما د مشر ورور له موبایل څخه غټ او ښکلی دی، د کارتن شاته مې نظر واچاوه، ترڅو پوه شم چې د موبایل نوم څه دی؟!

په تور رنګ لیکل شوي وو "ipohon" له ځان سره مې وویل "یعنې زما موبایل."

څومره عجیبه نوم لري خو ډېر راته اشنا ښکارېده فکر مې کاوه چې کوم ځای مې دا نوم اورېدلی، اوس کوم ځای کې؟ خدای پوهېږي!

په ځانګړي شوق سره مې موبایل را واخیسته. هغه احساس چې د موبایل د لمس کولو پر مهال مې لاس کې پیدا شو، د هندوستان د وریښمو په یاد کې یې واچولم.

اوس هندوستاني وریښم ولې؟ زه خپله هم نپوهېږم، همداسي مې فکر ته راغلل. هاهاها.

د نادیدو پشان مې موبایل خپل مخ ته نږدې نیولی و، او په ورو غږ، داسي لکه غوارم چې د موبایل سره خبرې وکړم، په ځانګړي انداز مې ویل: سلام زه رُخشانه یم، دا زما د موبایل نمبر دی. هاهاها

-رُخشانه دومره خوشحاله وه، که هماغه شېبه یې د کوم چا د مرګ خبر اورېدلی وای، د هغې له خوښۍ څخه به ذره هم نه وه کمه شوې.

ځان یې د خیالونو په نړۍ چې ډوب کړی و او هغه موبایل، چې د خپل کوژدن له خوا ورته د اهمیت ښه

بلل کېده، مسته او مدهوشه کړې وه.

بېشکه که هماغه شېبه کې مو رُخشانې ته د جنت په اره خبرې کړې وای، بیا هم ورته بې معنا ښکارېدې. هغې د موبایل په نوم او د بې احساسه ښیښې د یوې پردې په ترلاسه کولو سره ټول جنت تر پښو لاندې کړی و.

خو د ټولو ښکلو او له اُمید ډکو کیسو پشان د رُخشانې خوښي هم پای ته ورسېده. د مور د غږ په انګازو سره چې هغه یې غوښتله، مجبوره شوه چې له خیالونو څه را ووځي د ډېرې وېرې سره یې موبایل یو ځای کې پټ کړ.

په هغه پټ ځای کې چې هره انجلۍ په کور کې لري، او د مور له نظره یې پټ ساتي.

په ورخطایۍ، او په داسي حال کې چې ښېرې یې نارې وهلې چې زه ګناهګاره یم د مور مخې ته ورېده.

ویې ویل: ها مورې، څه شوي دي؟

مورې یې دداسي قهر او غضب څخه ډکې څېرې سره چې هر ژوندی موجود یې وېرولی شوای، وویل: نه، ولې باید کوم څه وشي، څو ساعت مخکې له مکتب څخه راغلې، تر اوسه دې کالي نه دي بدل کړي؟

رُخشانې چې اوس دفاعي حالت خپل کړی و وویل: نه مور جانې، هغه ریښتیا د سبا مهالوېشت مې جوړاوه که کوم کار لري، ووایئ تر سره کوم یې.

خو مور یې د تل پشان د بهانې په لټه کې وه ترڅو رُخشانې ته سزا ورکړې هغه هم د هغې ګناه لپاره چې هغې نه وه کړې.

مور یې وویل: ګوره انجلۍ! ما خپل سر په دې کور کې ددې لپاره نه دی سپین کړی چې ته اوس دلته له ماسره ژبه ووهې. همدا یوه اونۍ مخکې مو ته د خپل تره زوی سره کوژده کړې. د کور مېرمنه کېدل دومره آسانه

نه دي چې په یو محفل سره د یو چا د کور ښځه شي.
خپل ځانکړي رسم او رواجونه لري. باید  زده کړئ چې
ښځه کېدل یعني څه؟!
دا زموږ کور دې چې په دومره آسانۍ سره دې له هرې
ګناه او بې پروایې څخه تېرېږم؛ د تره په کور کې دې
دومره مهرباني نه په نصیب کېږي.
ستا کوچنۍ غلطۍ به د بیرغ په څېر پورته شي او
ستاسو د کور په بام به کېښودل شي، ترڅو نړۍ یې
وویني او ملنډې درباندې ووهي.
باید د کار وخت وپېژنئ؛ کله باید خواړه تیار کړې، کله
باید د کور ژوند ته پام وکړې، کله باید کالي ومینځي او
کله باید خپل مېړه ته پام وکړې.
دا افغانستان دی، دلته د هېڅ تېروتنې لپاره بښنه
نشته. نو پام دې وي جلې جانې.

شاید په لومړي نظر کې داسې ښکارېدل چې د
رُخشانې مور د خپلې لور د وېرولو لپاره هڅه کوي ،

خو ځوک پوهېږي چې هغې ښځې په خپل ژوند کې
څه څه لیدلي او د هغې له نظره ژوند څومره عمجن و.

خو ژُخشانې د خپلې مور له خبرو یوازې یو څو جملې
درک کړې؛ د هغې د خبرو تر شا یې کیسې نشوای درک
کولای.

د هغې مور ډېره آرامه او د لږو خبرو ولا ښځه وه. تر
هغه به یې خبرې نه کولې چې اړېنه به نه وه، هېڅکله
یې خپلې لور ته کټوره مشوره نه وه ورکړې.

خو ځوک پوهېږي چې د هغې په زړه کې ددننه څه
تېرېږي چې دا خبرې یې ژُخشانې ته د ګواښ په انداز
کې وکړې.

ژُخشانې چې د تېښتې لاره نه لېده او د یوې معجزې
په تمه وه ترڅو د مور د تیر اندازه نظر څخه خلاصه
شي؛ ناڅاپه یې د ورور غږ واورېده، چې په لوړ غږ

سره یې سلام واچاوه. دا فرصت یې غنیمت وشمېره او د دروازې په لور یې حرکت وکړ ترڅو داسې وښیي چې د خپل ورور هرکلي ته ورغلې ده.

حکیم، د ژُخشانې مشر ورور، چې د ټولو په نظر یو محترم او باوقار انسان و، د ژُخشانې له نظره هغه یو ناروغ او عصبي کس و؛ داسی یو څوک چې صرف د بهانې په لټه کې و چې خپل غږ تر آخرې درجې لوړ کړي او خپلو  شاوخوا کسانو ته ښکنځل وکړي.

البته چې د هغه ښکنځل هم په څو ځانګړو کلمو کې خُلاصه کېدې؛ بې ناموسه، نمک حرامه، له مور خطا... او کله به چې  غوسه ډېره شوه نو ارموني یا حرامزاده به یې هم د خولې خبره وه.

ژُخشانې په ورین تندی وپوښتل: لالا جانه، ډوډۍ مو خوړلې ده که درته یې راوړم.

حکیم چې وریځې یې سره غوټه کړې وې، خپلې خور ته یې نیم نظر ورواچاوه ویې ویل: که په ځنګ کې یې لږې یخې اوبه راوړئ ښېخي به ښه شي. باور مې نه کېږي چې په پسرلی کې دې ددومره ډېرې ګرمۍ سره مخ شوی یم! څه روان دي؟ که اوس دومره ګرمي وي خدای دې په دوبی کې زموږ خیر راپیښ کړي.

-په تلوار سره مې وریجې په سپین سفالی قاب کې را وباسې او په بیل لوښي کې مې لږه د لوبیا قورمه هم ورته واچوله، له لوړې آلمارۍ څخه مې د چکنې ډبي را واخیسته او د وریجو ترڅنګ مې کېښوده.

او په پای کې مې د یخو اوبو پیاله، چې د یخ ټوټو پکې لامبو وهله، راوخیسته او د خپل ورور خواته روانه شوم.

نن مې حال او هوا بدله وه. ټول کارونه مې په وخت خلاص کړل، ترڅو اوزګاره شم او د خپل موبایل خواته ورشم.

هغه موبایل چې حتی نپوهېدم چې څنګه یې چلان کړم. یوازینی کس چې زموږ په کور کې د موبایل په اړه یې معلومات لرل، زما کشر ورور فرهاد و.

هغه ماسپښین له خوا مکتب ته تللو، نو باید د هغه تر راتلو یې باید په تمه شوې وای.

د مازیګر شاوخوا څلور بجې فرهاد کور ته راغی.

له ځان سره مې وویل: څومره ژر رخصت شو.

په هر حال... د خپل مقصد لپاره مې د هغه د مکتب بکس په چاپلوسۍ سره واخیسته او ومې ویل: فرهاد جانه، وږی نه یې؟ څه درته راوړم؟

فرهاد چې زما په نااشنا چلند حیران شوی و په شکمن انداز یې وویل: څه غواړې؟

ومې ویل: هېڅ، ته خو زما ورور یې، ولې باید زما د هرې محبت آمیزه خبرې تر شا کوم راز پټ وي؟

لاسونه مې سره وپیچل او په خفه انداز سره مې وویل: پوهېږې، له هغه وخت نه چې کوژده شوې یم، فکر کوم  ستاسو ترمنځ د پاتې کېدو لپاره مې ډېر کم وخت پاتې دی.

فرهاد چې ریښتیا هم زما له خبرو اغېزمن شوی و زه یې په غېږ کې ونیولم او ویې ویل : مه خفه کېږه، زه هره ورځ ستا لېدو ته راځم ژمنه ده.

زما پر شونډو یوه مکاره مسکا خپره شوه او ومې ویل: ژوندی اوسې لالا جانه، د خدای زر ځله شکر چې ستاسو پشان مهربانه ورونه یې راکړي دي. ریښتیا فرهاده ته پوهېږې چې آیفون ښنګه موبایل دی؟

فرهاد زما خواته یو نظر را واچاوه او ویې ویل: هو، د اپل له کمپنۍ ښخه دی د نړۍ یو مشهوره برنډ دی، اوس ولې دې پوښتنه وکړه؟

ومې ویل: هېڅ، نن مې یوې ملګرې وویل؛ چې آیفون یې اخیستی دی، مورِ خو یې نه لرو، یوازې غوښتل مې پوه شم چې څنګه کار کوي، که کومه ورځ رانه پوښتنه وکړی نه غوارم چې کمه ورته راشم او ځواب ورته ولرم.

فرهاد چې ځان ډېر پوه کاڼه، سمدستي یې د ایفون په ځانګړنو او تشریح کولو پیل وکړ.

او په آخر کې یې وویل: ګوره رُخشانې، زما په نظر تر ټولو غوره موبایل چې انسانانو جوړ کړی هغه ایفون دی. د موبایل ځواک او کارکول د هغه د موډل پورې اړه لري، خو اوس ایفون اووه پلس بازار ته راغلی دی. صبر وکړه، زه یې درښایم.

-رُخشانه د ایفون اووه پلس د نوم په اورېدو او هغه عکس چې ورور یې ورته وښوده، پوه شوه چې وحید ورته ډالۍ کې کوم موبایل اخیستي څنګه دی او څومره بیه لري.

د فرهاد خبرو ته يې ډېر په دقت سره غوږ نیولی و، ترڅو پوه شي چې څنګه یې چالان کړې او څنګه له یو چا سره پرې اړیکه ونیسي.

ورور او خور د دهلیز او انګړ د دروازې ترمنځ لاره کې یې سرونه سره نږدې کړي وو او د هغه نوي موبایل په اړه یې خبرې کوله؛ هغه موبایل چې د ژخشانې پرته په کور کې هېڅوک ترې خبر نه وو.

په خوشحالۍ سره له خپل ورور څخه جلا شوه او د دهلیز په کونج کې یې هغې کوټې ته پناه ویوړه چې د سیوری له امله هېڅوک هلته نه تلل.

هلته یو اوږد برقي ساکټ پورټ و چې هېچا ترې ګټه نه اخیسته. هغه یې د ښار د برېښنا سره وصل کړ او لین یې د دهلیز د قالینې لاندې تېر کړ، څو تر خپلې کوټې پورې یې ورسوي.
د آلمارۍ له شا یې لین وغځاوه، تر هغې برخې پورې

يې ورساوه چې د آلمارۍ يوه څنډه ماته شوې وه، بيا يې ساکټ هلته د آلمارۍ دننه کېښوده.

په دې توګه چا شک نه کاوه او د  ږُخشانې موبايل د ټولو له نظره پټ ساتل کېده.

څه يې چې اورېدلي وو، بايد يې موبايل پنځه ساعته په چارج شوی وای.

موبايل د ژمي راټولو شوي کاليو لاندې کېښوده او په ډاډه زړه له کوټې ووته، ترڅو د شپې ډوډۍ تياره کړي.

هغه پنځه ساعته داسي وو لکه ږُخشانې سره يې چې ضد ته ملا تړلې وي، هېڅ نه تېرېدل.

ټول هغې په چلند باندې مشکوک شوي وو، ټول کور يې  راټول او جارو کړ، هېڅ هېنداره او ښېښه ترې پاتې نه شوه ټولې يې صافې کړې، يوازېددې لپاره چې پنځه ساعته تېر شي.

ددوي په انګړ کې د الوچو یوه لویه ونه وه چې هر مازیګر یې د رُخشانې وزن زغمل او مېوه به یې ورکوله.

نکلي کاسه  په لاس ونې ته وخته، د اوبو ډکې او ښکلې الوچې یې راوشکولې او په خوښۍ سره یې په مالګه کې  لړلې او خولې ته به یې اچولې.

د ډېر تروشوالي له امله یې سترګو په رپېدو او پټېدو پیل وکړ.

هماغه وخت کې یې سترګې د ګاونډیانو په کور ولګېدې، څو نارینه لګیا وو د کور سامان یې دننه کاوه او څو ښځې د انګړ په منځ کې ګرځېدې.

له ځان سره یې وویل: خامخا نوي ګاونډیان دي.

د دیګ بخار د شپلاق په الوتلو سره د ونې څخه راښکته شوه او د آشپزخانې په لورې روانه شوه.

د لارې په منځ کې یې  یو نظر د شین ساعت باندې واچاوه او ځان یې شل دقیقې وروسته د موبایل دیدار کې ومونده.

په بیړه یې د الوچو د دانو څخه سلاته جوړه کړه، رومیان او پیازو سره یې ګډوډه کړه او په دې توګه د شپې ډوډۍ تیاره شوه. اوږد دسترخوان وغوړېده.

پلار یې په لوړ آواز سره قرآنکریم تلاوت کاوه، قرآنکریم یې وتاړه، ښکل یې کړ او وروسته بیا د دسترخوان په سر کښېناسته.

رُخشانه د مور کوټې خواته ورغله او ډوډۍ ته یې راوبلله، او بیا یو بل پسې یې خپل ورونه هم ډوډۍ ته راوغوښتل.

ډوډۍ په مطلق سکوت کې وخوړل شوه خو هېچا د رُخشانې پشان بیړه نه درلوده.

اوس چې رُخشانه مصروفه وه، وخت دوه پښې درلودې او دوه يې قرض اخيستې وي؛ دومره په چټکۍ سره تېرېده چې د رُخشانې غوسه يې هم په خپله غاړه کې اچولې وه.

فرهاد د دسترخوان په ټولولو کې له رُخشانې سره مرسته وکړه، او هر يو؛ لکه دولتي مامورينو پشان بېرته خپلو دفترونو ته ستانه، او ځانونه يې پکې بند کړل.

د کور آرامه فضا او سکوت کاملاً د رُخشانې لپاره تيار و، ترڅو د وحيد سره خبرې وکړې.

په خوشحالۍ سره د موبايل خواته ورغله. هر ګام به چې موبايل ته نږدې کېده بسم الله به يې ويل ترڅو دا خوښۍ يې ګډې وډې نشي او څوک يې ګير نه کړي.

د اوربدل شوې خبرو له مخې يې موبايل چالان کړ. د کڅوړې دننه يو کوچني پاکټ کې سيم کارټ و. سيم

کارټ يې راوویست، د سیم کارټ ځانګړي ځای کې يې کېښوده او په تمه شوه چې ټول ویده شي.

کتابچه او قلم يې مخې ته کېښودل او سترګې يې ساعت پورې وګنډلې ترڅو د تېښتې لپاره مناسب وخت راورسېږي.

د شپې لس يوولسو بجو ترمنځ له خپل ځای څخه پورته شوه او د بام خواته روانه شوه.

د هر ګام په کېښودو سره يې بدن کې لړزه زیاتېده.

په داسي ګوتو چې د خوځېدو توان يې نه درلوده، د سیم کارټ له پاکټه يې د وحید د موبایل شمېره، چې په آبی قلم اندې لیکل شوې وه راویسته، شمېره يې ولیکله او شنه تڼۍ يې کیکاږله.

سترګې يې د سپوږمۍ رڼا او غوږونه يې د موبایل غږ ته سپارلي وو، ترهغه چې د وحید د سلام غږ يې

واورېده.

ټولې خبرې یې چې په هماغه شېبه کې یاد ته راغلې دا
وي: الو سلام، ښه يي!؟ ژر دا موبایل بېرته یوسه هیله
کوم.

وحید چې د هغې له حرکاتو څخه وپرېدلی و ویې
ویل: خیریت دی؟ ستاسو په کور کې څوک خبر شول؟

رُخشانې وویل : نه! خو کېدای شي چې خبر شي، هغه
وخت بیا څه ځواب ورکړم؟

وحید وویل: ته څومره استرس لرې؟ یا دا عادت دې د
شرایطو سره تړل شوي دی. پوهېږې، یو ځای مې
لوستلي وو، کومه ښځه چې استرس لري نشي کولای
روغ ماشومان نړۍ ته زېږوولي.

-د وحید له خولې، ددې خبرې په اورېدو سره مې د
خپل د لاس په شا باندې مې خوله ولګوله او له ځان

سره مې وویل: څومره بې شرمه دی.

په کنایه آمیزه لهجې سره مې وویل: زه خو اولاد نه زېږوم، لږ تر لږه د واده په لومړیو کلونو کې خو بېخي نه.

وحید په کش داره غږ سره وویل: څومره بد، نو زه د بلې ښځې په لټه کې شم؟!

سترګې مې تنګې کړې، غاښونه مې له یو بل سره وپیچل او له ځانه سره مې وویل: هم بې شرمه دی او هم بې حیا دی. سپین سترګی هلک.

ددې لپاره چې کمه رانه شم ومې ویل: ولې نه. هر مسلمان سړی د څلورو مېرمنو حق لري، ته څه کمي لري؟ ته هم څلور ښځې وکړه چې شپه او ورځ درته اولادونه وزېږوي او شاوخوا دې ډکه شي.

د موبایل له بلې خوا مې د وحید د قهقهې غږ مې غوږونو ورسېده او په خندا سره ویې ویل: که پوه شي چې زموږ په کور کې د بت په نامه یادېږي، باور به دې ونه شي. هر ځای ستا د کمو خبرو په اړه خبرې کېږي. "وای، ژخشانه څومره عاجزه انجلۍ ده، د ډېرې څخه خبرې راوځي خو ددې انجلۍ نه نه" راشئ، او ددې دبلبل پشان ژبه یې وګورئ، د پلو له منځ څخه څه راوتلي. هاهاها.

د وحید ددې خبرو په اورېدو سره مې فکر وکړ؛ ما دومره خطر په ځان ومانه، نیمه شپه کې مې ورته زنګ وواهه، چې ما مسخره کړي؟

افسوس!

وحید وویل: د څه افسوس؟

خپلې ژبې ته مې پام نه و، فکر مې وکړ چې "افسوس" له ځان سره زمزمه کوم خو په لوړ غږ سره مې ویلي

وو.

د کړې خبرې د ټولولو لپاره ناوخته و، د همدې لپاره مې وویل: افسوس دی چې ستاسو پشان تکړه او ځوان سړی په زور د یوې پلو څخه راوتلې ښځې سره تړل شوی دی. ریښتیا هم افسوس. که کوم خاص کار نه لري نو اړیکه به پرې کړم، ځکه دا خبرې دومره ارزښت نه لري چې لپاره یې زه ځان په خطر کې واچوم.

وحید وویل: صبر، صبر... د استرس او غوسې سره تلواري هم یې. زه پوهېږم چې هېڅ سر بې ژبې نه وي، هرڅومره چې عاجز او ارامه اوسي، کله نا کله ترې خبرې خامخا وځي. د خطر اخیستو خبره دې وکړه، باید ووایم چې زه هم د بام په سر راختلی یم او خطر مې منلی دی.  که زما د کورنۍ کوم غړی ما په دې وخت کې د خبرو پر مهال ویني، باور وکړه هېڅ ښه به ونه شي. او د تره لور جانې، د بلې ښځې به اړه دې وویل، نو یو څه مې ذهن ته راغلل.

مابه دامان تو نازیم که پاکست چو گل
ورنه در شهر بسی لعبت بازاری است

د بیت معنا:

مورې ستا په لمن نازېږو چې د ګل پشان پاکه ده. کنه په ښار کې خو ډېرې بازارۍ ښکلاوې شته.

-د وحید له خولې د مینې په رنګ لړلي د شعر څو کرښو په اورېدل، ددې لامل شول چې ژُخشانه په څمکه کښېني او له شرم څخه څه ونه وايي.

د ساګانو له غږ پرته یې وحید ته په ځواب کې کوم بل څه ونه ویل.

وحید، چې معلومه وه دُنیا لیدلی هلک و، د ژُخشانې له سکوت څخه پوه شو چې انجلۍ د شرم مخملي ګمپله کې ځان پیچلې دی. وحید وویل: دا هم د تره لور جانې شرم...

هغه شپه په ډېرو خنداګانو او ټوکو تېره شوه؛ خو کاش رُخشانه پوهېدلې او ځان ته یې سپیلني دود کړي وای، ځکه د خوښۍ ورځې ډېرې نه وي.

سبا سهار لکه نوې غوړېدلې غوټۍ، ژوندۍ او له انرژۍ ډکه، د مکتب په لور روانه شوه.

د دوازې په خلاصولو سره د یوې تورې رنګې انجلۍ سره مخ شوه. هغې په ډېر ناز او ادا سره وویل: سلام ګرانې، زه تمنا یم. تېر شپه دې کور ته راغلو.

د هغې د لاس اشارې ته یې وکتل، او د خپل کور څنګ کور ته یې پام شو.

په خندا یې وویل: هو، پرون شپه مې ولېدل. ښه راغلاست. په خیر مو ځای ونیوه؟ له کوره راضی یاست؟

د ګاونډیانو انجلۍ په خپل ځانګړي ناز او ادا سره وویل: هو ګرانې، له کالیو دې داسې معلومېږي چې مکتب ته روانه یې، نوره دې نه ځنډوم. زه کراچۍ پسې راغلې یم. سهار وختي ستاسو پلار جان زموږ لېدو ته راغلی و او ویل یې چې کراچۍ لري، کولای شم چې له تاسو یې قرض واخلم. اوس اجازه ده؟

رُخشانه له لارې یوې خواته شوه او ویې ویل: مهرباني وکړئ، ستاسو خپل کور دی. که کوم بل څه مو په کار و له مور جانې څخه مې وپوښتئ. د اوس لپاره ښه وخت.

خو کاش رُخشانې دروازه د داسې انسان پرمخ دروازه نه وای خلاصه کړې، هېڅکله یې ورسره نه وای لېدلي، نه یې پېژاندلې وای او نه یې ورسره خبرې کړې وای.

-هر قدم مې چې اخیست، داسې نه بیاندونکې خوشحالي مې په ځمکه کېښوده.

باور مې نه کېده چې هغه هلک، چې ما به یوازې په اخترونو او ډېرو مهمو محفلونو کې له لرې لېده، دومره دې زما لپاره ارزښت ولري.

که څه هم زموږ تر منځ احساس تر ډېره د ادب او نزاکت له مخې دی، خو غواړم هغه لا ښه وپېژنم او دا ښه احساس په ژوره توګه وپېژنم.

همدا چې زما شونډو ته یې مسکا وربښلې، همدا چې د زړه ضربان مې پورته الوزي.

حیرانه یم چې ولې موږ د یو بل له لیدو منعه کوي. کله چې تصور کوم په څو لنډو او له وېرې ډکو ساعتونو کې، د کورنۍ له وېرې پټې پټې خبرې وکړې؛ هماغه لږ وخت زما رګونو ته دومره پراخه خوښي راغځوي. نو که موږ ته اجازه راکړل شي، نو څه به وشي؟!

یو اوږد "پوووف" مې وایسته او ومې ویل: تصور یې هم له مهربانۍ ځخه تش نه دی...

ټوله ورځ د هغو ليونيانو پشان وم، چې له څلورو خواوو د ساقي شاوخوا نڅېږي؛ په لاره روانه وم، مسکا بډګه څېره مې ټولې ته وربښلې وه تر څو ټول پوه شي چې ژُخشانه په ښه حالت کې نه ده. هاهاها!

د رخصتۍ د زنګ په وهلو سره مې بکس په واچاوه او د کور خواته مې پرواز وکړ، نه د کوڅې خاورې راته اړينې وې چې ورو لاړه شم، نه د لارويانو ملنډې چې ويل يې؛ ورو لاړه شه، شوله خو نه ده سرېږي.

يوازې غوښتل مې يو ځل بيا خپل موبايل په لاسونو کې ونيسم.

کورته د ننوتلو سره مې يوې ښځې ته پام شو چې سپين پوښي يې اغوستی و. شا يې ماته وه سلام مې واچاوه او ومې ويل: ښه راغلاست.

هغې لا زما پر لورې سر نه و رااړولی چې د کور له بلې خوا يوې انجلۍ غږ کړ: پخير راغلې، ژُخشانه جانې.

له هغې ښځې مې سترګې واړولې او د کور هغې بلې خواته مې پر هغه غړ چې چندان اشنا هم راته نه و وګنډلې.

پخ خوشحالۍ سره یې وویل: راشه، زما ترڅنګ.کېنه. اندېښنه مه کوه چای درته راوړم. پوهېږم له مکتبه ستړې او ستومانه راغلې یې... راشه، ولې په تمه یې؟

د خپلې مور خواته مې وکتل؛ په شونډو یې مصنوعي موسکا خپره وه. بیا د هغې انجلۍ تر څنګ کښېناستم.

انجلۍ وویل: ودې پېژاندلم؟ زه تمنا یم. سهار مو سره خبرې کړې وې. په یاد دې شوم؟

ومې ویل: هو هو، شکر ښه حافظه لرم. خوشحاله شوم چې دومره ژر مې له مور سره هم آشنا شوي.

تمنا چې سر ترپایه یې د شرارت نښې له خبرې ښکارېدې، وویل: مننه، ژوندۍ اوسې. په اصل کې

ستاسې مور ډېره ټولنيزه ښځه ده. سهار يې مورِ چای ته راوبللو. ريښتيا ووايم؛ له دومره کور پاکولو او جارو کولو نه ډېر ستړي شوي وو، او ستاسې د مور بلنه مو رد نشوه کړای.

مسکا مې وکړه، او ومې ويل: ښه راغلاست، لکه څنګه مې چې سهار وويل؛ دا مو خپل کور دی. ارامه اوسئ، په اجازه مو زه به.مې کالي بدل کړم.

د دروازې څخه د وتلو په حال کې مې خپلې مور اشاره وکړه ترڅو بهر راووځي، خپله دهليز کې ورته په تمه شوم.

څو ثانيې وروسته مې مور راغله. ومې ويل: دا خلک پېژنو؟!

مور مې وويل: نه! خدای زه وشرمولم. ما فکر وکړ چې ادب به لږ مراعت کوي د يوې پيالې چای بلنه مې ورکړه. ما يې لور يوې پيالې ته راوبلله، خو هغوي پرته

له دې چې اضافه خبرې وکړي، بلنه يې ومنله. مور يې د ژوند او کور په اړه خبرې کوي ښېخي په سر مې ورته درد شو. نشم کولای چې په زور يې له کوره وباسم، صرف دعا کوه چې خپله مو درک کړي کنې نور خو زما له لاسه څه نه جوړېږي.

ومې ويل: د انجلۍ چلند مې ښېخي خوښ نشو، هرڅوک يې چې ووينې فکر کوي د کور خاونده ده، ماته چای دم کوي؟!

مور يو "اوف" وويسته او بېرته لاړه، چې د هغې ښځې ښځايه خبرو ته غوږ ونيسي.

ما هم د کاليو له بدلولو مخکې موبايل له آلمارۍ څخه را واخيسته.

د سکرين لاندې ګرده تڼۍ مې کيکاږله، صفحه روښانه شوه. دولس پيغامونه راغلي و؛ څلور يې د مخابراتي

شبکې له خوا وو او پاتې نور دداسې شمېرې لخوا وو چې ثبت شوې نه وه.

پيغامونه مې وکتل ليکلي يې وو: سلام، سهار پخير...

بيا څو مينه ناک شعرونه.

بيا يې ليکلي وو: سلام، غرمه پخير...

خدايه دا پيغامونه د چا دي؟

د کوټې دروازه مې قلف کړه او هماغې شمېرې ته مې زنګ وواهه او په تمه شوم چې ځواب راکړي.

څو پرله پسې  زنګونو وروسته، د وحيد غږ مې واورېده: سلام، ښه يې؟

ومې ويل: خدايه شکر، نو دا ستا شمېره ده؟ ما خو زر ډوله فکرونه وکړل چې دا پيغامونه د چا لخوا کېداى شي.

وحید وخندل او ویې ویل: یعنې زما شمېره دې نه ده ثبت کړې؟

مې ویل: نپوهېږم چې ستا شمېره ځنګه ثبت کړم.

وحید په لوړ غږ وخندل او ویې ویل: خیر دی. په هرحال... زما د شمېرې پرته درسره څوک اړیکه نه نیسي. او دې خپل حال راته ووایه؛ څنګه یې؟

ومې ویل: ښه یم او لږه څه وږې هم یم؛ ته په څه حالت کې یې؟

وحید وویل: زما حال بېخي ښه دی، د خدای شکر، ته لاړه شه او یو څه وخوره چې د معدې زخم وانخلي بیا وروسته میسجونه کو.

بیا یې وپوښتل: میسج لیکلي شې؟

ومې ویل: هڅه کوم چې ویې لیکم،هاهاها بالاخره باید زده کړم. د اوس لپاره د خدای په امان هسي نه

ونیول شم.

لا مې اړیکه نه وه پرې کړې چې دروازه ټک ټک شوه، له ډېرې وېرې څخه مې موبایل د ژمنیو کالیو کې پټ کړ او ورغلم چې دروازه خلاصه کړم.

خو کله مې چې خپلو کالیو ته وکتل، په وېرې سره مې د ایستلو هڅه وکړه. د کمیس څو تڼۍ مې هم وشکېدې. ژر مې خپل آبي پنچابي کالي واغوستل او دروازه مې خلاصه کړه.

د تمنا په لېدو سره مې آرامه ساه واخیسته او ومې ویل: ها ګرانې، کوم کار دې درلوده؟

هغې له شرارت څخه په ډکو سترګو وکتل او ویې ویل: نه، یوازې غوښتل مې چې ووایم مور ځو. راغلم چې خدای پاماني درسره وکړم، هسې نه ووایي دا انجلۍ څومره بې ادبه وه.

ما وخندل او ومې ویل: نه، نه هېڅکله داسي فکر نه کوم، مننه چې راغلئ، بیا هم راشئ، زه به خوشحاله شم.

تمنا د خپلو شونډو په ټولولو سره وویل:  بیا راشو چې تاسو خپل ځان په کوټه کې بندي کړي، او موبایل کې مصروفه شي؟! مورې د کور دیوالونو ته وګورو؟

-همدا څو خبرې بس وې چې رُخشانه داسې شوه لکه ډېر قوي برقي جریان سره چې لګېدلې وي، او خپلې مور ته یې وکتل.

درې وارو په رُخشانې باندې سترګې ګنډلې وي خو د مور کتل یې له ټولو څخه وېرونکي و.

رُخشانې په لوړ غږ سره وخندل، داسي چې خپله وېره پټه کړي او ویې ویل: څومره خندونکې ټوکه دې وکړه ګرانې، زه موبایل نه لرم. هاهاها

د ژُخشانې مور هم د خپلې لور په تقلید سره وویل: هو ګرانې، ژُخشانه موبایل نه لري، ولې دې داسي وویل؟

تمنا په مرموز ډول مور او لور ته وکتل او په داسي کنایه آمیزه لهجې سره چې سل په سلو کې یې ژُخشانه هدف وه وویل: اوه، نو ما تېروتنه کړې؟ ښایي زه سمه نه وم.

په هر حال ترور جانې مننه ستاسو له دې ګرم هرکلي او مېلمه پالنې نه. زموږ د کور دروازه هم تل ستاسو پر مخ خلاصه ده، هیله کوم کله نا کله زموږ د غریبانو د حال پوښتنه هم کوئ. شاید زموږ په کو کې وچه مېوه او خوږ چای ونه اوسي، خو په تود هرکلي او تریخ چای سره به په ډېرې خوش رویۍ ستاسو مېلمه پالنه وکړو. راځه مورې چې لاړ شو، له دې ځخه زیات مزاحمت ګاونډیانو ته ونه کړو.

د ژُخشانې مور وويل: دا څه خبره ده؟ تاسو خو مزاحم نه یاست. هیله کوم داسي خبرې مه کوئ.

خو د تمنا له سترګو بل څه ښکارېدل. کېدای شي هغه وخت چې ژُخشانې له خپلې مور سره خبرې کولې، تمنا یې خبرې اورېدلې وې...؟

تر هغه وخته پورې چې دروازه نه وه بنده شوې د ژُخشانې لاسونه او پښې له وېرې رپېدل. خو له قضا د ژُخشانې مور نوره د موبایل قضیه ونه څېړله د سر درد یوه ګولۍ یې وخوړه او ژور خوب له ځانه سره ویوړه.

ژُخشانې چې کور تش ولید او فرصت یې ومونده، خپل موبایل ته ورغله، غوښتل یې د خپل کوژدن د مینه ناکو پیغامونو په ځواب کې یو څه ولیکي.

خو کله یې چې کور خاموشه ولید او پوه شوه چې څوک یې نهویني، جرئت یې پیدا کړ او موبایل یې له ځان سره بهر ویوړ..

د دهېلز د دروازې ترڅنګ د زينو په سر کښېناسته او د زړه خبرو ليکل او لېږل يې پيل کړل، مثلاً د وحيد لپاره يوه ښه معشوقه اوسي.

نيم ساعت همداسي تېر شو. پيغامونه يو بل ته لېږل کېدل او ژُخشانه د بهرنۍ نړۍ څخه بې خبره، سترګې يې د موبايل په ورو خطونو ګنډلې وې چې د "دروغجنې" په غږ سره لکه د ديګ بخار د شپلاق پشان له خپل ځای څخه وپرېده.

څلورو خواوو ته يې وکتل ترڅو پوه شي چې څوک يې ويني. د تمنا په لېدو سره چې د ديوال په سر ناسته وه موبايل يې شاته پټ کړ.

تمنا لاس د سر لاندې ايښی و او په داسي حالت کې يې خبرې کولې چې دا په حقه ده او کوم غل يې د غلا په حال کې نيولی وي، وويل: اې اې، دروغجنې. ما هېڅکله د خپل اورېدلو په ځواک شک نه دی کړی. خو

اوس ولې يې پټوي؟ مګر ته کوژدن نه لري؟ نو ولې بيا انډيوال بازي کوي؟

ژُخشانې په حيرت سره ور وکتل او ويې ويل: کومه انډيوالي؟ له خبرو سره دې پام کوه انجلۍ، زه له خپل کوژدن سره خبرې کوم. غوارې زنګ ورته ووهم چې ته ورسره خبرې وکړې؟

د تمنا د وريځو کمان پورته شو او ويې ويل: که ستا کوژدن دی، نو ولې بيا په پټه ورسره خبرې کوي؟

ژُخشانې چې نه خوښېدل چې د خرابې انجلۍ نوم پرې کېښودل شي، نو ويې ويل: ګوره، زما کوژدن زما د تره زوی دی. مورِ اجازه نه لرو چې تر واده پورې له يو بل سره اتباط ولرو. خو هيله کوم، مخکې له دې چې په موضوع باندې پوه شي، په اړه يې خبرې مه کوه.

تمنا چې د زمانې له شوخو انجونو څخه وه، موسکۍ شوه او ويې ويل: انديښنه مه کوه، ستا راز به له ما

سره خوندي وي.

لاس يې په ستوني کېښود او ويې ويل: قسم خورم، زه هېچاته نه وايم. د هر څه لپاره بښنه غواړم، هيله کوم ما وبښه. زه پوهېدم چې ته کوژدن لرې، مور جانې دې راته ويلي وو، خو نپوهېدم چې د خبرو کولو حق نه لرې، د هر څه لپاره بښنه غواړم ما وبښه ږُخشانه جانې.
پوهېږم، ريښتيا هم د انډيوال کلمه ستا پشان پاکې انجلۍ لپاره مناسبه نه ده، خو ځينې وختونه له فکر کولو پرته خبرې کوم او ددې له امله سخته پښېمانه يم.

ددې لپاره چې پوه شئ چې د خير نيت لرم، نو زه هم خپل يو راز درته وايم، څو ستا راز له ما او زما راز له تا سره خوندي اوسي. موافقه يې؟

ږُخشانې له حيرت څخه په ډګو سترګو تمنا ته کتل. نه يې د هو ويلو جرئت درلود او نه د نه ويلو. خو ځکه

چې ساده انجلۍ وه، فکر یې وکړ چې دا به یو ډول معامله وي.

څکه که دواړه یو بل په رازونو پوه شي، نو هېڅوک به هڅه ونه کړي چې د بل راز افشا کړي، ترڅو خپل راز یې هم خوندي پاتې شي.

سر یې د هو په بڼه ښکته او پورته کړ.

تمنا هم، چې معلومه نه وه چې د کوم بې سر و سامانه هلک په اړه خبرې کوي، د خپلې مینې کیسې په بیانولو یې پیل وکړ.

هغه هلک چې څلورو کاله کېږي پېژني یې او ټاکل شوې ده چې ورسره واده وکړي.

خو رُخشانه ساده او ژر باورې وه، د کیسې له پیل څخه یې داسې ګمان وکړ چې تمنا بده انجلۍ نه ده،

شاید له څېرې لږه شیطانه وي؛ انسان باید د خلکو باطن وپېژني نه ظاهر.

هغه هلک چې له څلورو کلونو راهیسي پېژني یا هم ډېر... څوک پوهېږي؟! په تمنا مئین و او تر اوسه پورې یې د خپلو احساساتو په اړه د مینه ناکو خبرو پرته هېڅ هم نه وو کړي. خو د تمنا له خبرو داسي ښکاېدل چې باید انسان هېڅکله ناهیلی نه شي.

خو هغه څه چې رُخشانه یې د میخ پشان وټکوله د تمنا خبري نه وې، بلکې د تمنا هغه خراب او زوړ موبایل و چې تمنا له خپل ګریوان څخه راوویسته او رُخشانې ته یې وښوده.

تمنا په ډېرې خوښۍ سره وویل چې هغه هم له کورنۍ پټ موبایل لري او که کورنۍ یې خبره شي، نو ډېر به ورته ګران تمام شي.

ږخشانه حیرانه وه چې په خپلو سترګو لیدلی حال ته څه ډول غبرګون وښیي. په مصنوعي مسکا سره یې هڅه وکړه چې د هغې خبره تأیید کړي او ویې ویل: جالبه ده داسي معلومېږي چې زموږ درد یو دی.

د ږخشانې د مور په چیغې سره د دوارو دا لنډ او نه چندان خوندور بحث پای ته ورسېده. ږخشانې هم د تمنا په تقلید سره خپل موبایل په ګریوان کې پټ کړ، ځکه هغه شېبه کې ورته بل مناسب ځای نښکارېده، او د خپلې مور خواته ورغله.

ویې ویل: ها، مورجانې څه شوي؟! ولې چیغې وهې؟

خو مور یې د سپین ټیکری سره خپل سر په ترېلو بوختنه وه او ویې ویل: خپله مې پیدا کړ، که ستا په لاس کې وي باید مرې شم. شل دقیقې کېږي تاته غږ کوم چې یو ټیکری راته راوړه، خو کومه دې اورېدونکی غوږ. وګوره دا پیالې دې هم نه دي ټولې کړې باید د

ګاونډیانو انجلۍ تمنا ته غږ کړم؟ بیره وکړه، ولې داسي ردېږي، ردېږي راته ګوري؟

رُخشانه یوه تلواري او داسي انجلۍ وه چې ژر ورخطا کېږي، د تېښتي لاره یې بنده شوې وه. به بیړه یې ځان یې پیالو ته ورساوه. خو کله یې چې خپل سر ښکته کړ موبایل د خپل لویوالي او دروندوالي له امله له ګریوان څخه په ځمکه را وغورځېده. ترڅو چې غوښتل یې موبایل راپورته کړي مور یې غږ کړ: هغه څه وو؟!

ددې لپاره چې نه یې غوښتل مور یې پوهه شي نو موبایل یې له پښې لاندی کړ په پښه یې د آلمارۍ لاندې ټیله کړ او ویې ویل: هېڅ نه!

مور یې وویل: نه کوم څه وو، په پښې باندې دې له آلمارۍ لاندې کړ، هغه څه وو؟

رُخشانې چې ځان د مرګ په یو قدمۍ کې لیده ویې ویل: مورې پخدای چې هېڅ هم نه و، مورې ولې داسي

چلند کوي؟ ستاسو سر درد کوي نو د همدې لپاره فکر کوي چې له تاسو څخه يو څه پټوم.

خو مور يې له ژُخشانې څخه لاس نه اخيسته، د ځمکې په سر کښېناسته او له آلمارۍ لاندې يې وکتل او ويې ويل: زه هېڅ هم نه ګورم، لاسي څراغ چېرته دی؟

ژُخشانې وويل: د خدای په لياظ مورې زمورږ لاسي څراغ له کومه شو؟! مګم د طالبانو وخت دی؟ مورږ هېڅ لاسي څراغ نه درلوده.

خو د ژُخشانې د مور چرګ يوه پښه درلوده نو په خپل ضد ودرېده او ويې ويل: نه زما په ياد ده مورږ لاسي څراغ درلوده. صبر وکړه تر هغه چې بېرته راګرځم. چېرته لاړه نشي انجلۍ!

کله چې مور د د کوټې له دروازې څخه ووته، ژُخشانې په تلوار سره لاس د المارۍ لاندې ورننه ايسته، خو د

الماری د لنډو پښو له امله لاس تر مړوند پورې هم دننه نه شو ورتللی.

که څه هم موبایل یې د ګوتو له سرونو سره لګېده، خو نیولی یې نه شو.

هره شېبه یې امکان درلوده چې مور یې راشي او هغه له خاور سره خاورې کړي. نږدې وه چې خپل عقل له لاسه ورکړي. څلور خواوو ته یې وکتل، خو هغه پتنوس چې ډولول یې هېر کړي وو، د هغه پرته یې بل هېڅ هم پیدا نه کړل.

د پتنوس له لاستي څخه یې ونیوه او د آلماری لاندې یې کش کړ.

د ښه بخت له مخې یې موبایل د آلماری له بلې خوا راووت. د موبایل په اخیستلو سره نپوهېده چې هغه چېرته پټ کړي. په سرګردانه سترګو د مورک سوري په لټه کې وه، چې د باغچې ګلانو یې نظر جلب کړ په

تلوار سره يې د کوټې له کړکۍ څخه موبايل ګلکاري شوي ګلانو ته ور واچاوه، او موبايل د ګلانو په منځ کې ورک شو.

دوه ګامه لا له کړکۍ څخه نه وه لرې شوې چې مور يې راورسېده. کوچنۍ لاسي څراغ يې په لاس کې و او ويې ويل: دعا کوه چې کوم خلاف کار دی نه وي کړی انجلۍ جانې. ځکه زه نه غواړم چې زما د ټول عمر عزت او زحمت ستا د بې پامۍ له امله په اوبو لاهو شي.

-بېچاره ژُخشانې ساه اخيستل هېر کړي وو. يوازې يې کتل چې مور يې د آلمارۍ لاندې برخه ښه وګوري. مور يې وويل: ما هېڅ هم ونه ليدل، مګم ته ناروغه يې؟ ستا دا کړنې څه معنا لري؟ ته نوره کوچنۍ انجلۍ نه يې. ډېر ژر ټاکل شوې ده چې واده شي. ته پوهېږې دا څه معنا؟ که زما پر ځای دې د تره ښځه وه پوهېږې

چې څه به یې درسره کړي وو؟ زه دعا کوم، هر کله چې ته خپل سر باد ته ورکوي زه دې ژوندۍ ونه اوسم.

ژُخشانه د خپلې مور د له همېشني عادت څخه خبره وه، سکوت یې وکړ او د هغې خبرو په ځواب کې یې یو دوه ونه کړل. پیالې یې په تلوار سره ټولې کړې ترڅو د مور غوسه یې نوره زیاته نه شي، او په تېزۍ سره له کوټې ووته.

د آشپزخانې سره نږدې یې ساه اخیستل شروع کړل، او پتنوس په لاس په هماغه ځای کې ودرېده. فشار یې ټیټ شوی و او رنګ یې سپین اوښتی و.

باور یې نه کېده چې د هغه حالته ژوندۍ راوتلې ده.

خو دې حالت یې هم ډېر دوام ونه کړ، مور یې بیا پرې غږ وکړ: ژُخشانې، راشه انجلۍ زما سر ته ماساژ ورکړه. له ډېر درد څخه هېڅ څه هم نشم لیدلی. بیړه وکړه.

ږخشانې پتنوس د آشپزخانې په میز کېښوده او له.ځان سره یې وویل: خدایه، زر ځله شکر! که مور مې زما موبایل لیدلی وای، خامخا به یې مات کړی وای، ترڅو ورونه مې پرې خبر نه شي.

څو ژورې ساه ګانې یې واخیستې، ترڅو حالت یې لږ ښه شي، بیا یې د مور د سر په ماساژ کولو پیل وکړ.

مور یې هم وویل: ګوره انجلۍ، زه منم چې ما تاته هېڅکله نصیحت نه دی کړی. هغه څه چې ستا عقل او غوږونه خلاصوي نه مې دي درته ویلي، خو له دې وروسته باید ډېره هوښیاره اوسې. ته د داسي کور ناوې کېږي چې له تا څخه یې مخکې څلور نورو ښځو هم پکې ناوېتوب کړی. ټول په یو ځای کې سره اوسېږي. د څلورو ښځو یو ځای ساتل ستا د تره د ښځې د څواک ښکارندوینه کوي. هغه هېڅ ډول بې آدبي او سرکشي نه شي زغملای. هغه څه چې ستا په

وجود کې په خروار خروار پیدا کېږي. هڅه وکړه چې هوښیاره اوسئ انجلۍ جانې.

ژُخشانې هم خپل غوږ د مور خبرو ته سپارلی و او هڅه یې کوله چې یو څه ترې زده کړي، خو ناڅاپه د اوبو د پمپ د چالانېدو غږ پورته شو. له خپل ځای څخه پورته شوه او د کړکۍ په لوري یې منډه کړه.

مور یې وویل: ودې لیدل، د همدې په اړه مې خبرې کولې. ولې دومره د لیونتوب کارونه کوي، اوس څوک راغلي؟ یا پلار جان دې دی، یا هم حکیم جان.

ژُخشانه بېرته راوګرځېده، مور ته یې وکتل او ویې ویل: پلار جان راغلی. او د باغچې ګلانو ته د اوبو ورکولو په حال کې دی... مور جانې، اجازه ده چې یو ځل بهر لاړه شم، ژر بېرته راځم؟

مور یې وویل: نه، لاړه شه چای دم کړه.

د ځرښانې سترګې له اوښکو ډکې شوې وې او د باغچې ګلونو ته یې کتل. د هغې موبایل د هاغومره ډېرو اوبو په منځ کې له منځه ته.

خو ځرښانې د خپلې مور د خبرې خلاف یې د حویلۍ په لورې منډه کړه.

- دهېلز ته ورسېدلې وم، چې د مور لوړ غږ مې واورېده. له وېرې مې پښه په قالینه کې بنده شوه او په ځمکه ولوېدم. څو سانتي متره په قالینې باندې کش شوم او له لاس څخه مې پوستکي واورېده.

خپلې سرې شوې څنګلې ته مې وکتل او په زګیرویو سره پورته شوم.

ما هېڅکله داسې قیمتي ډالۍ نه وه ترلاسه کړې لکه هغه موبایل. هېڅ راته اړینه نه وه چې څوک پرې خبربږي او کنه.

زه خو کوم بد کار نه کوم، اجازه نه ورکوم چې زما د سترګو په وړاندې دې خراب او له منځه لاړ شي.

لا د ښکلو او رنګارنګ ګلانو څخه څو قدمه لرې وم چې د حویلۍ دروازه ډېره په زوره وټکېده او ورورمې، له وینو ډک سر او مخ سره، دننه راغی.

پلار مې چې زما حرکاتو ته حیران و، د حکیم په لیدلو یې د ګلانو اوبه کول بنده کړل او چیغه یې کړه:
حکیمه زویه!

د حکیم په لیدو سره مې نور د موبایل خواته ونه کتل او ځان مې حکیم ته ورساوه. سر یې چاودلې و، خپل لاس یې په غېږ کې نیولی و او له ډېر درد څخه یې زګیروي کول.

تر نن ورځې پورې مې د پلار اوښکې نه وې لیدلې، خو د حکیم د سختو ټپونو او د درد له چیغو سره مې پلار هم په اوښکو څخولو او ژړلو پیل وکړ.

مور مې چې ما پسې راغلې وه، د حکیم خراب حالت په لیدو سره زموږ خواته راغله او په پرلپسې پوښتنو یې پیل وکړ؛ هغه پوښتنې چې زه یې هم د خوب په لټه کې وم.

حکیم داسې زړه بوږنوونکې زګیروې کول چې کاڼی یې هم ویلې کولای شو،د هغو غلو په اړه یې خبرې کولې چې برید یې پرې کړی و.

پلار مې په ډېر کمزوري بدن سره حکیم له ځمکې څخه پورته کړ او دواړه د وتلو د دروازې په لور روان شول.

مور مې غږ وکړ: صبر وکړه حاجی، یوازې نشي ورتلای. زه مې ډېر پوښې را اخلم، ژر راځم.

مور مې راغله، حکیم یې له دواړو بغلونو څخه ونیوه او له کور څخه یې د روغتون په لور حرکت وکړ..

له ډېرې نا آرامۍ او خفګان څخه مې په هغو بې صفته غلو لعنت ويل، کوم چې حکيم يې دې حالت ته رسولی و. ناڅاپه مې راياد شول چې موبايل مې چېرته ايښی.

په تلوار سره مې د ګلانو خواته حرکت وکړ. ومې ليدل چې ټول ګلان له اوبو ډک شوي وو. له ځانه سره مې وويل؛ موبايل به تر اوسه خراب شوی وی.

په ناهيلۍ سره مې د اغزنو ګلانو په منځ کې د موبايل لټون پيل کړ، تر دې چې ومې ليدل موبايل د دوه شاخونو په منځ کې بند شوی و.

په خوشحالۍ سره مې موبايل له هغه ځای څخه راواخيست او صفحه مې ښکل کړه، کله مې چې وليده جوړ پاتې دی، له خدای څخه مې شکر ادا کړ.

نور د خطر لپاره ځای نه و. د کور په لور روانه شوم، د کور خواته روانه شوم ترڅو يو مناسب ځای د موبايل

لپاره پیدا کړم. هماغه وخت کې مې تمنا ته پام شو او ومې ویل: ته دلته څه کوې؟

هغه د دېوال په سر ناسته وه او زموږ حویلۍ ته یې کتل. زما په لیدلو سره یې وویل: ښه وشول چې ته مې ولیدی خیریت خو به وي؟! ستا له کوره څومره د شور او چیغو غږونه راتلل.

ومې ویل: هو تر یوه ځایه خیریت دی... لومړی لږ پاتې و چې مور مې موبایل پیدا کړي. دوهم دا چې خدای وهلو غلو پر حکیم جان، زما ورور باندې یې برید کړی او ټپي کړی یې دی. باید نن حلوا نذر کړم، څو بلاوې زموږ له کوره لرې شي. نن ریښتیا هم بده ورځ وه. خدای دې بیا داسې ورځ نه راولي، ځکه نور مې وس نشته. همدا نن لږ پاتې و چې زاره مې وچوي. شکر چې په خیر تېره شوه.

تمنا د دېوال په سر کښېناسته او ویې ویل: اوس به څه کېږي؟! ومې لیدل چې مور او پلار دې له کور څخه

ووتل. غواړې موبایل چېرته پټ کړې؟

ومې ویل: نپوهېږم، خو خو ډاډه یم چې مور مې شکمنه شوې ده.

یو اووف مې وویسته او ومې ویل: کله چې بېرته راشي، ټول ځایونه لټوي او بالاخره به یې پیدا کړي. خدایه، یوه لاره راته پیدا کړه لیونۍ کېږم.

تمنا وویل: که اجازه وي، غواړم خپل نظر درسره شریک کړم.

په اوښلنو سترګو مې ور وکتل او ومې ویل: څه؟

تمنا خپل سر لږ نږدې کړ او ویې ویل: وګوره، موبایل ماته راکړه، زه به یې ساتم. ما سره به خوندي وي، البته که پر ما باور کولای شې؟

رُخشانې لږ فکر وکړ او له ځان سره یې وویل: که مور مې موبایل پیدا کړي، ماتوي یې. که ورونه مې پرې

خبر شي، وحید به ملامت کړي. په ټوله کې به بې عزته شو؛ یو موبایل خو دومره ارزښت نه لري چې زموږ عزت دې پرې خراب شي.

خو که تمنا ته یې ورکړم، فکر نه کوم کوم زیان به راته ورسوي. کور یې خپل دی او له کور څخه خو تښتي هم نه.

اه، لیونۍ شوم. یو موبایل آخر څومره ارزښت لري چې یو څوک دې د هغه له امله کډه وکړي؟

په یو خپلې سري اقدام او بې فکرۍ سره یې موبایل په دواړو لاسونو تمنا ته وړاندې کړ او ویې ویل: مننه، نپوهېږم ستا دا احسان به څنګه جبران کړم؟

تمنا د هغه قیمتي موبایل په لیدو سره یې ژوره مسکا وکړه او په خوښۍ سره یې وویل: هیله کوم، موږ ملګري یو. دا هغه کوچنۍ قرباني ده چې دوه ملګرې یې د یو بل په حق کې ورکولای شي.

خوشحاله یم چې زه دې د باور وړ وبللم، ږُخشانه جانې، ریښتیا، نن مې سی پارچه ستاسو مکتب ته را وارېوله. له سبا به یو ځای مکتب ته ځو.

ږُخشانې چې دا خبره واورېده، په خوشحالۍ سره یې تمنا ته وکتل او ویې ویل: څومره ښه، زه تل یوازې مکتب ته ځم. له دې وروسته به یو ځای ځو او یو ځای به بېرته راځو.

د هغوي کیسو ډېر وخت ونه نیوه. ږُخشانه د آشپزخانې په لور روانه شوه غوښتل یې د شپې د ډوډۍ لپاره تیاري ونیسي.

خو د فرهاد له راتلو مخکې، د ږُخشانې پلار او مور له حکیم سره، چې سر یې تړل شوی و بېرته کور ته راستانه شول.

کوم بحث چې ږُخشانې فکر کاوه پای ته به رسېدلی وي، د مور په راتګ سره یې بېرته له سره پیل شو.

لا یې د بدن خوله نه وه وچه شوې، چې راغله او د ژُخشانې کوټه یې زیر او زبر کړه. هر پټ ځای یې چې و هغه یې ښکاره کړ.

د ژمی کالي یې له یوه ځایه بل ځای ته غورځول او یو یو یې تلاشي کاوه.

هماغه وخت ژُخشانې د تمنا د درلودو  له امله په زړه کې زر ځله د خدای شکر ادا کړ.

د ژُخشانې مو په ډېر قهر او غضب سره د خپلې لور مخې ته راغله او ویې ویل:  ژر کوه ووایه موبایل دې څه کړ؟! سمه ده چې زه بوډۍ او کمزورې شوې یم، خو ړنده نه یم. کله دې چې د پښې لاندې موبایل د آلمارۍ شاته ولېږه ومې لیده.

خو هغه وخت مې سر درد کاوه پوه نشوم چې موبایل دی. ووایه انجلۍ، مخکې له دې چې نوره هم غوسه شم.

ږخشانه یې له مټ یې ونیوه، ویې وخوځوله او چیغه یې کړه: زر ووایه انجلۍ څه دې کړې؟!

ږخشانې په ژړا پیل وکړ، په خیالي خدای یې قسمونه او ټینګار کاوه چې موبایل نه لري.

ږخشانې تل د قسم خوړلو پر مهال له خیالي خدای څخه کار اخیسته. په زړه کې به یې ویل؛ اصلی خدای نه، خیالي خدای. څو د ناحقه قسم له امله ګناهګاره نه شي.

هغه شپه په زرګونو ستونزو او کړاوونو پای ته ورسېده، خو هغه چې لا تر اوسه نه و بدل شوی، د مور ذهن یې و.

ږخشانه هغه شپه د مور ترخنګ ویده شوه. راتلونکې شپې هم همداسې تېرې شوې. مور یې لکه سیوری ورپسې وه او یوه شېبه یې هو یوازې نه پرېښوده، ښايي یوه ورځ یې له موبایل سره ونیسي.

خو ژُخشانې د تمنا په مرسته د تفریح په وخت کې، د مکتب په یو آرامه او ګوښه ځای یې له وحید سره خبرې کولې او د کور د خرابو حالاتو کیسه به یې ورته کوله.

ورځ تربلې یې پرمختګ کاوه او د تمنا په مرسته د موبایل له ډېرو سیسټمونو سره آشنا شوه.

د اونیو او میاشتو د تېرې وروسته، ورو ورو د ژُخشانې مور باور وکړ چې لور یې موبایل نه لري او د هغې ځارل یې پرېښودل.

له همدې له امله تمنا به د درس ویلو په پلمه د ژُخشانې کور ته راتله او به د کور په یوه ګوښه کوټه کې موبایل کاراوه.

خو ژُخشانې به تل وېره لرله چې مور یې هغه ونه نیسي. هغې باور درلود چې وېره انسان ته د احتیاط درس ورکوي، نو هغه به تل چمتو وه.

د ژُخشانې په ځېر شرمیدونکې انجلۍ چې له به یې له وحید سره خبرې کولې کیلو کیلو وزن به یې کمېده؛ شروع یې کړې وه خپل کوژدن ته په عکس لېږلو. او همدا رنګه په پټه لیدنه په رستورانت کې، باغ بابر ته تګ او زر رقم نورې تفریح او ساعتیري.

دومره ماهره شوې وه چې سهار به د مکتب په پلمه له کوره وتله او کټ مټ به د رخصتۍ پر وخت بېرته کور ته راتله، هېڅوک هم د هغې په کارونو نه خبرېدل.

تمنا، له یوې عادي ملګرې څخه د هغې د زړه په ټوټې بدله شوې وه، او ژُخشانې د خپلو سترګو څخه یې ډېر باور پرې درلوده.

یوه ورځ د خپل ژوند له خوږو ورځو څخه، ژُخشانه له وحید سره په خبرو بوخته وه چې ویې ویل: ریښتیا وحید جانه؟!

وحيد چې له خپل نوم له "جان" سره يو ځای واورېده ډېر خوشحاله شو، او ويې ويل: د وحيد ځانه، امر وکړه.

ږخشانې چې ناز او ادا له تمنا څخه زده کړي وو ويې ويل: ګرانه کريډيټ مې په خلاصېدو دی او دا مياشت مې انټرنېټ هم فعال نه کړ، کولای شئ څو دقيقې وروسته راته کريډيټ ولېږئ؟

وحيد په حيرانتيا وويل: خو ما پرون درته کريډيټ لېږلی و، څنګه دومره ژر خلاص شو؟

ږخشانې وويل: نه پوهېږم، خو پرون دی څومره رالېږلی و؟

وحيد لږ فکر وکړ او ويې ويل: اړينه نه ده، بيا به يې درولېږم، خو پوه شه ستا د کريډيټ مصرف ډېر زيات دی. وګوره د سيم کارټ هغه وړاندېزونه دې غير فعال

کړي دي که نه؟ ځکه که همداسي دوام ورکړې دربدر کېږم. هاها

ژُخشانې خپلې شونډې اوږدې کړې او د غړ په نرۍ کولو سره یې وویل: اوس مګم څومره کریډیټ دې رالېږلی؟ یعنې زه د یو کریډیټ کارټ هومره ارزښت درته نه لرم؟

وحید چې پوه شو چې خبره حساسه شوې ده، ویې ویل: نه نه، ګرانې ولې داسي فکر کوي؟

ګرانې یو ځای کې ستونزه شته. ستا کریډیټ باید دومره ژر خلاص نشي. راځه، دا اوونۍ سره ووینو ستا موبایل به هم ووینم چې دومره پیسې چېرته مصرف کېږي.

ژُخشانې په خوشحالۍ سره وویل: څو شنبې؟

وحید وویل: ته خپله پوهېږې، هره ورځ چې ستا زړه زما لپاره ډېر ټوپونه وهل، راشه او ما ووینه.

ژخشانې خپل ځان د مئینانو په نړۍ کې تصور کاوه، په خوشحالۍ سره يې وویل: دا لېونی زړه مې وخت نه پېژني، هر وخت ستا لپاره ټوپونه وهي.

خو د تمنا د لاس په اشارې سره چې ويل يې" ژر خبرې ختمې کړه، له دې څخه ډېره نشم کولای د دروازې شاته ودرېږم."

ژخشانه مجبوره شوه له وحید سره خدای پاماني وکړي ، خو تر هغه مخکې يې دوه ورځې وروسته د ليدلو وخت وټاکه.

سهار اووه بجې، د کوټې په سر کې، د ژېړې دروازې ترڅنګ، د يوې لنډې او تازه کرل شوې کاج ونې تر څنګ.

له هماغې شېبې تر دوو ورځو پورې د يار د ليدو شوق لېونۍ کړې وه. نور يې نه شرم پېژانده او نه حيا هغه په دې عقيدې وه هر څوک چې مينه کوي، بايد د مينې د سمندر توفان هم ومني او له څپو سره يې ځان روان کړي.

د خپلو کاليو په منځ کې يې يو داسي کالي لټول چې د هغې ښکلا ډېره کړي، خو هېڅ يو هم د هغې نظر جلب نه کړ.

ار شوه او تمنا ته يې د دېوال له سر څخه يې تمنا غږ کړ: تمنا!، اې انجلۍ، چېرته يې؟!

تمنا چې د ډوډۍ مړۍ يې په لاس کې وه له دهليزه را ووتله او ويې ويل: ها ګرانې، ډوډۍ خورو څو دقيقې صبر وکړه راځم.

رُخشانې په شرمېدلی انداز وويل: وای، وای څومره بې پروا شوم يم. ښښه غوارم. ته خو پوهېږې چې عقل

مې له سره تللی، نه پوهېږم څه وکړم.

تمنا وویل: ولې؟ څه شوي؟ آیا له پلان څخه وتلی کوم کار شوی؟

ژُخشانې وویل:  نه، خو زه پوهېږې، زه مناسب کالي نه لرم. هیله کوم ته راسره مرسته وکړه. پوهېږم چې اوس ډوډۍ خورې، خو که مور مې له بازاره راغله، بیا به د تیارۍ نیولو فرصت ونه لرم.

تمنا څو شېبې فکر وکړ او ویې ویل: زه کالي لرم، البته نه پوهېږم چې تاسې تر کومه حده د کالیو اغوستلو کې آزادي لرئ. خو صبر وکړه. ریښتیا، روښانه رنګ خوښوې ته تیاره؟

ژُخشانې لږ نور هم ځان د دېوال سر ته پورته کړ او ویې ویل: نه پوهېږم، هر څومره چې ښکلي وي بهتره به وي. هاهاها.

نیمه ورځ د کالیو په لټولو تېره شوه، خو په پای کې یې پرېکړه وکړه چې له وحید سره به په هماغه د مکتب جامو کې ووینې.

خو له ځانه سره یې قسم کړې و چې له واده وروسته، نه به سپین پوښې واغوندي او نه به توره چپنه. د نامزادۍ ټولې ښکلې لیدنې یې په هماغه کالیو کې تېرې کړې وې.

د رُخشانې د مور په راتګ سره وټاکل شوه چې د شپې لپاره به آشک تیاروي. رُخشانې په خوښۍ سره له تمنا څخه وغوښتل چې د ګندنې په پاکولو کې ورسره مرسته وکړي.

په حقیقت کې آشک یوازې یوه پلمه شوه چې دواړه انجونې یو ځل بیا سره یوځای شي او د رُخشانې د نامعلوم راتلونکي لپاره پلانونه جوړ کړي.

خو د تمنا له ناخوښې څېرې څخه معلومه وه چې نا ارامه ده. ژُخشانې چې خپل ځان د هغې انجلۍ پوروړې ګڼله، د ملګرتیا دنده یې په ځای کړه او پوښتنه یې وکړه چې څه نا ارامه کړې، څو کېدای شي وکولای شي هغې سره مرسته وکړي.

تمنا وویل: پوهېږې ژُخشانه جانې، تېره شپه مې له حمید سره بحث شو. وایي ته اصلاً زما لیدو ته نه راځې، له لري دوستي نه کېږي. وېرېږم چې نور به راسره خبرې کول ونه غواړي.

ژُخشانې خپل لاس د تمنا په اوږه کېښود او ویې ویل: ښه، یو ځل خو یې لیدو ته ورشه، څه به وشي؟ لکه څنګه چې د هغه هلک په اړه خبرې کوي ښه هلک دی. نو ولې نه غواړي هغه ووینې؟

تمنا بوزخند وواهه او ویې ویل: دیوه شي په اړه خبرې کول یو څه دي، خو هغه کار ترسره کول بیا بل څه دي. له خدایه خو مې څه نه دي پټ؛ له تا به څه پټ کړم؟

زه به تل له خپلې ملګرې سره یوځای د هغه لیدو ته ورتلم. خو له لکه راهیسي چې دې کور ته راغلي یو، یو ځل مې هم ونه شو کولای چې ورشم او هغه ووینم.

رُخشانې وویل: ښه نو بېچاره حق لري. که زه څو میاشتې د وحید لاره نه شم، لېونۍ کېږم. ولا آفرین یې څومره صبرناکه هلک دی څنګه دا هر څه زغمي؟ که ستا ستونزه یوازې ورتلل وي، زه درسره ځم، چې یوازې پاتې نه شې. قبوله ده؟

اوس زړه مه خوره، ته راته ډېره ګرانه یې؛ لکه د هغې خور په شان چې هېڅکله مې نه درلوده.

تمنا په خوشحالۍ سره تمنا په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: زه هېڅکله ستا ددې مهربانۍ بدل نه شم درکولای، ریښتیا هم مننه، ګرانې. نو زه به له حمید سره خبرې وکړم چې سبا یو بل سره وګورو، ځکه بل سبا ته د وحید لیدو ته ځې او په یوه ورځ دواړه کارونه نه کېږي.

ځښانې یوه ژوره مسکا وکړه او ویې ویل: موافقه یم، ګرانې.

خو څوک پوهېدل چې تقدیر ددوي لپاره څه لیکلي؟ موږ ټول د ژوند په یوې نامعلومې لارې روان یو او د راتلونکي په اړه د ستنې د سر هومره هم معلومات نه لرو.

کاش تمنا داسې نه وای، کاش هېڅ انجلۍ د ځښانې په څېر ساده نه وای او نرۍ د شیطان صفتو انسانانو له وجود څخه پاکه وای.

لکه څنګه چې مشران وایي: هوښیار خلک د تاریخ څخه د ژوند درس اخلي، خو ناپوهان له خپلو شخصي تجربو څخه.

د هغې ورځې په سبا، د تل په څېر، دواړه انجونې د مکتب په پلمه له کوره ووتلې او د ټاکل شوې لارې په لور روانې شوې.

ړښانې له ځان سره فکر کاوه چې دا به یوازې یوه عادي لیدنه وي، یو څو دقیقې به دوام وکړي او بیا به هر څوک به په خپله لاره لاړ شي.

خو هرڅومره چې ټاکلی ځای ته نږدې کېدل، د وېرې احساس یې لا زیاتېده. خو د تمنا موجودیت ته یې زړه ډاډه و چې کومه بده پېښه به رامنځته نه شي.

په یوې ارامه او تشې کوڅه کې یې د سړک تر څنګ یې یو جیګري رنګ موټر ولید. تمنا ته یې وکتل او ویې ویل: یعنی تاسو به په موټر کې سره وینئ؟

تمنا په بې پروا او کنټرول شوی انداز سره وویل: هو ګرانې. څو دقیقې به خبرې وکړو او هغه به لاړ شي، ځکه د رستورانت د پیسو توان نه لري.

ړښانه چې ساده وه ویې ویل: هو، هو سمه ده.

او ددې له امله چې ګواګې د تمنا غرور یې زیانمن کړی و، لږه خفه شوه له ځانه سره یې وویل: بېچاره تمنا، خدای خبر ددې خبرې په کولو به یې څومره د شرم احساس کړی وي.

تمنا لومړۍ موټر ته وخته، وریسې ژُخشانه هم پورته شوه او د موټر دروازه یې کلکه وتړله.

په ورین تندي یې سلام وکړ، خو کله یې چې په مخکیني سیټ کې یو قوي هیکل لرونکی هلک ولید، لږه ووېرېده، خو هڅه یې وکړه چې خپله وېره پټه کړي.

د تمنا  او حمید کیسې تودې شوې وې، ژُخشانه د موټر په کونج کې ناسته وه او د هغوي خبرو ته یې غوږ نیولی و.

نیم ساعت تیر شوی و چې هلک یې مخې ته راغی، او پرته له دې چې ژُخشانه پوه شي څه روان دي، موټر ته

پورته شو او د موټر ټولې دروازې قلف شوې.

ژُخشانه چې تازه پوه شوې وه چې څومره لویه تېروتنه یې کړې، په چیغو وهلو د دروازې د خلاصولو یې پیل وکړ، خو نوره یې هېڅ ګټه نه لرله.

هلک یو شین دستمال د هغې خولې ته ونیولی و او هڅه یې کوله چې ژُخشانه بې هوښه کړي. د بې هوښۍ مخکې یوازینی شی چې د ژُخشانې په یاد کې پاتی شو، د هماغه هلک له وینو ډکې سترګې وي.

-داسي احساس مې کاوه لکه څوک چې ما له ځمکې پورته کوي او په ټول ځواک سره مې بېرته په ځمکه وهي. هرڅومره مې چې هڅه کوله چې هوښیاره اوسم او خپل ځان کنټرول کړم، خو هېڅ امکان یې نه درلوده.

داسي حالت کې ډوبه وم چې نه پوهېدم څه راباندې تېرېږي، خو دومره پوهېدم چې په یو تنګ ځای کې

یم،  د ساه اخیستلو لپاره هوا کمه ده او د خاورې بوی راځي.

هغه خاوره د موټر د تېلو او د غوړیو بوی سره ګډ شوي و. له دې پرته مې نور څه نه شوای درک کولای چې شاوخوا کې مې څه دي. نه پوهېږم چې تر کومه به دې حالت کې وم، خو معده مې ډېره خرابه وه او غوښتل مې چې ټول محتویات ترې وباسم.

خو ځکه چې څه مې نه خوړلي او معده مې تشه وه حالت مې نو هم پسي خرابېده.  له ډېر وخت وروسته خاموشي خپره شوه، او  آرامۍ سره مې د موټر د دروازې د پرانستلو غږ واورېده. احساس مې وکړ چې تر یو بریده په هوښ راغلې یم، خو هر څه تیاره وو او نه شوم پوهېدلای چې چېرته یم.

د کیلي د تاوېدو غږ مې واورېده، نو غوږونه مې لا پسې تېز کړل. دروازه خلاصه شوه او پوه شوم چې د موټر په صندوق کې یم

په ډېرې وېرې او وحشت سره مې هغه کس ته وکتل کوم چې زما مخې ته ولاړ و.

ورو ورو مې په ژړا او زاریو پیل وکړ: هیله کوم وروره ما پرېږدئ چې لاړه شم. باور وکړئ زه ستاسو په کار نه راځم، زه کوژدن لرم. یوه حساسه مور لرم که یوه دقیقه ناوخته کړم ورخطا کېږي. هیله کوم پرېږدئ چې لاړه شم.

هلک په جدیدیت سره زما خواته راکتل او ویې ویل: لاړه شه، لار خلاصه ده. وګورم چې څنګه ځي؛ بیړه وکړه مخکې له دې چې نظر مې بدل شي.

په نه بیانېدونکې خوشحالۍ سره مې د موټر له یوې غاړې ونیوه او یوه پښه مې بهر کېښوده. څو چې لږ سر مې پورته کړ سر مې وکرځېده او ولوېدم.

د لمر تېزې وړانګې مې په مخ لګېدې او سترګې مې نه شوای خلاصولې. هغه هلک په لوړ غږ وخندل او قهقه

یې زما تر غوږونو ورسېده.

خو ما له هغې لاس وانه خیست. ځمکه مې ونیوله او او پورته شوم.

په سختۍ سره په دوه پښو ودرېدم او حرکت مې پیل وکړ. داسي احساس مې کاوه لکه ټول ځواک او توان چې رانه اخیستل شوی وي.

که څه هم سترګو مې څه سم نه شوای لیدلی، خو مخې ته مې د اوسپنې یوه زنګ وهلې دروازه ولیده. پوه شوم چې د چهاردیوالۍ ترمنځ بنده پاتې یم او د تېښتې لاره نشته.

په چیغو او مرسته غوښتلو مې پیل وکړ. یو له هغو هلکانو څخه رانږدې شو او زما خوله یې کلکه ونیوله.

ما نور انتظار ونه کړ او په ټول توان سره مې پرې برید وکړ. تر کومه مې چې وسه رسېده د خپلو نوکانو په

وسیله مې هغه زخمی کړ.

خو د حمید په را رسېدو سره هغه یو کلک سوک زما په زړه وواهه. ساه مې په ستونی کې بنده شوه. تلوار سره یې یو دستمال زما خولې ته ونیوه.

د زړه په شاوخوا کې مې دومره درد احساس کاوه چې نور مې هېڅ هم په یاد نه لرم.

-له نرۍ څخه بې خبره ژُخشانه د دوهم ځل لپاره بې هوښه شوه. خو پوهېده چې د هر کار د ترسره کولو لپاره ډېر ناوخته دي، او یوازې معجزه کولای شي هغه وژغوري.

کنې امکان نه لري چې په سالم ځان سره له دې ځایه ووځي.

هغه ورځ هم لمر د نورو ورځو پشان ځلېده او د آسمان تر ټولو لوړې برخې کې و. ساعت د ورځې دولس نیمې

بجې ښودلې؛ ټیک هماغه وخت چې زده کوونکي له مکتب څخه رخصتېږي او د خپلو کورنو او ژوند په لور روانېږي.

د ژُخشانې مور پوښې(ټیکری) په لاس دروازې ته نږدې د ژُخشانې په تمه وه، ترڅو لور يې راشي، کور هغې ته وسپاري او خپله د هغه ښځینه تنور په لور لاړه شي چې شپږ بوډۍ يې د پخولو لپاره ورې وې؛ د ژُخشانې انتظار يې کاوه چې کور ته راشي.

خو له بده مرغه دې اتنظار پای ونه موند. یوه بجه شوه، بیا یوه نیمه، دوه، دوه نیمې؛ خو د ژُخشانې درک نه و.

د هغې مور بېچاره ورو ورو اندېښمنه کېده، یا کېدای شي اندېښمنه شوې وه،  خو نه يې غوښتل چې خبره دېره جدي وګڼي.

هره دقیقه به یې ځان سره ویل؛ یو ځل دا انجلۍ په کور کې پښه کېږدي، به احد او واحد خدای قسم، چې داسي کار به ورسره وکړم چې ترڅو یې ژوندې وي هېر به یې نه کړي.

خو هغه ورځ د نورو شپو په خلاف شپه ژر راورسېده. د کور غړي یو بل پسې کور ته ننوتل، خو د رُخشانې مور په ناباورۍ سره د دروازې خواته سترګې نیولې وې، ښایي هره شېبه امکان ولري چې لور یې راشي.

د خبرو د بیان توان یې له لاسه ورکړی و. نه یې شړای کولای د رُخشانې پلار ته ووایي چې لور یې ورکه شوې ده.

د دهلیز په هغې لارې کې ولاړه وه چې د حویلۍ له دروازې څخه دې بېر واټن نه درلوده، او دعا دعا یې کوله ګې رُخشانه بېرته کور ته راشي.

خو هر څوک چې راتلل په خپل ټاکلی وخت راغلل؛ خو یوازې ږځشانه نه وه راغلې.

حکیم، د کور مشر زوی مور ته غږ وکړ: مورې، ږځشلنه چېرته ده ولې مې نن هغه ونه لیدله؟

بېچاره ښځه، د بدبختۍ او شرمندګۍ په خولو کې لمده وه، په مات غږ او له درده ډکو شونډې پرانستې او ویې ویل: راځي زویه، صبر وکړه.

د اوښکو درنه حلقه د هغې په شرو سترګو کې جوړه شوې وه، خو د ماتېدو قصد یې نه درلود چې ښکته تویې شي.

په لړزېدلو ګامونو سره د دروازې په لور روانه شوه او بشپړې تیارې سره مخ شوه. لاس یې په خولې کېښوده او ورو ورو یې په ژړا پیل وکړ. څو ګاونډیان د هغې د رسوایۍ غږ ونه وري.

هماغه وخت یې یوې ښځې ته پام شو مقابل لوري څخه دې خواته را روانه ده.

اوښکې یې پاکې کړې، لږ ورته ځیر شوه د تمنا مور یې ولیده.

په یو بې فکره اقدام سره یې د هغې ښځې کړه.

مخکې لاړه، او د هغې له پریشانه څېرې څخه پوه شوه چې شاید دواړه ګډې ستونزې سره مخ شوي.

د تمنا مور د لېونیانو په څېر شاوخوا کتل. کله چې یې د رُخشانې مور ولیده، ورنږدې شوه او ویې ویل: ګرانې، تا تمنا نه ده لیدلې؟ نن کور ته نه ده راغلې. مکتب ته لاړم پوښتنه مې وکړه، په ناباورۍ سره یې وویل " ستاسو لور خو نن په ټولګي کې حاضره نه وه." زه مې خپل عقل له لاسه ورکوم. پلار یې په سفر کې دی، زه به هغه ته څه ځواب ورکوم؟ هر هغه ځای مې

ولټاوه چې ذهن کې مې و، خو پیدا مې نه کړه خدایه، مرسته راسره وکړه. لورمې چېرته ده؟!

د تمنا د مور په لیدلو، د ژُخشانې مور نوره چپ پاتې نه شوه. په اوښکو او ژړا سره یې وویل: بدبخته شوو. خورې، ژُخشانه هم ورکه ده. له څومره وخت څخه یې انتظار کوم، خو شپه شوه او لور مې کور ته نه ده راغلې. که پلار یې خبر شي قیامت به جوړ کړي. خدایه انجونې چېرته لاړې؟!

هماغه وخت د ژُخشانې پلار له کوره راووت. کله یې چې خپله مېرمن د شپې په تیاره کې په ژړا او زاریو ولیده، په بیړه ورنږدې شو او ویې ویل: څه خبره ده، ښځې؟ خیر خو دی؟ تاسو دواړه ولې ژاړئ؟!

نور ددې خبرې پټول ممکن نه وو، نو بېچاره ښځې د ټولو پېښو په بیانولو پیل وکړ؛ دا چې لور یې له څه وخت څخه ورکه ده او ان له مکتب څخه هم کور ته نه ده راغلې.

د ږخشانې پلار یو زوړ او کمزوری سړی و. د لور د ورکېدو په اورېدو سره یې ټول بدن ولړزېده. په بیړه یې د کور په لورې منډه کړه او چیغې یې کړې:
ږخشاااانې، لورې ته چېرته یې؟

ټولې کوټې یې ولټولې، خو کله یې چې لور پیدا نه کړه، له ناهیلۍ او نامیدۍ څخه په ډک غږ یې خپلو زامنو ته غږ کړ: چېرته یاست، بې غیرتو راشئ خور مو ورکه ده. آخر تاسو کوم یو داسې مهمه دنده لرله چې په خپلې خور مو پام نه و؟ حکیمه چېرته یې؟ راشه، وګوره، موږ بدبخته شوو.

په لړزېدلو پښو د دهلېز پر زینو کېناست. هر څوک له به یې چې څنګ ته راتلل، پرې غږ به یې کاوه او چیغې به یې وهلې چې: لور مې پیدا کړئ! ږخشانه په دې توره شپه کې چېرته ده؟ د کوم کافر او بې دینه سره به وي؟  اصلاً ژوندۍ ده کنه؟ خدای خبر لورمې په کوم حالت کې به وي. زما د سترګو په وړاندې مه

اوسئ! ژر کوئ، زما لور پيدا کړئ. بې غيرتو، افسوس په هغه ډوډۍ چې تاسو ته مې درکړې.

بېچاره سرې نه پوهېده چې لومړۍ کومه دروازه وټکوي. په دې توره شپه کې به يې خپله لور چېرته لټوله؟

کله چې پوه شو چې لور يې ډوله ورځ ورکه وه، او مېرمنې يې هغه ته هېڅ نه وو ويلي، له غوسې يې وينه په جوش راغله. که يې حکيم مخه نه واى نيولې، د رُخشانې مور يې په قتل رسوله.

شپه له لسو بجو اوښتې وه. روغتون په روغتون د رُخشانې د جنازې په لټه کې وو، خو په دوه لارو کې بند پاتې وو. دا چې خوشحاله شي چې لور يې د هغې ورځې په جنازو کې نه وه، يا خفه شي چې تر اوسه يې لور نه وه پيدا کړې.

هوا ورو ورو روښانه کېده. شونډې او خولې وچې ټوله کورنۍ د ځخشانې په لټه کې وه. د خپلې کورنۍ د حیا او عزت له وېرې یې هېچاته څه نه ویل، تر څو ښایي خپله لور په خپله پیدا کړي.

خو د بلې ورځې ترپایه، کله یې چې ټول روغتونونه او طب عدلي ولټول، له هغې وروسته یې پولیسو ته مراجعه وکړه، ترڅو د هغوي په مرسته خپله لور پیدا کړي.

خو د مزر بلې خوا ته، دوه بېچاره او بدبختې انجونې په زیر زمیني کې، د متروکه په کور کې، د ښار او خلکو څخه لرې زنداني شوې وي.

هغه ځای چې دوه نویو او خامو ځوانانو د عیاشۍ بستر جوړ کړی و.

خو له دوه ورځو پرله پسې د بې هوښۍ د موادو له اغېزې وروسته، ځخشانې نور نه شوای کولای حقیقت

له خیاله جلا کړي.

د دربیمې ورځې په سهار، د بې هوښۍ د موادو اغېزه ورو ورو په کمېدو وه او د هلکانو هم هېڅ درک نه و، ژُخشانې سترګې پرانیستې. مخې ته یې د لمدې خاورې یوه کوچنۍ غونډۍ ولیده. پوه شوه چې د ځمکې په سر لوېدلې او لاسونه یې شاته کلک تړل شوي دي.

خو هغه څه چې ژُخشانه یې د جنون تر پولې رسوله، د هغې بې پوښښه بدن و. باور یې نه کېده چې له کوم پوښښ پرته هلته زنداني شوې ده.

ځان ته یې نجس فکر کاوه، د حیوان فکر یې کاوه. خپل ځان ته یې د کنټرول توان نه درلود. دعا یې کوله چې ځمکه خپله خوله خلاصه کړي او هغه تېره کړې. او دا ټول دا شرم او حقارت یې خپل ځان سره خښ کړی وای.

خپل ټول ځواک یې سره راټول کړ ترڅو تاو شي او هغه کوټه په ښه توګه وګوري چې په کې زنداني شوې ده.

خو ناڅاپه یې د خپلې خیټې په لاندې برخې کې شدید درد احساس کړ. له درده یې چیغه کړه او پاتې توان سره یې په ژړا پیل وکړ، او له خپل بدمرغه برخلیک څخه یې شکایت کاوه.

هماغسې په خاور کې پرته وه، چیغې یې وهلې او له خپل خدای څخه یې مرسته غوښته.

هماغه وخت کې یې د یو چا غږ واورېده. په ډېرې سختۍ سره یې سر پورته کړ، ترڅو وګوري چې څوک دی.

خو د کوټې بلې خواته د تمنا په لیدو سره حیرانه شوه، نه پوهېده چې خوشحاله شي که خفه. پیل یې وکړ تمنا ته په ښېرا کولو او ویې ویل: ته هم دلته یې؟ بد

ذاتي انجلۍ لعنتي. ما فکر وکړ چې ته تښتېدلې یې.
خوشحاله یم چې اوس زه کوم درد احساسوم، ته  هم
پرې پوهېږې.

خو له دې څخه یې ډېر څه ونه ویل، او د دوارو په
حال یې وژړل.

تمنا هم له رُخشانې څخه ښه حالت نه درلود. د
رُخشانې د تصور خلاف، هغه هم قرباني شوې وه.

تمنا شونډې پرانیستې، او داسې غږ سره چې ته به
وایې د څاه له تل څخه راوځي وویل: پوهېږئ، له ځان
څخه ډېره تاته اندېښمنه یم. کاشکې مې ته ځان سره
نه راوستلې. ما څلور کاله شپه او ورځ، له حمید سره
خبرې کولې او فکر مې کاوه هغه مې ښه پېژاندلی دی.
نه پوهېدم چې هغه دومره نجس انسان دی، او دومره
شیطاني فکرونه لري. هیله کوم، ما وبښه رُخشانې هیله
کوم...

خو دې ښښنې غوښتلو او تأسف هېڅ درد نه شو درمان کولای.

کله ناکله په ځوانۍ کې؛ په داسې حال کې چې مست او مدهوش یو، داسې کارونه کوو چې نه پوهېږو پایله به یې څه وي؟!

ژُخشانه که هر درد تېر کړي، خو هغه ورځې یې هېڅکله له یاده نه وځي او ترپایه به یې د یو دروند اوسپنېز زنځیر په څېر په غاړه کې لري، تر هغه وخته پورې چې مړه کېږي.

لا ډېر وخت نه و تېر شوی چې د کوټې د دروازه خلاصه شوه او د چا د قدمونو غږ واورېدل شو.

ژُخشانې له شرمه خپل سر نه پورته کاوه چې هغه کس ته وګوري. سترګې کلکې پټې کړې او له غوسې څخه یې د بدن عضلات کش شوي وو. په عاجزۍ سره یې له هغه هلک څخه وغوښتل چې د هغې ژوند پای ته

ورسوي. ویې ویل: ګوره وروره، نه پوهېږم چې ته څوک یې. خو د کړکۍ له تیارې او رڼا څخه پوهېږم چې څو ورځې کېږي دلته یم. کېدای شي نور مو د هوس تنده ماته شوې وي. نو هیله کوم، ما له دې بدمرغه ژوند څخه خلاصه کړئ.

زه نوره انسان نه یم، له ما څخه مو هر څه واخیستل. هیله کوم ما آرامه کړئ. باور وکړئ حلال کوم، تاسو بښم، خو تاسو ما ختمه کړئ.

کله چې هلک هغه له مټ څخه ونیوله او غوښتل یې چې له ځمکې یې پورته کړي، ژُخشانې چیغې کړې: ماته لاس مه راوړه. ولې نه پوهېږې؟ ولې ته په بلې ژبې خبرې کوې چې زما خبرې نه شي درک کولای. هیله کوم، له دې څخه ډېر زما ارزښت مه ښکته کوئ. کوم کار چې تاسو غواړې، زما له بې روحه جسد سره یې هم کولای شي. نو ولې؟؟ نو ولې کله چې هوښیاره یم او هر څه درک کوم، له ما څخه ګټه اخلئ؟!

هلک چې د ږخشانې سترګو ته د کتلو توان یې نه درلود، ویې ویل: باور وکړه، زه ستا له راوستلو څخه خبر نه وم.

مور ږغوښتل یوازې تمنا له ځان سره راولو. هغې له ما او حمید سره اړیکه درلوده او له مور یې خپل ریشخند جوړ کړی و..

ټاکل شوې وه چې دا له تمنا څخه یوه ساده غچ اخیستنه وای، خو ته په ناسم وخت او ناسم ځای کې موجوده وې. امکان یې نه درلود چې تمنا له ځان سره راولو او تا پرېږدو. کاشکې! هغه ورځ ته نه وای راغلې. زه تاقل نه یم، خو ستا لپاره اوس فرق نه کوي. کله چې اوبه له سره واوړي، بیا لږې وي که ډېرې، یو شان وي. ما تر اوسه تاته لاس نه دی دروړی، ښایي باور دې ونه شي، خو هر څه چې شوي، د حمید کار دی.

خو هېڅ خبره دومره ځواکمنه نه وه چې د ږخشانې دردونه آرامه کړي. په نړۍ کې به ډېر کم خلک د هغې

په څېر په درد اخته شي، خو هېڅوک له مخکې داسې پېښې ته پلان نه شي جوړولی.

خو یو څه واضح و. هغه دا چې ږخشانې خپل ځان نه شو ښښلی.

هغه شپه نوره بې هوښه نه وه. د بلې ورځې تر پایه حمید د وحشي لیوه په شان له هغې څخه ګټه واخیسته، په داسي حال کې چې د ږخشانې داخلي اندامونه د منځه تللو په حال کې وو. له ډېر درد څخه هغه انجلۍ د منځه تللو په حال کې وه. د هغه هلک کارونو ته یې حتی د اعتراض اه هم ونه کړ.

ځکه هغه په دې باور وه چې؛ کوم څه له خپله لاسه وشي نه درد لري، نه درمان.

د لیکوالې یادونه: "د ځینو زړه بوږنوونکو صحنو له امله، کومې چې له ما لږ څه سانسور شوې دي، ښښنه غواړم. او د راتلونکو صحنو له امله هم، باور وکړئ،

ددې لیکل زما لپاره هم آسانه نه دي. خو ځینې حقایق باید وویل شي، که څه هم نا خوښ وي."

همچنان زه ددې ناول د ژباړونکې په حیث تاسو څخه بښنه غواړم. ځکه دې ناول کې زما قلم او چلېدلی دی، که څه هم د ژباړې برخه ده. او بله خبره دا چې ددې ناول ژباړه که څه هم زړه لړزوونکې او سخته ده خو زه مې خپله دنده ګڼم. او د مطالعې لپاره یې اړین بولم.

سهار نهه بجې وې او لمر خپلې وړانګې پر ځمکه شیندلې. نه د پسرلي د هغې ښې هوا نښه وه او نه د رُخشانې او تمنا.

څلور ورځې تېرې شوې وې، خو لاهم د رُخشانې له حاله د هغې کورنۍ ته هېڅ خبر نه و رسېدلی.

د تمنا پلار د سفر پر مهال د خپلې لور له ورکېدو خبر شو او په لومړي فرصت کې کابل ته راغی. بېشکه هېڅ

پلار ته دا خبره د منلو وړ نه ده چې لور یې له کوره تښتېدلې ده.

بېچاره سړی دومره شرمېدلی و چې د سیمې خلکو ته یې د کتلو توان یې نه درلود. داسې یې احساس کاوه لکه تر ټولو لویه ممکنه تېروتنه یې چې کړې وي.

هماغسې چې په دوارو کورنیو کې ماتم جوړ و، وحید هم پو شو چې څه پېښ شوي دي، خو باور یې نه شو کولای.

ساه نیولی د خپل تره کور ته ننوت او د هغوي له غمجنو څېرو سره مخ شو، او په حیرت یې د هغوي خواته کتل.

رُخشانه چې د وحید مېرمن وه، نو هغه نه شوای کولای چې په آسانۍ سره له دې موضوع څخه تیر شي. په وجود کې یې ډېره غوسه وه او غوښتل یې چې باید یو څوک ددې پېښې ځواب ورکړي.

نه پوهېده چې لومړی څوک ملامته کړي؛ خپل ځان چې ژُخشانې ته یې موبایل اخیستی و، که د ژُخشانې ژُخشانې کورنۍ چې د خپلې لور په روزنه کې پاتې راغلي وو.

خو په دې بدنامۍ کې به خامخا یو څوک تاوان ورکوي او ددې پېښې پړه به پر غاړه اخلي.

تر هغه چې معلومه نه وه انجلۍ تښتېدلې که ورکه شوې ده، نه شوای ویل کېدای چې اصلي ملامت څوک دی.

وحید په لړزېدلو پښو خپل تره ته ورغی او د هغه مخې ته ته پر ګونډو شو.

نه پوهېده څه ووایي. د خپل تره لا یې ښکل کړ او د باډ ورکولو لپاره یې وویل: اندېښنه مه کوئ، بالاخره به پیدا شي. داسي خو نه ده چې تر ابده به لا درکه وي.

د ځُخشانې پلار، په څو ورځو کې د څو کلونو په اندازې زوړ شوی و.

په داسې حال کې هغه د خپل وراره سترګو ته د کتلو توان نه درلود، سر يې پورته کړ او ويې ويل: وحيد جانه، ته خو خبر يې کنه چې زما لور بده انجلۍ نه ده. زه باور نه شم کولای چې چا سره به تښتېدلې وي. حتماً چا تښتولې ده. زما بېچاره لور بې ګناه ده. ته هم همداسې فکر کوې؟

وحيد چې نه پوهېده چې څه ووايي په اجبار يې سر وخوځاوه او ويې ويل: هو، ځُخشانه ترټولو پاکه انجلۍ ده چې ما پېژانده. امکان نه لري چې له کوره تښتېدلې وي. که منتطقي فکر وکړو، هغې د تښتېدو هېڅ دليل يې نه درلود. زه دعا کوم چې هر چېرته چې وي، د الله په امان کې دې اوسي.

د درناوي لپاره د ځُخشانې د مور په لورې ورغی، د هغې لاسونه يې ښکل کړل او په څنګ کې يې کېناست.

د ژړغونې مور ډېره ماته شوې وه. هغه پخوانۍ ښځه نه وه پاتې چې په غرور به يې قدمونه اخيستل.

وحيد ته يې وکتل او ويې ويل: زويه يوه پوښتنه درنه کولای شم؟

وحيد وويل: هو ووايئ.

د ژړغونې مور خپلې اوښکې پاکې کړې او ويې ويل: که ژړغونه ببرته راشي، ته به بيا هم له هغې سره د پخوا په شان واده کولو ته تيار يې؟

وحيد چې ځان په دوه لارو کې بند وليده، د تره ښځې په ځواب کې يې سکوت اختيار کړ او څه يې ونه ويل. خو نور يې نه شو کولای چې د ژړغونې په کور کې پاتې شي. ځکه ډېر درونډ و او ساه اخيستل يې سخت کړي وو.

حکیم چې تر هاغه وخته چپ و، په خبرو یې پیل وکړ او ویې ویل: مطمئن یم چې تمنا او رُخشانه یو ځای کې دي. خو اې کاش لږ تره لږه تمنا موبایل درلودای، څو پولیسو پلټنې کړې وای او هغوي مو پیدا کړي وای. موږ د رُخشانې د پیدا کولو لپاره هېڅ نښه په لاس کې نه لرو. پولیس هم نه غواړي چې له موږ سره مرسته وکړي. د خدای لپاره څلور ورځې وشوې خو تر اوسه دا هخ نه معلومولای چې رُخشانه مړه ده که ژوندۍ. آخر دا پولیس څنګه نه شي کولای یو انسان پیدا کړي. مګم دا د پولیسو او د قانون د خلکو کار نه دی؟ اووف، لېونی کېږم. که دا بدمرغه ورځې همداسي دوام وکړي سر په دښتو به شم، نور نه شم کولای د پخوا په شان په کوڅو کې وګرځم. ډېر بد خلک لرو. په داسي نظر راګوري چې د مرګ هیله به درته پیدا شي.

ددې خبرو په اورېدو سره وحید له خپل ځای څخه پورته شو او ویې ویل: رُخشانه موبایل لري.

ټولو په حیرت سره د هغه خواته کتل، خو نور نه کېده چې دا راز پټ وساتل شي.

وحید وویل: ښښنه غوارم، خو ما ځخشانۍ ته موبایل اخیستی و، ترڅو له یو بل سره اړیکه ولرو او خبرې وکړو. زما نیت بد نه و. آخر موږ کوژده شوي وو او زما په.نظر دا ګناه هم نه ده...

حکیم پرته له دې چې د وحید خبرې بشپړېدو ته پرېږدي په هغه یې حمله وکړه.

خو معلوم نه چې د کومې خبرې کوفت ترې باسي؛ د خور ورکېدل، د خلکو نظر او که د موبایل له امله.

خو وحید د حکیم د وهلو به وړاندې هېڅ دفاع ونه کړه، ځکه ځان یې ملامت ګاڼه. تر هغه چې د ځخشانې پلار چیغه کړه: بس کړئ.

حیکم وحید پرېښود او په سختو ښکنځلو د کوڅې په لور روان شو.

د ژُخشانې پلار په تلوار سره له ځایه پورته شو او ویې ویل: شمېره یې څو ده؟

وحید وویل: د څه شمېره؟

د ژُخشانې پلار وویل: د ژُخشانې د موبایل شمېره. ترڅو پولیس یې وپلټي ژر کوه باید لاړ شو. نه پوهېږم دا چې ژُخشانې ته دې موبایل اخیستی خوشحاله شم که خفه خو، د شمېرې په وسیله کولای شو ځای یې پیدا کړو.

ټوله کورنۍ د خپلې لور د پیدا کولو په هیله د د ملي امنیت ریاست په لور روانه شوه.

هغوی د مخابراتو وزارت ته هم لاړل، ترڅو د ټیلیفون شمېرې د تعقیبولو اجازه واخلي، ترڅو کېدای شي

وشي کولای چې ځخشانه پیدا کړي.

خو د هغې پیښې له امله، د ځخشانې شمېره د وروستي ځل لپاره د مکتب شاته کوڅه کې بنده شوې وه.

د هغو راتلونکو اړیکو له لېست څخه یې یو بله شمېره هم پیدا کړه، خو هغه شمېره هم په هماغه ځای کې بنده شوې وه.

پولیس په دې باور وو چې یا تمنا موبایل لري، او یا هم کوم کس چې دا د انجوني تښتولي ددې شمېرې خاوند دی.

خو کله چې یې د دویمې شمېرې د اړیکو لېست وکوت، له ډېرو کسانو سره یې پرې اړیکې ومونډلې.

سیم کارټ ډېر پخوانی و او له زړګونو کسانو سره یې پرې میسجونه او غږېزې مکالمې شوې وې.

له ډېرو څېړنو وروسته یې د شمېرې خاوند پیدا کړ. یو بوډا سړی و چې ویل یې درې کله مخکې یې موبایل ورک کړی دی او اوس له بلې شمېرې څخه ګټه پورته کوي.

دا ځل یې هم غشی په هدف ونه لګېده، نه کېدل چې په بندې شمېرې پلټنې وکړي.

دویم ځل لپاره دواړه کورنۍ ناهیلې بېرته خپلو کورونو ستنې شوې او د رُخشانې د شمېرې بیا فعالېدو لپاره لاس په دعا شول.

خو رُخشانه له هر څه رانه ناخبره په زیر زمینۍ کې بندي وه. هره ورځ چې تېرېده د هغې لپاره د زرو وروځو حسابېده.

تبه یې درلوده او بدن یې سخت درد کاوه. د داخلي دردونو له امله یې ټکان نه شو خوړلای. د مړي په شان د یخې او تیارې په کونج کې پرته وه.

درد به یې هر پنځه دقیقې وروسته له نس څخه پیل کېده او د بدن هرې برخې ته به خپورېده.

تر دمه یې دومره درد هېڅکله نه و احساس کړی او بدن یې ډېر ضعیف شوی و.

نور ورته اړینه نه وه چې تمنا په څه حال کې ده، خو په دې پوهېده چې هغه هم درد لري.

هر ځل به یې چې ساه اخیسته داسې احساس یې کاوه چې وروستۍ ساه یې ده.

زیر زمینۍ د لمدې او یخې ځمکې له امله یې بدن شخ شوی و، خو بیا یې هم هیله درلوده چې ښایي کوم څوک راشي او دوي وژغوري.

هر څومره وخت به چې تېرېده خپل هوښ به یې ورو ورو کمېده. د کوټې دېوالونه یې په سر تاوېدل.

احساس یې کاوه چې وروستۍ ساګانې یې دي او نور د تلو وخت را رسېدلی دی. تمنا کمزوری غږ یې تر غوږونو ورسېده، چې هغې ته یې غږ کاوه: هې انجلۍ، زما غږ اوري. هیله کوم له ما سره خبرې وکړه. زه... زه نور توان نه لرم. که امکان لري راشه زما ځان واخله. هیله کوم! مخکې راشه زما خوله او پزه ونیسه، ترڅو د ساه بندۍ له امله مړه شم. څه کېږي ما سره مرسته وکړه.

تل به دې ویل چې زما احسان منده یې، راشه او خپل دین ادا کړه. هیله کوم.

تمنا په ژړا او زاریو پیل وکړ او له رُخشانې څخه یې د مرستې غوښتنه کوله.

خو رُخشانه په داسې حال کې نه وه چې حتی یو ګام پورته کړي. د حرکت توان یې له لاسه ورکړی و او د تمنا فریادونه یې د میخ په شان په مغزو کې ټکېدل.

په لوړ غږ یې چیغه کړه: بس کړه! ته خو خپله تن فروشه وې، زه دې ولې بدبخته کړم؟ لعنتي، هوس بازې، مګم یو هلک درته کافی نه و؟ ولې دې د دوه کسانو له احساساتو سره لوبې وکړې؟ اوس زما ګناه څه ده؟ زه ولې باید ستا د حماقت تاوان ورکړم؟ پوهېږې، له ماسره دې څه وکړل، تا زه بدبخته کړم. کوژدن مې درلود. ماته یې د ځمکې فرښتې په نظر کتل، ژوند مې ډېر ښه و...

خو نور یې د خبرو توان نه درلوده او په ژړا یې پیل وکړ.

کېدای شي چې د ښځې وروستی سنګر د هغې اوښکې وي، خو هغه ورځ هماغه وروستی کار و چې ځخشانې یې د کولو توان درلود.

ټوله ورځ یې تبه وه او داخلي زخمونه سوځېدل خو څوک نه چې درد یې درمان کړي.

ږخشانه، د کور نازولې لور. د یو سر دردۍ له امله به روغتون ته رسېده، خو اوس د ځان ورکولو په حال وه.

ریښتیا هم ژوند له ځینو کسان سره ډېر بد چلند کوي. حتی په خوب هم نه لیدل چې یوه ورځ به پرې داسې بلا را نازله شي.

احساس یې کاوه د وجود یوه برخه یې د شکېدلو په حال کې ده.

حتی نه یې غوښتل چې خپل بدن ته لاس وروړي؛ احساس یې کاوه چې لاسونه به یې په ناپاک شي.

خو تر ډېره بیا دې ته ځورېده چې آیا په همدې آسانۍ سره یوه انجلۍ تباه کېږي او له هغې څخه بې روحه جسد جوړېدای شي.

که له انسانانو څخه د انسانیت هنر واخلو، نو له هغوی څه پاتې کېږي؟

په ریښتیا هم انسان اوسېدل هنر غواړي، او هر څوک دا هنر نه لري، په داسي حال کې چې ټول ځان ته د اشرف الخلوقات فکر کوي.

ژُخشانې په دغو څو ورځو کې په ښه توګه درک کړه چې د انسان په وجود کې کله نا کله یو بې رحمه او وحشي حیوان پټ وي؛ داسې انسان چې جنسي غوښتنې یې په ټول وجود حکم کولای شي.

او د الله ﷻ پرته هېڅ د هغه په درولو قادر نه دی.

هغه ورځ پای ته رسېدلې وه چې د قلف غږ یې واورېده. لږ وروسته حمید چې د یک بار مصرف په لوښو کې خواړه راوړي وو او د هغوي خواته راغی.

حمید ژُخشانه له دوارو لاسونو څخه ونیوله او له ځمکې یې پورته کړه، ترڅو هغه کېنوي، خو ژُخشانې له درده چیغه کړه: نه شم کولی، باور وکړه، نه شم کېناستلی. ستا خواړه نه غوارم. لاړه او ما پرېږده چې

مره شم. ستا دا خواخوږي څه معنا لري؟ ولې هڅه کوې چې ماته ډوډۍ راوړي؟ نه يې غواړم. ستا خواږه زما هېڅ نه خوښېږي، هيله کوم لاړ شه.

حميد وويل: که ډوډۍ ونه خورې، مره کېږې زه نه غواړم چې ستا قاتل اوسم...

ژخشانې د حميد لعنتي څېرې ته وکتل او په غوسې سره د خولې لاړې د هغه خواته ور توف کړې. او ويې ويل: آيا اوس زه ژوندۍ يم؟

حميد چې په دې حرکت باندې ډېره غوسه شوی و، يوه کلکه څپېړه يې د ژخشانې مخ ته حواله کړه او ويې ويل: ته حيوانه يې په ښو نه پوهېږې. ما قصد درلود چې نن شپه له تا سره هېڅ کار ونه لرم، خو فکر کوم ته خپله غواړې نو له ماته ګيله مه کوه.

ژخشانې چې ځان په ښه حالت کې نه ليده د حميد په وهلو يې پيل وکړ څو له ځان څخه دفاع وکړي.

مګم یوه انجلۍ تر کومې اندازې کولای شي له یو هلک سره مقاومت وکړي؟

هغه شپه رُخشانې په ریښتنې توګه مرګ ولیده، او د وجود هر بند یې حس کړ.

خو د غم شپه ژر نه ختمېږي. هغه شپه د رُخشانې د عمر تر ټولو اوږده شپه وه. د لومړي ځل لپاره د یلدا شپه د اوړي په موسم کې راغلې وه.

سبا ورځ کله یې چې ډېر په زحمت سره سترګې خلاصې کړې، د کوټې ورې او کم نوره کړکۍ ته یې وکتل او په ژړا یې پیل وکړ: خدایه، زه اوس هم ژوندۍ یم؟ ولې نه مړه کېږم؟

تمنا د کوټې په بلې خوا کې غړ واورېده او به خوشحالۍ سره یې وویل: ته ژوندۍ یې؟ ما فکر وکړ چې ته مې له لاسه ورکړې. ډېر غږونه مې درته وکړل، خو ځواب دې رانه کړ. ګوره رُخشانې، پوهېږم چې نه

غوارې له ماسره خبرې وکړې، خو فکر کوم هغوی تښتېدلي دي. ډېر وخت کېږي لاندې نه دي راغلي. ښايي تللي وي. ماښام نږدې دی. که د تېښتې هڅه ونه کړو، همدلته به مړې شو او هېڅوک به خبر هم نه شي.

ژُخشانې يو بوزخند وواهه او ويې ويل: حتی که هغوی تښتيدلی هم وي، خو زه د حرکت کولو توان نه لرم.

بايد له ملا نه ښکته برخه مې له بدن څخه جلا کړي، ځکه فکر کوم له هماغه ځايه مې بدن له منځه ځي. ته هم بد بوی احساس کوې؟ زه احساس کوم چې د خرابېدو په حال کې يم، او ټوله کوټه بد بوی ورکوي. کېدای شي مړه شوې يم او خپله نه پوهېږم.

تمنا وويل: نه يوازې د نم او خاورو بوی دی. هڅه وکړه چې په هوښ پاتې شې. تا خپل عقل له لاسه ورکړی ژُخشانې! هيله کوم هڅه وکړه چې په هوش پاتې شې. خپلې مور ته فکر وکړه، وحيد ته فکر وکړه. مګم ته له وحيد سره مينه نه لري؟ هغوي په ياد کړه. مور بايد

هڅه وکړو چې له دې ځایه وتښتو. حتی لاسونه دې هم نه دي تړل شوي، نو ولې نه تښتې؟

ړُخشانې قهقه باندې وخندل او ویې ویل: ټوکې کوې؟ یعنې زما لاسونه خلاص دي؟ نو مړه شوې یم، ځکه زه هېڅ ټکان نه شم خوړلای. یا کېدای شي دواړه مړې شوې یو. څه پوهېږې. دا کوم ځای دی، دوزخ دی؟ خامخا دوزخ دی، ځکه ډېر ګرم دی.

ړُخشانه د تېزې تبې او د بدن تودوخې له امله نه پوهېده چې څه وایي. پیل یې وکړ د ملي سرود په ویلو. تمنا چې هر څومره کوښښ کاوه هغې په هوښ وساتي، خو امکان یې نه درلود.

ړُخشانې وویل:  دا وطن افغانستان دی... دا عزت د هر افغان دی... کور دې...

بیا یې تمنا ته وکتل او ویې ویل: تمنا، ته یې ولې نه وایې؟ سر معلم به خفه شي. راځه یو ځای یې ووایو.

بیا یې پیل وکړ: دا وطن افغانستان دی... دا عزت د هر افغان دی...

تمنا چې د رُخشانې حالت ورته عادی نه ښکارېده، په مرستې غوښتنې او په چیغو یې پیل ویل: هیله کوم مرسته وکړئ، رُخشانه مړه کېږي. حمیده!!!!!! سیّره!!!! چېرته یاستي.

له نیم ساعت چیغو وروسته حمید دروازه خلاصه کړه او پوښتنه یې وکړه: څه خبره ده؟

تمنا په نیولي غږ وویل: رُخشانه مو له لاسه ورکړه. وګوره، یو ځل هم حرکت نه کوي. مخکې یې بدن لړزېده. هیله کوم دومره ظالم مه اوسئ. هغه مړه کېږي، بیړه وکړئ.

حمید د تمنا په خبرو باور ونه کړ، خو کله چې نږدې شو رُخشانې د سپینو سترګو په لیدو یې سیّر ته غږ

وکړ. په یو حرکت سره یې ژُخشانه له ځمکې پورته کړه او د بهر خواته یې منډه کړه.

ژُخشانه د بدن د عفونت له امله په شدیدې تبې اخته شوې وه، د بدن عضلات یې کلک شوي وو او له مرګ سره یې چندان فاصله نه درلوده.

دا هرڅه په داسي حال کې پیښ شول چې سیّر درې ساعته مخکې د ژُخشانې آیفون موبایل چالان کړی و، ترڅو کریډیټ پور واخلي.

کور له ښار څخه ډېر لرې و او سیّر نه شو کولی یوازې د کریډیټ لپاره ښار ته لاړ شي. نو فکر یې وکړ چې د ژُخشانې له موبایل څخه کریډیټ پور واخلي او بیا یې ژر بند کړي.

خو حمید هغه ته غږ وکړ. د ژُخشانې هغه بد حال په لیدو سره یې هېر شول چې موبایل بېرته بند کړي.

د موبايل له فعالېدو دوه ساعته وروسته پوليسو سيم کارټ تعقيب کړ او د هغوي پټ ځای يې وموند.

حميد او سير د ژخشانې په بدن اوبه اچولې ترڅو تبه يې راټيټه کړي، چې پوليس د کور له هرې خوانه کور ته رانوتل.

د ژخشانې پلار خپله لور په داسي حال کې پيدا کړه، چې ډېر بد حالت کې د دوه هلکانو مخته په ځمکې پرته وه.

-په يوه شنه چمن کې وم او د لېونيانو په شان نڅا مې کوله، پرته له دې چې څوک زما د خوښۍ مزاحم شي.

آسمان شين و. زه د زراعتي ځمکو هغې غاړې ته د يو جهيل په لور روانه وم. رسېدو ته څو قدمه پاتی وو.

نرم باد لګېده، زړه مې غوښتل چې ځان همدې باد ته وسپارم او هماغه ځای کې نڅا وکړم.

هغه وخت مې کولی شول د هغه باد له نغمو سره، کوم چې د شماله له لورې راتلو، وڅرخېدم او وڅرخېدم، پرته له دې چې زما د خوښۍ حال بدل شي.

خو نه پوهېږم چې ناڅاپه څه وشول، ناڅاپه خپلو کالیو ته پام شو چې په اوبو کې غرق دي. هغه هم دومره اوبه چې باور مې نه شو کولی دا دې زما د بدن خولې وي.

په همدې منځ کې مې د پلار غږ واورېده چې ماته یې غږ کاوه، خو خبرې یې ګنګ وې او پوه پرې نه شوم. ما هم د تل په څېر چندان پام ونه کړ او خپلو چورلېدو ته مې دوام ورکړ.

خو احساس مې کاوه چې انرژي مې ختمېږي او نوره په پښو د درېدو توان نه لرم. هېڅ شی عادی نه ښکارېده. اصل کې زه چېرته وم؟

خو لا ډېر وخت نه و تېر شوی چې پر ځمکه ولوېدم.

کوم چا زه خوځولم. سترګې مې خلاصې کړې او د پلار په لیدو مسکۍ شوم او ومې ویل: راغلی پلار جانه؟

-د ژُخشانې د پلار او ورونو په ننوتلو سره، پولیسو حمید او سیّر ونیول او بې له ځنډه د ژُخشانې په لور ورغلل. چا خپل کالي باسل او د ژُخشانې په مخ یې اچول، چا هڅه کوله چې ډاډ تر لاسه کړي چې هغه ژوندۍ ده.

لنډه دا چې د هغې په شاوخوا کې د پولیسو حلقه جوړه شوې وه او د ساه اخیستلو لپاره هم کافی هوا نه وه.

خو ژُخشانې پر شونډو یوه نرمه مسکا خپره وه.

د شین لنډ چمن او د یوې داسي حویلۍ په منځ کې چې هرې خواته یې ګلان وو، پرته وه او لا هم په خپلې خیالي نړۍ کې ګرځېده.

د ځښانې پلار خپل دستمال له سره خلاص کړ، د خپلې زخمي لور بدن يې په کې وپېچه، په غېږ کې يې ونيوله او د روغتون خواته يې حرکت وکړ.

ټوله لار يې وژړل. نه پوهېده چې دا د خوښۍ اوښکې دي که د غم، خو په دې خبره يې ژر ځله شکر ادا کاوه چې لور يې ژوندۍ ده.

د ځښانې سر يې په غېږ کې نيولی و او ناز يې ورکولو ويې ويل: شکر چې پيدا شوې لورې، شکر چې وينم ساه اخلې. د پلار ژونده، د پلار د زړه ټوټې... شکر چې پيدا مې کړې.

پرته له شک، داسې پوه او درک کوونکی پلار درلودل نعمت دی.

نه په تمه شو چې پوليس ورته کوم کار وکړي او نه هم د خلکو په خبرو پسې لاړ. يوازې خپله لور يې وژغورله؛ هغه کار چې بايد هر پلار يې تر سره کړي.

د افغانستان په شان دودیز هېواد کې د ژُخشانې سزا مرګ ده. او هر هغه پلار چې خپله لور ونه وژني، د خلکو له نظره بې غیرته دی.

شاید ډېر کم خلک د ژُخشانې د پلار په شان فکر او ایدلویوژی ولري، خو باقي ټول که څه هم لوستي وي، خو بیا هم خپل دود نه ماتوي، ترڅو په ټولنه کې خپل ځای له لاسه ور نه کړي.

کله چې روغتون ته ورسېدل ژُخشانه سمدستي په عاجلې څانګې کې ومنل شوه، ځکه د هغې د بدن ټپونو او عفونت درملنې ته اړتیا درلوده.

تر هغه وخته د ژُخشانې مور هم له کابله رسېدلې وه. د خپلې لور په لیدو سره یې باور نه کېده چې هغه یې ژوندۍ پیدا کړې ده.

خو به ناباورۍ سره تمنا پلار حاضر نه و چې خپله لور له ځان سره کورته یوسي. ده ټولو ته ویلي وو چې

لورې په یوې چاودنې کې شهیده شوې ده او غوښتل یې د هغې لپاره د فاتحې مراسم جوړ کړي.

د یو داسې چا د فاتحې مراسم چې لا ژوندۍ ده او ساه اخلي.

حتی دې ته حاضر و چې بې ځایه لګښت وکړي، ترڅو د تمنا د دروغجنې مړینې خبر خلکو ته ورسوي؛ خو تمنا یې له ځان سره نه وړله.

خو د ژخشانې پلار پوهېده چې که څه هم دا خبره له شرمه ډکه او دردونکې ده، په افغانستان کې د جنسي تاوتریخوالي قضیه دومره ډارونکې نه ده لکه څومره چې د خلکو لیدلوري د قرباني کس په هکله نظرونه دي.

د جنسي تاوتریخوالي ټپونه به درمان شي، خو د خلکو له حافظې هېڅکله نه پاکېږي او له یو نسل څخه بل نسل لېږل کېږي.

کلونه وروسته هم، کله چې له خروار خارو لاندې ویده وي، د قرباني تر مزاره ځي او وایي: دا هماغه انجلۍ ده، هماغه انجلۍ چې پرې جنسي تېرى شوى و او عزت يې له منځه تللى و.

خو د ځخشانې پلار قسم خوړلی و چې تر هغه چې په رګونو کې يې وينه جريان لري، له ځخشانې به د ټولو خلکو په وړاندې ساتنه کوي.

خو هغه نه شو کولای د تمنا د پلار په وړاندې چوپ پاتې شي. له خپل ځایه پورته او له هغه سره يې خبرې وکړې: ګوره وروره، نه زه تا پېژنم او نه تا ما پېژنم؛ خو د داسې موضوع درک کول پېژندګلوۍ ته اړتیا نه لري، زه تا تر بل هر انسان ښه درک کولای شم. ما هم داغ ليدلی، د خلکو د نظرونو لپاره دا د خدای لار نه ده چې لور دې بې سرپرسته کړې. څه چې غلط دي هغه غلط دي؛ اړينه نه ده چې چا ويلي. د خلکو خبرو ته غوږ مه نيسه او خپلې سمې لارې ته دوام ورکړه.

د تمنا پلار وويل: که زه دا انجلۍ ومنم او بېرته یې کورته یوسم، له بدنامۍ پرته به بل څه راته پاتې نه شي. زه دوه نورې لوڼې هم لرم، د هغوي راتلونکی به څنګه شي؟ هېڅوک به ورته په مرَګه را نه شي. ښه ده چې تمنا ښخه کړم، تر دې چې ټول عمر د دوست او دوښمن د خبرو او پېغورونو لاندې تېر کړم.

خو د رُخشانې پلار ډېر صابر انسان و. بیا یې په خبرو او نصیحت پیل وکړ ترڅو کېدای شي دا سړی عاقل شي.
له ډېرو خبرو وروسته بالاخره د تمنا پلار په دې راضی شو چې خپله لور له ځان سره یوسي.

خو په یو شرط. تمنا باید د یوې اونۍ په ترځ کې، له هر چاسره چې د پلار خوښه یې وي، واده وکړي. اړینه نه وه چې څوک وي او له کوم ځایه راغلی وي.

د کیسې له پیل څخه یې همدا هدف و؛ غوښتل دا شرط یې د کورنۍ له خوا ومنل شي، د همدې لپاره د

تمنا په راتګ نه راضی کېده.

رېښتیا هم، هېڅ خطر د انسان د احمقانه فکرونو څخه لوی نه دی.

څلورویشت ساعته وروسته ځُخشانې سترګې پرانیسې. د خپلې کورنۍ غړي یې ولیدل او پوه شوه چې ژوندۍ ده، نو په ژړا یې پیل وکړ. مور یې د هغې تندی ښکل کړ او ویې ویل: مه ژاړه زما ګرانې. نوره ته له مور سره یې. هغه کابوس نور هېر کړه، د مور ګرانې.

مګم کېږي چې په همدې آسانۍ سره یې هېر کړي؟!

یوه بده خبره کلونه زمور په ذهن کې پاتې کېږي، نو څنګه دا شومه پېښه هېره کړي؟

په وللّٰه چې محال ډېر دروند دی.

د ځُخشانې پلار د هغې د خراب حالت په اړه له مسؤل ډاکټر څخه وپوښتل، ځکه د تمنا حالت ښه و، خو

ژخشانه د مرګ په خو قدمۍ کې وه.

ډاکټر وویل: نه پوهېږم چې زما خبرې به څومره درک کولای شئ، خو ستاسو لور د هغې پښې پر مهال له سخت عصبي شاک سره مخ شوې وه. او دا شاک د هغې د ټول بدن د شخېدو لامل شوی و. په حقیقت کې دا د بدن یو دفاعي غبرګون دی، چې د ژخشانې بدن د یو ناخوښه کار په وړاندې ترسره کړی. ډېر زیات درد لري دا دفاعي سیسټم ډېر جالب دی، د بدن د ساتنې لپاره دی په داسې حال کې چې له انسان څخه د حرکت توان اخلي. خو ستونزه یوازې دا نه وه. ستاسو د لور واژن څو ځایه زخمي شوی او له څو ورځو وروسته یې میکروب نیولی. همدغه عفونت د هغې د لوړې تبې لامل شوی، تر دې چې بې هوښه شوې ده. که مو په وخت روغتون ته نه وای رسولی، امکان یې نه و چې ژوندۍ پاتې شوې وای.

ډاکټر بیا وویل: خو دا چې تاسو یې پلار یاست، باید

په دې هم پوه پوه شئ چې ستاسو د لور د امیدوارۍ احتمال ډېر زيات دی. اوس نه کېږي، خو باید د امیدوارۍ ټیسټ واخلئ، ترڅو ډاډ تر لاسه کړي.

د رُخشانې پلار حیران پاتې شو؛ نه پوهېده چې د ډاکټر په ځواب کې څه ووايي. له شرم څخه په ډکو سترګو او ټیټ سر يې له ډاکټر څخه مننه وکړه او د خپلې لور د کوټې په لور روان شو.

پولیسو خپلې پلټنې پیل کړې وې او باید يې د ورکېدو په اړه له تمنا او رُخشانې څخه پوښتنې کړې وای.

رُخشانې هم د خپلې کورنۍ په وړاندې د هغوي د تښتول کېدو او له هغې وروسته د پېښو ټوله کیسه بیان کړله.

د رُخشانې دوسیه جوړه شوې وه حمید او سیّر تر محکمې پورې په بند کې ساتل کېدل.

له یوې اونۍ وروسته ژُخشانه په پوره توګه ښه شوه او له روغتون څخه رخصت شوه، ترڅو بېرته خپل کور ته لاړه شي.

باور یې نه شو کولای چې یو ځل بیا به خپل عادی ژوند ته راوکرځي. خو هغه څه چې ډېره ځوروله د وحید نه راتلل و.

-له ځان سره مې وویل: شاید نور ونه غواړي چې زه یې مېرمنه شم!؟

حق لري، هېڅوک زما په شان بد نامه ښځه نه غواړي. سر مې د موټر په شیشې باندې تکیه کړ او بهر مې کتل.

مو مې وپوښتل: څه غواړي چې درته بې پاخه کړم؟

په ناخوښه انداز سره مې وویل: پیزا وي. پوهېږې، هره شپه مې پیزا په خوب کې لیدله، نه پوهېږم چې ولې.

له پیپسۍ سره چې چپس هم ولري.

مور مې وویل: په سترګو. له حکیم سره خبرې کوم چې له دباندې یې واخلي. اوس یوولس بجې دي، ترڅو چې کورته رسېږو ناوخته کېږي، ښه به دا وي چې له دباندې یې واخلو.

-سر یې وخوځاوه او ویې ویل: سمه ده، هر څنګه چې ستاسو خوښه وي.

کور ته نږدې تور پوښه د مکتب انجونو په لار کې ګڼه ګوڼه جوړه کړې وه.

په اوښلنو سترګو یې مور ته وکتل او ویې ویل: باید زما سی پارچه له دې مکتب څخه واخلئ. نور نه کېږي چې له دې بدنامۍ سره هغه مکتب کې درس ووایم.

مور یې په غېږ کې ونیوله او ویې ویل: په سترګو، هر څنګه چې ته وغواړې.صبر کور ته ورسېږو ددې په اړه

هم خبرې کو.

کله چې کور ته ورسېدل، رُخشانې د تمنا دوي په دوازې یو لوی قلف ولیده.

فرهاد وویل: دري ورځې کېږي چې له دې ځایه تللي. نېوهېږم چېرته؟ حتی خدای په اماني هم ونه کړه. په نیمه شپه لکه غله له خپل کوره وتښتېدل.

-ژوره ساه مې واخیسته او ومې ویل: تمنا دې ولیده؟ څنګه وه؟

فرهاد وویل: یوازې یو ځل مې ولیده، هغه هم د کور له بام څخه. دقیقاً څو شپې مخکې. غالمغال یې دوه کوځې مخکې هم اورېدل کېده، پلار یې د لېونیانو په شان چیغې وهلې. وروسته مې شپې ولیدل چې تمنا په خپل سر تور ټیکری اچولی و او د حویلۍ په منځ کې ویده ده. زړه مې د هغې په حالت وسوځېده خو هېڅ کار زما له لاسه نه کېده.

د فرهاد د خبرو په اورېدو سره نه پوهېدم چې د چا لپاره ډېرې اوښکې تویې کړم. تمنا هم بدبخته وه هم احمقه. په دې منځ کې یې ښه کورنۍ هم نه لرله. یوازې خدای کولی شول له هغې سره مرسته وکړي.

حکیم پیزا راوړه او د هغې له راتلو سره مې د لنډ وخت لپاره مې ټول غمونه هېر کړل او په خوړلو مې پیل وکړ. د نادیدو په شان مې ډوډۍ خوړله چې ک

له دوو اوونیو څخه کور نه لرې وم؛ فکر کوم چې ددې خوړو مستحقه یم.

مور مې خپله برخه پیزا ماته راکړه او ما هم بې له کومې خبرې واخیسته.

کله مې چې احساس وکړ چې نور ځای نه دی پاتې، پورته شوم، خپله کمپله مې واخیسته او د کور کونج کې وغځېدم ترڅو ویده شم.

غوښتل مې له دې ټولو غمونو لرې، په خپل کور کې ویده شم.

کاشکې سهار راویښه شم او ووینم چې وخت شاته تللی او هېڅ کومه پېښه نه وي شوي.

لا زموږ له راتګ دوه ساعته نه وو تېر شوي چې چې د حویلۍ دروازه وټکېده.

مور مې وویل: ته ویده شه، زه به وګورم چې څوک دی. کېدای شي پلار دی وي.

له کړکۍ مې وکتل ترڅو پوه شم چې څوک دی.

خو د وحید د مور په لیدو سره، چاپکه له ځای څخه پورته شوم او په تلوار سره مې د حویلۍ خواته حرکت وکړ.

په خوش رویۍ سره مو له یو بل سره سلام کلام وکړ. او هغې زما د پوښتنې لپاره تازه مېوه او شیریني

راوړې وه.

خو د وحید د مور په چلند باندې لږه خفه شوم، خو څه مې ونه ویل.

هغوي حق لري؛ دا کومه ساده خبره نه ده چې په آسانۍ سره هېره شي. وخت ته اړتیا لري. له شاوخوا نیم ساعت خبرو وروسته مې جرئت وکړ چې پوښتنه وکړم ومې ویل: د تره ښځې، وحید ښه دی؟

د وحید مور د چای پیاله په ځمکه کېښوده او په مصنوعي مسکا سره یې وویل: هو، الحمدالله ښه دی. هره ورځ پوهنتون ته ځي راځي. تازه یې دنده هم اخیستې او ډېر بوخت دی.

ددې خبرو په اورېدو سره خوشحاله شوم او ومې ویل: ډېره ښه. افسوس چې موبایل مې له پولیسو سره دی، کنې د وحید د حال پوښتنه به مې کړې وای. خو نن شپه د پلار جان له موبایل څخه ورته زنګ وهم.

د وحید مور وویل: نه، زنګ مه وهه لور جانې.

ومې ویل: خو ولې؟

د وحید مور وویل: ګوره زُخشانه جانې. مور جانه دې خبره ده، خو فکر کوم تا سره یې خبرې نه دي کړې. غوارم درته ووایم چې ستا عزت زمونږ عزت هم دی. بالاخره مونږ یوه کورنۍ یو. خو زما زوی نه شي کولی له دې بدنامۍ سره ژوند وکړي. پوهېږم چې مونږ د یوې کورنۍ په شان باید له یو بل نه دفاع وکړو، خو دا د وحید ژوند دی او زه د هغه په ځای پرېکړه نه شم کولی.

په حیرت سره مې د وحید د مور خواته وکتل او ومې ویل: نه پوهېږم چې ستاسو دا خبرې څه معنا لري. کولای شئ چې په واضحه توګه خبرې وکړئ.

د وحید مور وویل: مونږ کالي او سره زر بېرته واخیستل، دا معامله نوره ختمه ده. له دې وروسته نه

ده ټاکل شوې چې ته زموږ د کور اینګور شې. رُخشانه جانې. زه ښښنه غوارم لور جانې، خو وحید نوره تا نه غواړي.

سر مې ښکته پاتې شو او د تره ښځې په ځواب کې مې څه ونه ویل.

(وحید ما نه غواړي؟)

څه یوه مکمله جمله؛ د سوال ځای نه پیدا کېږي. په ناڅاپي توګه مې هغه شعر رایاد شو.

هماغه شعر چې د لومړی ځل لپاره مې د وحید له خولې اورېدلی و.

په ستوني کې بند شوي غږ سره مې زمزمه کړ:

ما به دامان تو نازیم که پاکست چو گل
ورنه در شهر بـسی لعبـت بازاری است

د شعر معنا: مورې ستا په لمنې نازېږو چې پاکه ده د ګل په شان. کنې په دې ښار کې ډېرې بازارۍ ښکلاوې شته.

یوه ترخه مسکا مې خپل بخت ته وکړه او ومې ویل: پاکه لمنه او بازارۍ ښکلا....ګناه زما خپله ده، له وحید څخه هېڅ ګیله نه لرم.

د وحید مور ته مې وویل: مننه چې تر دې ځایه راغلې. خو زما سلام هغه ته ورسوه او ورته ووایه چې ژُخشانه درته د نېک بختۍ هیله کوي.

د پورته کېدو لپاره مې له ځمکې څخه مرسته واخیسته او په بیړه له کوټې څخه ووتم.

په ټول توان سره مې د د خپلې تیارې کوټې خواته منډه کړه دننه شوم، نور د درېدو په ځان کې ونه لیده. په ځمکې وغځېدم.

دومره مې حالت خراب و چې احساس کاوه باید مړه شم.

ما د هغه هلک لپاره څه څه ونه کړل. له مکتبه وتښتېدم، د هغه د موبایل د پېټولو لپاره له رُخشانې سره آشنا شوم.

ولې دومره نامرده دي...؟
ولې دومره احسان فراموشه دی....؟

د ژمنی جاکټ مې خواته نږدې و. هغه مې را واخیسته او په خوله کې مې ونیوه ترڅو کوم څوک مې غږ وانه وري.

په لوړ غږ مې چیغې وهلې، ترڅو دا دننه درد ونه خورې.

نه پوهېږم چې کوم وخت و چې وخت مې له لاسه وتلی و او خوب وړې وم. کله چې ویښه شوم هوا

بشپړه توګه تیاره شوې وه. خو د ساعت اووه یا اته معلومېده.

له کوټې ووتم. هرځای چوپتیا خپره وه او هېڅوک نه ښکارېدل. د ډېرې ژړا له امله مې د مخ پوستکی کش شوی و.

لاړم چې مخ او لاسونه مې ومینځم او لږې اوبه وڅښم.

د مور او پلار د پچ پچ غږ مې واورېده چې زما نوم یې اخیسته.

د دروازې شاته ودرېدم او غوږونه مې تیز کړل، ترڅو واورم چې څه وايي.

پلار مې ویل: زه هېڅ غم نه لرم. زما دومره عمر نه دی پاتې چې د خلکو به خبرو او پېغورونو نا ارامه شم.

خلک د خدای پسې هم خبرې کوي، زه خو لا د خدای بنده یم. خو د ډاکټر وروستیو خبرو اندېښمن کړم.

مور مې وویل: کومې خبرې؟

پلار مې وویل: ددې ډېر احتمال شته چې رُخشانه امیندواره شي. له همدې وېرېږم. هغه د حمل د سقط لپاره ډېره وړه ده. وېرېږم چې له دې بدتره نه شي.

د مور او پلار خبرو ته مې غوږ نیولی و او په فکر کې غرقه شوم. ریښتیا یې ویل، که امیندواره اوسم څه به کېږي؟

خدایه ما خو دا په پوره توګه هیر کړي وو.

په وحشت سره مې هرې خواته کتل چې دروازه وټکېده. حکیم له خپلې کوټې راووت. کله چې یې زه ولیدم سر یې ټیټ کړ او د حویلۍ د دروازې په لور روان شو.

ما د دېوال له کنجه ورته کتل؛ په دې وخت کې به څوک زما ليدو ته راغلې وي.

خو کوځه ډېره روښانه وه او ښه توګه نه معلومېدل چې څه خبره ده.

خو د پوليس په رانتوتلو سره مې له وېرې خپل ځان مور او پلار ته ورساوه.

يوه ښځه له هغوي سره راغلې وه چې له چيغو پرته يې کوم بل خاص کار نه کاوه.

پلار مې وپوښتل: امر صاحب، د شپې په دې وخت کې خو به خيريت وي؟

د پوليسو آمر صاحب ورقې په لاس کې وي او ويې ويل: حکم د ځشانې نيول دي. دا مېرمن د حميد مور ده او ادعا لري چې ستاسو لور ددې زوی دوکه کړی او له هغه سره له کوره تښتېدلې ده.

ما وویل: دروغ دي، زه نه یم تښتېدلې، هغوي زه په زور له ځان سره بوتلم. باور وکړئ زه ریښتیا وایم.

د حمید مور چې لنډ قد لرونکې او شیطان صفته ښځه وه، غوښتل یې په ما حمله وکړي؛ که پلار مې یې مخه نه وای نیولې، کېدای شي زه یې وهلې وم.

هغې چیغې کړې: بد کارې، ته خو په خپلو پښو زما د زوی موټر ته پورته شوې وې، که هغه په زوره پورته کړې وې؟

ومې وویل: هو، زه موټر ته پورته شوم، خو ستاسو زوی بېهوښه کړم. باور وکړئ، ما نه غوښتل چې له هغه سره کوم ځای ته لاره شم. زه خو اصلاً ددې زوی نه پېژنم.

پولیس وویل: که نه دې پېژانده، نو ولې د هغه موټر ته پورته شوې؟ څه فکر دې کاوه؟ کله چې ته په خپلو پښو له کوره د هغه هلک لیدو ته روانه شوې وې، څوک

شاهد دی چې ته په خپله خوښه تر هراته نه وې تللې؟
اوس ووایه، څوک شاهد دی؟

به ډکو سترګو مې د هغوي خواته وکتل او.ومې ویل:
الله شاهد دی.

خو نور یې د خبرو کولو اجازه را نه کړه. زما لاس یې
شاته ولچک کړل.

د وروستیو شپبو مې زاری کولې او له خپل پلاز څخه
مې د مرستې غوښتنه کوله، خو هېڅ ګټه یې ونه کړه.

پلار مې وویل: صبر وکړه، زه به دې آزاده کړم. نه
پرېږدم چې تا له ځان سره یوسي.

د پولیسو رنجر په لوړ غږ سره موږ روان شو.

باور مې نه کېده چې په دې دوه اونیو کې تښتول
کېدل، جنسي تیری، له مرګه بېرته راګرځېدل، روغتون
او اوس مې زندان تجربه کړې وي.

څه خبره ده، آیا الله ما ویني؟!
که یې زه هېره کړې یم؟!

یو بوزخند مې وواهه او ومې ویل: کاشکې کورته له نوتلو مخکې مې بسم الله ویله وه. یوه شپه، حتی یوه شپه مې هم دې خوښیو دوام ونه کړ.

دوارو خواوو ته مې پولیس ناست و او زه د مجرمانو په شان له ځان سره وړلم.

باید په یاد ولرم، دا ټولې ورځې باید یو ځای کې ولیکم هسې نه چې رانه هېرې شي. د اوښکو یو څاڅکي غوښتل بې اجازې له سترګو راولوېږي، خو ما یې مخه ونیوله.

غوارم دا ورځې دېرې روښانه په خپلې حافظه کې ثبت کړم، ترڅو د روښانه ورځو په شان یې بیان کړم او ټول پوه شي چې باید د ژخشانې په شان ونه اوسي.

دا افغانستان دی؛ دلته هېڅ تېروتنه د بښنې وړ نه ده.
قرباني او مجرم دواړه یو شان مجازات کېږي.

نو ددې خاورې انجونې باید ډېرې هوښیارې وي او پوه
شي چې ددوي هره کوچنۍ تېروتنه هم ډېر سخت
تاوان لري.

حوزې ته چې ورسېدو، له موټر نه ښکته شوم، لا مې
سر نه و پورته کړی چې د پلار غږ مې واورېده. له
حکیم سره په خبرو بوخت و.

له موږ څخه مخکې رسیدلی و. د سپینې ګېرې او
غمجنې څېرې په لیدو سره مې نور ونه شو کولای د
خپلو اوښکو مخه ونیسم.

ومې ویل: کاش چې مړه شم، ترڅو ستاسو دومره ټیټ
سر ونه ګورم. پلار جانه.

پلار مې موسکی شو او ویې ویل: خدای دې نه کوي، سل کاله دې ژوندۍ اوسې. ترڅو چې ما لرې یعنې هېڅ غم نه لري. نه پرېږدم چې نن شپه دلته پاتې شي. یو ځای بېرته کور ته ځو. د پلار ګرانې، یوازې صبر ولره.

الله زما له زړه خبر و، خو پوهېدم چې هر څه که پېښ شي پلار مې زما ترخنګ دی، او همدا راته د ټولو غمونو لپاره بس و.

کله چې دننه لاړو، تمنا مې ولیده. په لومړي نظر مې هغه ونه پېژانده. بېچاره په یو کونج کې ولاړه وه او بې غږه اوښکې یې تویولې. د سلو کلونو په اندازې بوډۍ شوې وه.

د سترګې ترخنګ ځای یې شین شوی و او هېڅ ښه حالت یې نه درلوده.

ښی لاس یې په بنداژ تړل شوی و او په غاړه کې یې ځوړند و.

غوښتل مې هغې ته ورنږدې شم، خو عسکر اجازه را نه کړه او مجبوره شوم چې د پلار ترڅنګ کښېنم.

خو د یوې ثانیې لپاره مې هم نه شوای کولای له هغې نه سترګې واوړوم.

نوره هغه خوشحاله او سرشاره تمنا نه وه؛ په یو کلام کې، هغه انجلۍ له منځه تللې وه.

خامخا کورته له تللو وروسته، پلار یې وهلې او ټکولې ده.

په آرامۍ سره مې د پلار مټ ونیوه او د هغه لاس مې ښکل کړ. هغه زما مخ ته راوکتل او ویې ویل: مه وېرېږه، دا به هم په خیر تېر شي. اندېښنه مه کوه ګرانې.

هماغه ځای کې په تمه وو چې د وحید پلار راورسېده.
د هغه په لیدو سره له ځای نه مې پورته شوم.

سلام مې وکړ، هغه زما د حالت د پوښتنې په حال کې
و چې وحید دننه شو، او له حکیم سره یې روغبړ
وکړل.

راغی او زما د پلار لاس یې ښکل کړ. کله چې زما له
ځنګ څخه تېرېده، د هغه خواته مې وکتل او سلام مې
وکړ، خو هغه خپل سر ټیټ کړ، زما سلام ته یې ځواب
هم را نه کړ او بهر ووت.

خو زما سترګې د دروازې په لور پاتې شوې، او د وحید
د تلو په لارې کې قلف شوې. نه پوهېدم چې له راتلو
یې خوشحاله شم که خفه.

خو ټوله فضا د وحید له عطر څخه ډکه شوې وه او دې
کار نور هم سختاوه.

تر اوسه لا یو غم نه و ختم شوی چې اوس یې دا توهین آمیزه چلندونه هم وزغمم.

په نا آرامۍ سره مې سر ښکته کړ او ومې ویل: خدایه، ماته صبر راکړه...

حتی که زما د بدنامۍ خبره یې د سترګو مخه نیولې وي، بیا هم نه کېږي چې د پنځو میاشتو ګډې خاطرې په دومره آسانۍ سره هېرې شي.

څومره ژر خپل عقاید بدلوي، داسي چې ښځي ما نه پېژني.

ښځي هماغه وخت چې د وحید د چلند له امله خفه وم او کړېدم پلار مې زما لاس ونیوه او ویې ویل: پورته شه لورې باید کور ته لاړ شو.

په حیرت سره له ځایه پورته شوم، پرته له دې چې کومه پوښتنه وکړم پلار پسې روانه شوم.

خو کله چې موټر ته پورته کېدم، یو نظر مې وحید ولیده. د سپوږمۍ له رڼا لاندې سم زما مخې ته ولاړ و او زما خواته یې راکتل.

لاس مې د خدای په امانۍ په باب وخوځاوه او د موټر دروازه مې بنده کړه.

خو نور مې صبر ونه کړ ومې پوښتل: څنګه زه آزاده شوم.

پلار مې وویل: ستا له کاکا جان سره مې خبرې وکړې. پرون یې خپل موټر خرڅ کړی و. په کور کې هم لږې پیسې وې، ټولې پنځه لکه روپۍ مو ورکړې توڅو تا آزاده کړې. ودې لیدل، ویلي مې وو چې به خیر ختمېږي.

ومې ویل: خو پلار جانه، تمنا به څنګه کېږي؟

حکیم وویل: دلته باید هر څوک خپل ځان وژغوري. لاړه شه او د خدای شکر ادا کړه چې پیسې مو درلودې او ته مو آزاده کړې. که خبره تر سبا پاتې شوې وای، په لسو لکو به یې هم نه وای آزاده کړې. اوس هم د پولیسو په نظر تښتېدلي یو، باید کور بدل کړو او.کوم لرې ځای ته کډه وکړو. نن شپه د وحید په کور کې پاتې شو، سبا به یو کور پیدا کړو.

د وحید د نوم په اورېدو سره بیا خفه شوم او ومې ویل: نه کېږي چې زه په موټر کې ویده شم؟

پلار مې له مخکی سیټ څخه زما خواته راوکتل او ویې ویل: څومره ښه! زه هم په مخکینۍ څوکۍ کې ویده کېږم. ریښتیا ووایم، د لالا مېرمنه مې نه خوښېږي، غوره به دا وي چې په موټر کې پاتې شم.

د پلار د خندا په اورېدو سره پورته شوم او د هغه مخ مې ښکل کړ. ومې ویل: قربان دې شم. تاسو شاته ویده شئ، زه به مخته ویده شم.

باور مې نه کېده چې زما پلار به دومره درک ولري. پوهېده چې د کوژدي د ماتېدو موضوع ما ځوروي، بیا هم زما ترڅنګ دی.

پلار مې وویل: نه، ارتیا نشته. زما خوب دومره ژور نه دی، ژر ویښېږم. بیا هغوي په حویلۍ کې هم ځای نه لري، باید یو ویښ وي چې له موټر څخه ساتنه وکړي.

نه پوهېدم څنګه د خپل خدای شکر وباسم. دداسې پلار لرل د هرې انجلۍ د لارې ملګری نه شي کېدای.

له زړه مې دعا وکړه چې زما د پاتې عمر برخه هم زما د پلار په برخه شي. باید هغه ډېر، ډېر کلونه ژوندی وي، څو ددې خلکو په منځ کې انسانیت رواج کړي.

د فرهاد او مور په اخیستلو سره د وحید د کور په لور مو حرکت وکړ.

مور مې قرآن کریم له ځان سره راوړ، ترڅو د کډې کولو پر مهال یې سم او مناسب ځای کې کېږدو.

کله چې د وحید کور راورسېدو، ټول ښکته شول. زه او پلار مې بیا بازار ته روان شو، ترڅو آیسکریم واخلو.

د هغې شپې د آیسکریم خوند به هېڅکله هېر نه کړم. لکه د پخوا په شان مو د شپې چکر وواهه. د پخوا په یاد هر چېرته به تللو، بیا وګرځېدو لکه یو څوکدچې د خپل ژوند وروستۍ شپه تېروي او مخکې له مرګ څخه څومره یې چې وسه وي خوند اخلي.

هغه شپه مې بیا په سر ټیکری را کش کړ، او شاته سیټ کې ویده شوم، خو پلار مې تر سهار وي و او له موټر څخه یې ساتنه کوله.

-د هغې ورځې په سبا یې د دالامان په سیمه کې یو نوی کور پیدا کړ او تر مازدیګر څلورو بجو پورې یې کډه وکړه.

په نوي کور کې هر څه په ښه ډول روان وو، خو څو اوونۍ وروسته رُخشانې په خپل ځان کې غیر عادي بدلونونه احساس کړل. کله چې یې له خپلې مور سره خبرې وکړې پوه شوه چې هغه امیندواره ده.

دا داسې موضوع نه وه چې په آسانۍ سره حل شي. رُخشانه د حمل د سقط لپاره ډېره کمزورې وه او امکان یې درلوده چې هغه بیا هېڅکله مور نه شي.

د هغه ماشوم د له منځه وړلو پرېکړه چې لا نړۍ ته نه و راغلی، آسانه وه؛ خو د هغې پایلې ډېرې سختې وې.

خو سره له دې چې د مرګ خطر یې هم درلوده، رُخشانې دا پرېکړه ونیوله چې ماشوم سقط کړي.

وروسته یې د نسائی ولادی ډاکټر ته مراجعه وکړه. له معایناتو وروسته پرېکړه وشوه چې د دېرش زره افغانیو په بدل کې به د رُخشانې ماشوم سقط کېږي. دا کار به په یو شخصي روغتون کې، د ډېرو امکاناتو

په شتون کې ترسره کېږي، ترڅو د ژُخشانې د مرګ خطر کم شي.

د دوشنبې په ورځ سهار لس بجې ژُخشانه د روغتون پر لور روانه شوه. نه پوهېده چې مور کېدل څه معنا لري، او تر هغه وخته یې کوم عملیات هم نه و ترسره کړی چې کومه وېره ولري.
په ډېرې آرامۍ سره یې خپلې جامې بدلې کړې او د روغتون په ځانګړو جامو کې د عملیات خونې په لور روانه شوه.

ټول د هغې زړورتیا او چلند ته حیران وو، خو ژُخشانه پوهېده چې څه کوي. له هغه چا څخه د ماشوم لرل چې د هغې ژوند یې تباه کړی و، د منلو وړ نه و. غوره به دا وي چې مړ شي.

د دروازې شاته په ویلچر ناسته وه او د خپل نوبت انتظار یې کاوه.

د هغې تر څنګ په څوکۍ یوه ښځه ناسته وه چې هغې هم غوښتل خپل حمل سقط کړي، خو هر دقیقه یې رنګ بدلېده.

په داسي غږ سره چې وېره پکې له ورایه ښکارېده، وویل: جلۍ جانې ته نه وېرېږې؟ پوهېږې چې څه کوې؟ زه ډېره وېرېږم. مېړه مې نور نه غواړي چې اولاد ولرو، خو زه ډېره وېرېږم. که زه مړه شم، زما اولادونه به بې موره شي. ستا مېړه چېرته دی؟ آیا هغه راضي دی، که ته په خپله دا کار کوې؟

رُخشانې په ناخوښه توګه د هغې ښځې خواته وکتل تو ویې ویل: مېړه مې نه دی خبر حقیقت کې هغه تر اوسه ما نه پېژني. د ماشوم پلار هم په زندان کې دی او هغه هم خبر نه دی. نو پایله دا شوه چې زه په خپله خوښه دا کار کوم.

بېچاره ښځه چې سخته وېرېدلې وه ویې ویل: ته ډاډه یې چې عقل دې له لاسه نه دی ورکړی.

ژخشانې ووېل: هو خور جانې.

هماغه وخت د ژخشانې وار راورسېده او د نرسې په مرسته د عملیات خونې په لور روانه شوه.

د عملیات خونې په یخ او سپین کټ باندې وغځېده.

له خپلو ګوتو سره یې لوبې کولې، څو وخت تېر شي. ځکه چې د عملیات په اړه یې هېڅ تصور نه درلود، نو له مخکې یې د هغه استرس او وېره هم نه درلوده.

د ډاکټرې خواته یې وکتل او ویې ویل: یوه پوښتنه وکړم؟

ډاکټره، چې د منځني عمر ښځه وه خواته یې ویل او ویې ویل: که پوښتنه کوې چې درد لري؟ باید ووایم چې نه، اصلاً یې نه احساس کوې. ژر خلاصېږي.

ژخشانې ووېل: نه، غواړم پوښتنه وکړم چې ماشوم په یوه میاشت کې څومره وده کوي؟

ډاکټرې وویل: کله چې داسې پوښتنه کوې، یعني دا ماشوم درته اړین دی. نو بیا ولې غواړې چې سقط یې کړې؟

ژُخشانې وویل: ځکه چې حرمونی دی او د جنسي تېری حاصل دی. له کرکې پرته بل هېڅ احساس ورته نه لرم. یوازې غوښتل مې پوه شم چې د شکل او اندازې له پلوه څومره دی.

ډاکټره ورو په څوکۍ کېناسته او ویې ویل: څو کلنه یې جلۍ جانې. ما ستا دوسیه ولیده، خو ستا عمر په کې نه و لیکل شوی. په اصل کې زما لور ستا له مور سره خبرې کړې وې، ځکه هغه ورځ زه ناروغه وم.

ژُخشانې د خونې چت ته وکتل او ویې ویل: دوه میاشتې وروسته اتلس کلنه کېږم.

ډاکټرې په خفګان ور وکتل او ویې ویل: ډېره ځوانه یې. آیا پوهېږې چې ممکن له دې وروسته نوره

امیندواره نه شې؟

ږُخشانې وویل: زموږ د فکرونو اندېښنې څومره سره توپیر لري. هېڅوک نه غواړي چې ماسره واده وکړي، نو ولې باید په دې خفه شم چې بیا به مور نه شم؟ زما کوژدن خپلې جامې او سره زر بېرته واخیستل او ډېر ژر به بله کوژدنه وکړي. له ماسره د راتلونکی په اړه خبرې مه کوه؛ زما راتلونکی نشته دی.

ډاکټره موسکۍ شوه او ویې ویل: حق نه لرم چې ستا د خبرو په وړاندې قضاوت وکړم، خو ته د خپل ځان په اړه ډېره ظالمه یې، جلۍ جانې.

وګوره، ښایي له دې مناسب وخت بیا پیدا نه کړم، خو زه درته یوه مرکه پیدا کوم او ورته به ووایم چې تا د خپل یو میاشتني ماشوم سره ومني، بیا ته خپل حمل نه سقط کوې؟

ژُخشانې له حيرت څخه په ګردو شوې سترګو ور وکتل او وې ويل: ستاسو ددې خبرې مطلب څه دی؟

ډاکټرې وويل: زه يو ورور لرم چې له خپلې مېرمنې سره خوشحاله نه دی. دوه اولادونه لري هره ورځ يې کور کې جنګ او جنجال وي.

ژُخشانې د ډاکټرې په خبرو کې ورټوپک کړ او ويې ويل: ولې له يوې ښځې سره جنګ کول ورته جالب نه دي چې غواړي له دوو ښځو سره جنګ وکړي؟

ډاکټرې په لوړ غږ وخندل او ويې ويل: نه ستونزه زما د ورور نه ده، مېرمنه يې هغه نه غواړي. کورني ودونه زر جنجالونه لري. ګوره، زما ورور نږدې څلوېښت کاله عمر لري، ډېر بې پروا انسان دی او د ظاهري ښې څخه ځوان ښکاري. ځکه چې زما ورور دی، د هغه صفت نه کوم، خو په ريښتيا هم ښه سړی دی. مور چې هر څنګه کېږي د يوې بلې ښځه په لټه کې يو چې خپل ورور ته يې وکړو. يا ته يا بل څوک؛ زمور لپاره توپير

نه کوي. خو له شک پرته ستا په شان ښکلې انجلۍ نه شو پیدا کولی. ته هم په داسي شرایطو کې نه یې چې د د ډېر ځېزونو د انتخاب حق ولري. که دې خوښه وه، یو ځل په دې اړه فکر وکړه. نن خپل ځان او خپل نامعلومه راتلونکی ته هم یو فرصت ورکړه او لاړه شه له خپلې کورنۍ سره مشوره وکړه، وګوره چې هغوي څه نظر لري. که ته غواړې، موږ ستاسې له کورنۍ سره هم خبرې کولې شو.

رُخشانه د دوو لارو بنده پاتې شوه او ویې ویل: څنګه غواړې چې له یوې بدنامې انجلۍ سره واده وکړې؟

ډاکټر وویل: موږ او تاسې د بېلابېلو قومونو څخه یو. هېڅوک ستا د تېر وخت په اړه نه پوهېږي، نو ولې باید دا خبره اړینه وي؟ بیا ته ځوانه یې او ښکلې هم. بېشکه چې له تا څخه غوره انجلۍ نه شم کولای خپل ورور ته پیدا کړم.

ږخشانې د ډاکټرې په څواب کې هېڅ هم ونه ویل او چوپ پاتې شوه، خو هغه ورځ یې عملیات ونه کړ او پرېکړه یې وکړه چې له خپلې کورنۍ سره په دې اړه خبرې وکړي.

له څو ورځو دوامداره خبرو وروسته بالاخره د ږخشانې پلار راضی شو چې د ډاکټرې څلوېښت کلن ورور له نږدې څخه وګوري.

ږخشانې خپل سره ګنډ افغاني کالي پر تن کړل او د نارنجي شال په اخیستو سره یې د د مهمان خانې خواته حرکت وکړ.

او سم د خپل ریبار مخکې ته کېناستله.

د ږخشانې پلار ډاریک اصلی خبرې ته راغی او ویې ویل: مورږ رواج نه لرو چې هلک او انجلۍ له یو بل سره لیدنه وکړي. خو څه وخت کېږي چې دا رواجونه زمورږ لپاره نور ارزښت نه لري. ځکه اوس د دوستانو او

خپلوانو له خوا د منلو وړ نه یو او څوک نه غواړي له موږ سره خبرې وکړي. نو هم هغه رقم چلند کوم چې خپله یې غواړم. لکه څنګه چې پوهېږئ، دا رسمي مرکه نه ده، یوازې د یو بل پېژاندلو لپاره ده. او تر ډېره غواړم چې زما لور تاسې وپېژني، ځکه د نارینه وو په اړه د هغې نظر بل ډول دی او حق لري چې دومره منفي ګمان ولري. هیله لرم چې کومې پوښتنې چې کوم، خفه پرې نه شئ.

رُخشانې په هغه سرې چې مخې ته یې ناست و سترګې یې پرې ګنډلې وې.

نسبتاً دنګ ځوان و، اندام یې مناسب و او داسې ښکارېدل چې ورزش کوي. ویښتان یې لږ سپین شوي وو، چې شاید د عمر د تېرېدو نښه وه، یا شاید به د ارثي خبره وه. څلوېښت کاله دومره ډېر وخت نه دی چې د یو چا ټول ویښتان سپین شي.

په ټوله کې، سړی آرامه او عاجز معلومېده، خو ژُخشانې موضوع جدي نیولې وه او غوښتل یې چې هغه په پوره توګه وپېژني.

هغه بېچاره سړی د ژُخشانې د سترګو تر اغېز لاندې راغلی و، له شرمه یې سر ټیټ کړی و او جرئت یې نه کاوه چې هغې ته وګوري؛ خو د ژُخشانې د پلار پوښتنو ته یې په ډاډه زړه ځوابونه ورکول.

د ژُخشانې د پلار له نظره کومه ستونزه نه وه، اوس باید ژُخشانې پرېکړه کړې وای چې له دې واده نه راضی نه که نه.

ژُخشانې هم له مخکې ټاکل شوي اقدام سره وویل: زه د جنسي تېری ښکار شوې یم. یو ځل نه بلکې څو څو ځله. یوه هفته په داسې ځای کې بندي وم چې ان حیوانات هم په کې نه ساتل کېږي. اوس هم امیندواره یم. د روان له پلوه هم شاید نارمل ونه اوسم. ځکه ډېرې بدې پېښې مې تېرې کړې دي. د افغانانو خبره، زه

یوه بد نامه انجلۍ یم او دا به تر مرګه زما لمنې پسې تړل شوې وي. یوازې په یو صورت کې له تاسو سره واده کوم؛ هغه دا چې ما همداسې لکه څنګه چې یم ومې منئ. کله چې غوسه یا خفه یاست، ما بدکاره او ماشوم مې ارمونی(حرامزاده) مه بولئ. که دا شرطونه منئ، زه کومه ستونزه نه لرم.

د زوم کورنۍ هم  ددوي شرطونه ومنل او پرېکړه یې وشوه چې د واده لپاره تیاری ونیسي.

د ږُخشانې واده د وحید له کوژدې مخکې وشو. هغوي ټول خپلوان راوبلل، څو د هغې واده وویني او پوه شي چې یوه بدنامه انجلۍ څنګه په عزت سره واده کوي. چې البته دا د ټولو د حیرت لامل شو، په ځانګړې توګه د وحید او د هغه کورنۍ لپاره. د وحید له کورنۍ څخه حتی یو کس هم د ږُخشانې په واده کې ګډون ونه کړ.

هر څه چې وو، واده په ډېره ښه توګه ترسره شو. هم ږُخشانه راضی وه او هم زکریا.

زکریا، د ژُخشانې خاوند، د دوو درملتونونو خاوند و او له مالي پوله هم په ښه وضیعت کې و. ډېر ژر له یو بل سره جوړ راغلل. د ژُخشانې د تصور خلاف، زکریا یو ډېر خوش اخلاقه سړی و.

د ډاکټرې د خبرو سره سم، د ژُخشانې بنې طلاق واخیست څو د خپل ماما زوی سره واده وکړي.

اوس ژُخشانه د درېیو ماشومانو مور وه، بې له دې چې وپوهېږي مور کېدل یعني څه؟

تر ډېره له خپل ژوند څخه راضې وه او د هره څه لپاره د خدای شکر ادا کاوه.

د ژُخشانې په شان انجلې لپاره له دې څخه ژوند غوره نه شوای کېدای. هماغه وخت چې فکر یې کاوه ژوند یې بېرته عادي حالت ته کرځېدلی، یوه ورځ یې په هوټل کې حمید ولیده. حمید له خپلې کورنۍ سره

راغلی و، ټول خوشحاله وو، خندل یې او ډوډۍ یې په آرامۍ سره خوړله.

ړُخشانه دومره غوسه شوه چې له غوسې څخه یې لاسونو به لړزېدو پیل وکړ. باور یې نه شو کولای چې حمید دی له زندانه خوشې شوی وي. په داسې حال کې چې خپلې اوښکې یې نه شوای کنټرول کولای له خپل خاوند څخه یې موبایل وغوښت ترڅو یو ځای اړیکه ونیسي.

زکریا چې نه پوهېده څه خبره ده موبایل یې ورکړ او ویې ویل: که ناروغه یې، راځه لاړ شو د خور خواته مې. د ماشوم لپاره دی؟ کوم ځای دې درد کوي؟

خو ړُخشانې هېڅ خبرې نه کولې او هڅه یې کوله د خپل پلار سره اړیکه ونیسي.
کله چې د پلار غږ یې واورېد، اوښکې یې زور واخیست او ویې ویل: حمید له زندان څخه بهر دی.
اخر دا څنګه امکان لري ؟ ولې یې خوشې کړ؟

خاوند یې د حمید د نوم په اورېدو سره وپوښتل:
حمید څوک دی؟

بیا یې شاوخوا وکتل او ویې ویل: په رستورانت کې دی؟ ته یې راوښایه. ما نه دی لیدلی، غواړم ویې پېژنم. غواړم هغه بېغیرته ته یو درس ورکړم.

خو ژُخشانې هېڅ ونه ویل او په تلوار سره له رستورانت څخه ووته. نه یې غوښتل چې مېړه یې د حمید په څېر له یوه کس سره ښکېل شي.

ټوله شپه یې ژړل او حالت یې ښه نه و. خاوند یې هم هېڅ ونه ویل او هغه یې په خپل حال پرېښوده.

سبا سهار د ژُخشانې پلار ورته وواهه او ورته یې وویل: هغه د نیول کېدو نه پوره یوه اوونۍ وروسته له زندان څخه خوشې شوی دی.

لکه څنګه چې مور ستا جرم  واخیست، حمید هم خپل جرم اخیستی. که اوس بیا کوم اقدام وکړو، ته زنداني کېږي. راځه لورې، حمید هېر کړه او په خپل ژوند بوخته شه. خدای به  حمید ته سزا ورکړي. خراب خلک دي؛ نه شو کولای غچ ترې واخلو. بیا به زمور د ځان بلا شي. تر ټولو ښه لاره دا ده چې هېر يې کړو او خبره خدای ته وسپارو.

خو ژُخشانې حمید هېر نه کړ، هېڅ يې نه شوای هېرولای. یوه اوونۍ د لېونیانو په شان شوې وه؛ نه يې  ډوډۍ خوړله او نه يې خوب کاوه.

بالاخره د جمعې په ورځ يې پرېکړه وکړه چې په پښو د ابوالفضل زیارت ته لاړه شي. سهار وختي يې له کارته چهار سیمې څخه تر ابوالفضل زیارت پورې، چې په مرادخاني کې موقعیت لري، شاوخوا یو ساعت پیاده مزل وکړ.

په ټوله لار کې خلکو ورته ګوتې نیولې او د هغې لوځو پښو ټولو په حیرت سره کتل.

له هغې ورځې وروسته یې تر ځلوېښتو ورځو پورې هره ورځ همدا کار تکرار کړ. خاوند یې فکر کاوه چې ژُخشانې خپل عقل له لاسه ورکړی او له همدې امله دا کار کوي.

خو ژُخشانې د هېچا نصیحت نه منل او هره ورځ به زیارت ته تلله. د زیارت په انګړ کې به ساعتونه ناسته وه، دعا به یې کوله، چې شاید کومه لار ورته خلاصه شي او دعا یې قبوله شي.

له ځلوېښتو ورځو وروسته، کله چې ناهیلي شوې وه، نور یې دا کار پرېښود. پښې یې ژورې ټپي شوې وې، خو هغې ته یې هېڅ اهمیت نه ورکاوه.

هغې هغه څه چې روح او روان یې پرې آرامېدل، همدا ورته بس وو.

د خپل پلار په خبره یې و منله او هغه یې پیل کړه چې خپل ژوند بېرته جوړ کړي.

د امیندوارۍ نهه میاشتې لکه د برق په څېر تېرې شوې او ژُخشانه د یوه هلک مور شوه.

خو ماشوم عینی د حمید کاپي و؛ دومره ورته و چې ژُخشانې باور نه شو کولای. کله چې یې ماشوم ولید، په ژړا شوه.

هغې نه غوښتل ماشوم ته شیدې ورکړي او فکر یې کاوه چې هغه نجس دی. ماشوم یې په روغتون کې پرېښود او غوښتل یې وتښتي، خو مور یې پوه شوه او د هغې مخه یې ونیوله.

مور یې ډېره ورټله، خو ژُخشانه هېڅ چمتو نه وه چې ماشوم له ځان سره کور ته یوسي.

ژُخشانې وویل هغې ویل: اخر ولې زه دومره بدمرغه یم؟ د دې هلک خبره له حمید سره ورته ده. زه غواړم خپل ټول د معدې محتویات ددې ماشوم په مخ وکړم. څنګه یې له ځان سره کور ته یوسم؟! هغه زما د ټول عمر عذاب دی. نه، نه، دا هېڅ امکان نه لري.

د ژُخشانې مور ورته ویل:

له خدایه ووېرېږه جلۍ، ماشوم څه ګناه لري؟ هغه خو تازه نړۍ ته راغلی دی. لږ صبر وکړه، شاید د مخ پړسوب یې کېني، شاید د خپل پلار څېر نه وي. اخر ولې دومره تلواري یې؟

خو ژُخشانه دې ته تیاره وه چې زوی یې له لوږې مړ شي، خو دی ته شیدې ور نه کړې.

بالاخره د پلار او د کورنۍ د نورو غړو په ټینګار راضې شوه چې ماشوم کور ته راولي.

د ژُخشانې مور د ماشوم د پالنې لپاره د هغې کور ته راغلې وه او هره ورځ به یې ماشوم ته وچې شیدې ورکولې.

ژُخشانه حتی د هغه ماشوم له دوه مترۍ څخه هم نه تېرېدله.

حتی نوم یې هم نه و ورته ایښی؛ ټول به یې یوازې "هلک" ورته ویل.

هغه معصوم ماشوم، چې له نړۍ بې خبره، زرګونه دوښمنان درلودل.

یوه ورځ د ژُخشانې مور ماشوم د هغې تر څنګ واچاوه او ویې ویل: تر هغې چې ورته شیدې جوړوم، له تا سره دې وي.

ژُخشانې د چای ګیلاس د کړکۍ شاته کېښود، بیا له ماشوم څخه یو متر لرې کېناسته او ویې ویل: څه

ورک شه، د کور بلې خوا ته لاړ شه کله چې تا وينم، ځان زر ځله په ځان لعنت وايم چې ولې مې ته سقط نه کړې.

خو هلک تورې سترګې، ګلابې غمبورې خپل لاس يې په خوله کې ايښی و او هغه روده. د ږخشانې له خبرو څخه په يوه خبره هم نه پوهېده.

هغه دواړه تورې سترګې د ږخشانې خواته نيولې وې او ورته يې کتل.

ږخشانه د هغه په دې کار غوسه کېدله، خو هڅه يې کوله عادي چلند وکړي. بالاخره يې صبر ختم او په غوسه يې وويل: څه ته ګورې؟

د دې خبرې سره هلک په خندا شو، په داسې حال کې چې يو غاښ يې هم په خوله کې نه و.

ږخشانې چې تر هغې ورځې د نوي زېږېدلي ماشوم
خندا نه وه لیدلې. خوښه یې شوه، او بیا یې په
غوسې سره وویل: څه ته ګورې؟

دا ځل هغه په قهقه سره وخندل.

ږخشانه ورنږدې شوه او ویې ویل: ته اصلاً پوهېږې
چې زه څه وایم؟ پوهېږې چې زه له تا څخه څومره
کرکه لرم؟

خو هلک خپلې غټې تورې سترګې هغې ته نیولې وې،
لوبې یې کولې. هغه یوازې داسې څوک لټاوه چې
ورسره ساعت تېرى وکړي؛ دا ورته هېڅ اړینه نه وه
چې هغه یې خوش دی کنه.

هماغسې یې خپلې لاړې پر لاسونو موښلې او خپلې
وړو ګلابي شونډو باندې یې ژبه وهله.

ژُخشانه د هغه څنګ ته  وغځېده او ويې ويل: پوهېږې چې څومره بد بوی کوې؟ فکر کوم باید ستا پمپر بدل کړم.

هلک د ژُخشانې د مخ په وړاندې بوغارې وکړل بیا یې د هغې مخ ونیوه.

ژُخشانه چې د هغه ماشوم حرکاتو کې ډوبه ون،  په غیږ کې راواخیست.

د ماشوم سر یې پر خپل زړه کېښود. هلک آرام شو او د هغې د زړه درزا یې اورېدله. بېخي خوځېده هم نه. له یوې میاشتې وروسته یې یو اشنا غږ اورېدلی و؛ د خپلې مور د زړه درزا، هغه غږ چې نهه میاشتې  د مور په نس کې ورسره یو ځای غبږ شوی و.

د ژُخشانې مور د شیدو له بوتل سره کوټې ته راغله. کله چې یې دوی ولیدل، ویې ویل: ودې لیدل چې څومره خوږ دی؟ یو ځل یې سترګو ته وګوره ماشوم

باور نه شي کولای چې خپله مور یې پیدا کړې ده. نور ظلم مه پرې کوه لورې، دا بې‌گناه دی؛ دا ستا لپاره د خدای له خوا تر ټولو پاکه ډالۍ ده.

د رُخشانې حال او هوا د خپل زوی په غېږ کې نیولو سره بدله شوه، او په ژړا شوه. مور ته یې وکتل او ویې ویل: ولې ماشومان دومره خوږ دی؟

مور یې وویل: خپله پیدا کړه چې ولې خوږ دی. یوه میاشت دې ورسره بد چلند وکړ، خو بیا هم تا سره مینه کوي.

رُخشانې هلک ته وکتل او ویې ویل: نوم دې محمد ږدم. که څه هم ستا څېره مې تر اوسه نه خوښېږي خو ته یوازې خانده.

څو ورځې وروسته رخسانې ته یو خبر ورسېد. د هغې ورور حکیم د حمید په اړه خبر راوړی و:

څو ورځې مخکې وسله والو غلو د هغوی پر کور برید کړی و. حمید د هغې مرمۍ له امله چې د پوزې له خوا ته‌ره شوې وه، خپله ښۍ سترګه له لاسه ورکړې وه.

ژُخشانې چې سم پام نه و بیا یې وپوښتل: یعنې څه؟ سترګه یې له لاسه ورکړې؟ نور نه شي لیدلای؟

حکیم وویل: ما د هغوی له ګاونډیانو واورېدل. بېز په تصادفي توګه شوی دی. حمید هم د ټوپک مخې ته ولاړ و. د عیني شاهدانو په خبرۍ سره سم، مرمۍ د هغه د پوزې له خوا تېره شوې، خو فکر کوم د مرمۍ ځینې ټوټې یې ښۍ سترګې ته ننوتې وې او له همدې امله یې سترګه له لاسه ورکړې ده.

له مکافاتو عمل څخه غافل مه کېږه؛ غنم له غنمو راټولېږي او وربشې له وربشو.

ښایي خدای ربښتیا هم د ژُخشانې غږ اورېدلی و او د هغې مرستې ته راغلی و.

ښايي د مناسب فرصت په تمه و، څو حميد د خپلو کړنو سزا ووينې.

څوک پوهېږي، خدای زموږ لپاره څه په پام کې نيولي دي؟

خو هره پېښه چې رامنځته کېږي، بې له شکه په هغې کې زموږ لپاره کومه ښېګڼه پټه وي.

څو مياشتې وروسته، هغه وخت چې د ږخشانې ټوله کورنۍ د پسرلي هرکلي لپاره تلله، ږخشانې د تېر پسرلی په ياد، خپل زوی يې په غېږ کې ونيو او ورته يې وويل: هغو غوړېدلو ګلونو ته وګوره. که څه هم زما لپاره بدشګونه دي، خو د ښکلا، تازګي او ژوند پيغام راوړي.

ته هم هماغو ګلونو په څېر راته ګران يې. ته هغه نادره ګاڼه يې چې د ځمکې له تل څخه ترلاسه کېږي او له ډېرو ستونزو او بېلابېلو خراشونو وروسته بې‌سارې

ځلا پیدا کوي. غواړم دومره ښه انسان شې چې د خپل پلار بدۍ په خپل نیک چلند ووینځې او پاکې یې کړې.

**د ژباړې پای**

**2026/10/1**

د سکوت هینداره